سوسیالوجی د استاد په توګه په کار وګمارل شو او د ۱۹۷۹ ع کال د دسامبر تر پایه په دې وظیفه بوخت و .

افغانستان ته د روسانو له راتګ سره سم یې له هیواده د وتلو تابیا وکړه . له ۱۹۸۰ ع کال نه تر ۱۹۸۵ ع کال پورې یې د ملي اسلامي محاذ د مشاورا و د افغان اطلاعاتی مرکز د مؤسس غړي په توګه په دې مرکز کې کار کړی دی .

د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې له تأسیس سره سم د دې مؤسسی مرستیال وټاکل شو او د ۱۹۹٤ ع کال د مارچ تر پایه یې دا وظیفه درلوده . د دې وظیفی ترڅنګه دی د افغانستان د پوهنتونونو د استادانو د اتحادیی مشر ، سرپرست او مؤسس غړی هم و (۱۹۸۹ - ۱۹۹۱ ع) اوس هم د دغی اتحادیی مشر دی . ده امریکی ، فرانسی ، انګلستان ، بلجیم ، ډنمارک ، سویس او جرمنی ته سفرونه کړي دي . په پښتو ، دري ، آلمانی او انګریزي ژبو پوهیږي . پښتو لیکنې یې د خپلواکي مجله ، وفا اخبار ، قلم او نورو جهادي او پیښوري مطبوعاتو کې نشر دي . په WUFA مجله کې یې هم مقالی نشر شوې دي . په اجتماعی ، سیاسی او کله کله په فرهنګی مسایلو کې لیکنې کوي . د بیغیر د مؤسسې له لیارې یې د افغانانو د روزنې لپاره ځینې لارښودي آثار هم لیکلي دي ، چې ځینې یې په کتابي بڼه چاپ دي . د پښتنو ټولنیز او اقتصادي جوړښت نومی کتاب یې د پروفیسور امین په ملګرتیا لیکلی دی . ګوریلایی جنګ نومې ترجمه یې په ۱۹۸۲ ع کال افغان اطلاعاتی مرکز چاپ کړې ده .

نورستانی ، احمد یوسف :

دوکتور احمد یوسف نورستانی د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې له مؤسسو غړیو او د کابل پوهنتون له پخوانیو تدریسي منسوبینو څخه دی .

دی په ۱۹٤۸ ع = ۱۳۲۷ هـ ش د مرکزي نورستان په نشه گرام نومي کلي کې د احمد خان په کور کې زوکړی دی . متوسطې زده کړې یې په ۱۹٦۵ ع کال د رحمان بابا په لیسه کې پای ته رسولې دي . په ۱۹٦۹ع کال کې یې د کابل پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځي له تاریخ او جغرافیا څانگې څخه لیسانس اخیستی دی . په ۱۹۷۵ ع کال کې یې د امریکا د ایروزونا پوهنتون د انتروپولوجی له دیپارټمنت څخه په کلتوری انتروپالوجی کې ماستری ترلاسه کړې ده . ښاغلي نورستانی وروسته بیا د نوموړی پوهنتون د شرقی مطالعاتو په څانگه کې خپل تحصیلات د دوکتوری تر درجې پورې بشپړ کړي دي .

ښاغلی نورستانی په افغانستان کې د خپلو تحصیلاتو تر خاتمې وروسته د کابل پوهنتون په څانگو کې په کار گمارل شوی دی او بیا خارج ته د تحصیل لپاره ترتگ پورې د کابل پوهنتون د اجتماعی علومو د څانگې تدریسی غړی و (۱۹۷۱ - ۱۹۷۳) . په خارج کې د خپلو تحصیلاتو له قسمي بشپړولو وروسته دی له افغانانو سره د مرستی په خاطر په ۱۹۸۲ ع کال پیښور ته راغی او بیا نورستان ته ولاړ او له مجاهدینو سره یوځای و . د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنی په تأسیس کې یې برخه واخیسته ؛ د WUFA انگریزي مجلی مدیر او د کتونکی ډلې غړی او هم د خپلواکي مجلې د کتونکې ډلی غړی پاتی

شوی دی . د ده مورنۍ ژبه نورستانی ده ، په پښتو او دري ژبو ښه پوهېږي ؛ په دواړو ژبو یې کلتوري او اجتماعي لیکنې د دې ټولنې په خپرونو او نورو خپرونو کې چاپ دي . په انګریزی ژبه یې هم لیک کړی دی ، ډیر آثار یې په دې ژبه هم خپاره شوي دي ، او س د بیفیر مؤسسې له برجسته کارکنانو څخه دی .

ممتاز ، زین العابدین :

دوکتور زین العابدین ممتاز د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې له مؤسسو غړیو څخه دی او په دې مؤسسه کې یې د WUFA او خپلواکي مجلو د کتونکې دلې د غړي په حیث کارونه کړي دي .دی په ۱۹۴۲ - ۱۳۲۱ هـ ش کال د خوست په توابعو کې زوکړی دی ، د بکلوریا تعلیمی دوره یې په رحمان بابا لیسه کې تیره کړې ده (۱۹۴۹ - ۱۹۶۱ ع) او د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی څخه یې لیسانس اخیستی دی ، د M. A او Ph. D تحصیلی دورې یې د هندوستان د علیګړه په مسلم یونیورستی کې پای ته رسولې دي . په افغانستان کې یې په کابل پوهنتون ، داخله وزارت او د کندهار په ولایت کی دندې سرته رسولې دي . په ۱۹۸۳ ع کال له هیواده مهاجر شوی او دلته یې د مهاجرت په دوران کې د حزب اسلامی افغانستان په سیاسی دفتر کې هم کار کړی دی او یو وخت د پیښور پوهنتون په ایریا ستډي سنټر کې استاد هم و . بیایې په ځینو نورو د افغانانو له مرستندیو بیلا بیلو مؤسسو سره کارونه کړي دي . دی په پښتو ، دري او انګریزی ژبو لیک

او ترجمې کوي ، مقالې او مستقل آثار يې د آزاد افغانستان د ليکوالو ټولنې له خوا چاپ شوي دي او د مستقلو آثارو معرفي يې د دې اثر په دوهمه برخه کې راغلې ده .



صافي ، جګړن نصرالله :

جګړن نصرالله صافي د مسکين شاه خان زوی په ۱۹۴۸ ع = ۱۳۲۷ هـ ش کال د کونړونو په ولايت کې زوکړی دی .

ابتدايي زده کړې يې په کونړونو کې سرته رسولې دي ، متوسطې زده کړې يې د کابل په حربی ښوونځی کې پای ته ورسولی او لوړ نظامي تحصيلات يې د کابل د نظامي لوړو تحصيلاتو په مؤسساتو کې بشپړې کړې دي . په نظامي ساحه کې د تخصصی زده کړو په منظور په ۱۹۷۳ - ۱۹۷٤ ع کال کې مصر ته تللی دی او د ۱۹۷۶ - ۱۹۸۲ کلونو ترمنځ يې په شوروي اتحاد کې هم لوړې نظامي زده کړې وکړې .

دوه ځله د کمونست رژيم له خوا نيول شوی و ، بالاخره په ۱۹۸۲ ع کال پېښور ته مهاجر شو . جګړن صافي د افغانستان د ليکوالو ټولنې د مؤسسانو په ډله کې هم شامل دی . د دې مؤسسې د نشراتی ارګانونو د کتونکې ډلې غړی هم پاتی شوی دی . کله چې په اتحاديه کې د افغانستان د نظامي څېړنو څانګه جوړه شوه ، دې يې مشر و . دی په پښتو ، دری ، انګريزی او روسی ژبو پوهيږي . ليکنې او ترجمې يې د آزاد افغانستان د ليکوالو ټولنې د موقوتو او غيرموقوتو خپرونو له لياري چاپ دي .

ستانیزی ، شفق محمد نسیم :

محمد نسیم شفق ستانیزی د محمد سلیم زوی په ۱۹۵۳ ع - ۱۳۳۲ هـ ش د ننګرهار ولایت د سره رود په اولسوالی کې زوکړی دی . ابتدایي زده کړې یې په خپله سیمه کې او متوسطی یې په کندز کې سرته رسولې دي ، په ۱۳۵٦ هـش کال د کابل پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځي له پښتو څانګې فارغ شوی دی .

ترفراغت وروسته ښاغلی شفق د پښتو څیړنو په بین المللی مرکز کې په کار ګمارل شوی دی ، یوکال یې په دې مؤسسه کې کارو کړ ، بیا یې د پښتو ټولنې په مربوطاتو کې کار کړی دی . د ۱۹۸۰ ع کال تر اګستهه د دې مؤسسې غړی و ، البته دا وخت پښتو ټولنه د افغانستان د علومو اکادیمی جز وه . ښاغلی شفق په افغانستان کې او بیا د مهاجرت په دوران کې ځینې کورسونه هم ویلي دي او په بیلا بیلو برخو کې یې تصدیقونه او سندونه ترلاسه کړي دي . ښاغلي شفق د مهاجرت په دوران کې په علمي او فرهنګي مؤسسو کې کار کړی دی . د شهادت د اخبار د مرستیال ، د وحدت اسلامی اخبار د مدیر او د مجاهدینو د آژانش مرستیال په توګه هم پاتې شوی دی .

د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې د مؤسسې ډلې غړی او د ۱۹۸۵ - ۱۹۸٦ ع کالونو په جریان کې یې د دې ټولنې د خپلواکي مجلې کې کار کړی دی . ښاغلي شفق چې خپل کوم پیژندلیك د لیکوالو ټولنې ته سپارلی دی ، هلته یې په دې موده کې ځان د خپلواکي مدیر ښوولی دی . ښاغلی شفق په پښتو ، دري ، اردو ، انګریزي او عربی ژبو پوهیږي

ترجمې او ليکنې يې په کتابي شکل او هم په بيلا بيلو افغاني مطبوعاتو کې چاپ دي . دی د پښتو کيسه ليکونکی دی ، د لنډو کيسو دوې مجموعې يې چاپ دي چې يوه څاله او توپان (۱۹۸۱ ع) نوميږي او بله جونګړه او مانۍ (۱۹۹۱ ع) .

اکرام ، محمد آصف :

د آزاد افغانستان د ليکوالو ټولنې د مؤسسانو له ډلې څخه يو هم ښاغلی انجنير محمد آصف اکرام د محمد حسين خان زوی دی . اکرام په ۱۳۳۰ هـ ش کال په ننګرهار ولايت د مومند درې په غزګي کې زوکړی دی . ابتدايي او منځني تحصيلات يې په مومنډره او ننګرهار ليسه کې سرته رسولي دي . د متوسطو زده کړو په جريان کې يوکال د امريکې متحده ايالاتو ته هم استول شوی دی . په ۱۳۵٤ هـ ش کال د کابل پوهنتون له انجنيری پوهنځي څخه فارغ شوی دی .

ده په افغانستان کې دننه د پلان وزارت د احصائيې په رياست کې کار کړی او له همدې ځايه د لوړو تحصيلاتو لپاره هندوستان ته استول شوی دی . په ۱۳۵۸ هـ ش کال د کلکتې د احصائيې د انستيتوت د کمپيوتر پروګرامنګ له څانګې فارغ شو . کله چې اکرام په هند کې لوړې زده کړې پای ته ورسولې ، نو يې بيا مامورېت ونه کړ او په پېښور کې له خپلو مهاجرو افغانانو ورونو سره يوځای شو . له ۱۳۵۸ هـ ش کال نه تراوسه يې له بيلا بيلو خيريه ، فرهنګي او له افغانانو سره مرسته رسوونکو مؤسسو سره کارونه کړي دي .

دی په پښتو ، دري ، اردو او انگریزي ژبو پوهیږي ، لیکنې او ترجمې یې په مختلفو افغاني خپرونو کې چاپ دي . د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې د ارگانونو د کتونکې دلي د غړي په حیث یې هم کار کړی دی او له دې ټولنی سره همکار پاتې شوی دی . د ده لیکنې او ترجمې د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې په موقوتو خپرونو او د غیرموقوتو خپرونو په لړ کې چاپ شوې دي ، چې د مستقلو ترجمو معرفی یې د دې کتاب په دوهمه برخه کې راغلې ده .



ورشان ، عبدالحی :

عبدالحی ورشان د محمد رسول خان نورستانی زوی په ۱۹۵۶ = ۱۳۳۵ هـ ش کال د نـورستان په پچیگرام کی زوکړی دی . په وفا کې د دوی د ثبت شوو سوانحو له مخی دی په ۱۹۷۸ ع کال د کابل پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځی څخه فارغ شوی دی . د ۱۹۷۸ ع کال د جون له اتلسمی د همدې کال د اکتوبر ترشلمې پورې له رژیم سره د مخالفت له امله سیاسي بندي و . په ۱۹۷۹ ع کال د افغانستان د اطلاعاتو او کلتور د وزارت د فرهنگ خلق د مجلی مدیر و . بیا د ۱۹۸۰ ع کال د فروری په پنځمه پیښور ته مهاجر شو او د جهاد په لیکو کې ودرید .

ښاغلی ورشان د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې له مؤسسو غړیو او د دې مؤسسی له لومړیو همکارانو څخه دی . ډیره موده یې د دې ټولنې خپلواکې مجله چلولې ده . ښاغلی ورشان په نورستانی ، پښتو ، دري اردو ، چترالي او انگریزي ژبو پوهیږي . پښتو او دري لیکنې او آثار یې په افغاني مطبوعاتو او هم د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې په

خپرونو کی چاپ دي .

اریوبی ، محمد حکیم :

د افغانستان له سیاسي او اجتماعي شخصیتونو او زموږ د هیواد پخوانی دپلومات دی . محمد حکیم اریوبی د بازمحمد خان زوی په ۱۹۴۳ ع = ۱۳۲۲ـ هـ ش کال د پکتیا ولایت د اریوب په ځاځیو کې زوکړی دی . متوسط تحصیلات یې د حبیبیې په لیسه کې ؛ لوړ تحصیلات یې د کابل پوهنتون د سیاسی علومو پوهنځی کې سرته رسولي دي . د لوړو تخصصی زده کړو لپاره د امریکې متحده ایالاتو ته هم استول شوی دی .

په ۱۹۶۹ ع کال کی یې د کلورادو له پوهنتون څخه د M. A ډگري ترلاسه کړې ده . اریوبی په افغانستان کې د خارجه چارو د وزارت مامور و . د ۱۹۷۰ - ۱۹۷۳ کلونو په جریان کې په ملگرو ملتونو کې د افغانستان د دایمی سیاسي نماینده گی غړی و . په ۱۹۷٤ - ۱۹۷۸ ع کلونو کې یې په کراچي کې د افغاني جنرل کونسل وظیفه درلوده .

د ثور له کودتا لږ وروسته یې له رژیم سره مقاطعه وکړه او د جهاد له لیکو سره یوځای شو . ده د افغانستان ملي اسلامی محاذ له لارې د افغانستان د آزادي بخښونکی نهضت ټینگ ملاتړ کړی او د محاذ د مشر د سیاسی مشاور په توگه یې کار کړی دی .

اریوبی یو آزاد خیاله په وطن مین روښانفکر دی ، د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې له تأسیس سره سم یې له دې ټولنې سره هم خپله همکاري جاري ساتلې ده . د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنی خپرنیو ارگانونو ته یې په انگریزي ، پښتو او دري ژبو خپلی مقالی ورکړې دي

د دې اتحادیې له خوا له جوړو شویو سیمینارونو سره یې همکاري کړې ده .

له دې سربیره اریوبي یوه لنډه موده د WUFA انګریزي مجلې مدیر هم پاتې شوی دی . ښاغلی اریوبي اوس د افغانستان د تفاهم او ملي وحدت د شورې سرګرم کارکن دی .



کاکړ ، پوهاند دوکتور محمد حسن :

د افغانستان له معاصرو ښو مؤرخانو څخه یو هم پوهاند دوکتور محمد حسن کاکړ دی . دی د لغمان ولایت د مرکز د ډیوې د کلي په یوې منورې کورنۍ پورې مربوط فرد دی . کاکړ په ۱۹۳٤ = ۱۳۱۳ هـ ش کال په کابل کې زوکړی دی ، ابتدایي او متوسطې زده کړې یې په لغمان او د هیواد په نورو برخو کې سرته رسولې دي ، لوړې زده کړې یې د کابل پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځي کې او د M. Phil او Ph. D د دورې تحصیلات یې په بیلا بیلو وختونو کې په لندن کې تکمیل کړې دي .

ده د پښتو ټولنې د علمي غړي او د کابل مجلې د مدیر په توګه هم کار کړی دی او د کابل پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو د پوهنځي په تاریخ دیپارټمنت او هـم د دغه پوهنتون د تاریخ او فلسفې پوهنځي (بیا د اجتماعي علومو پوهنځی) کې استاد و . پوهاند کاکړ په ۱۹۸۱ع کال کې د پوهاند درجه ترلاسه کړه .

پوهاند دوکتور محمد حسن کاکړ ، په افغانستان د سیمې په هیوادونو او لویدیزه نړۍ کې د یوه نومیالي افغان مؤرخ په توګه پیژندل شوې څیره ده . ده خپل آثار ، په پښتو ، دري او انګریزي ژبو لیکلي دي . د ده د دغو دریو ژبو لیکنې او آثار نه یوازې په افغاني مطبوعاتو

کی چاپ شوي دي ، بلکی د سيمی اوnړي د هيوادونو په مطبوعاتو کې يې هم آثار او مقالې چاپ شوې دي .

په نولسمه پيړۍ کې د افغانستان د تاريخ د يوه څنګ د څېړنې په ارتباط د ده يو کتاب په انګريزی ژبه په ۱۹۷۱ ع کال په لاهور کې چاپ شو . د امير عبدالرحمن په زمانه کې د افغانستان جامعه او حکومت د دوی بل انګريزی کتاب دی ، چې په ۱۹۷۸ ع کال په تکساس کې چاپ شوی دی . د پروفيسور A. H کار اثر تاريخ څه ته وايی ؟ ده په پښتو ژباړلی او د کابل پوهنتون د ادبياتو او بشري علومو پوهنځی چاپ کړی دی . د الفنسټون د کابل سلطنت بيان هم ده په پښتو اړولی دی او د پښتو څېړنو د بين المللی مرکز له خوا په دوو ټوکونو کې خپور شوی دی . د لومړي توك په ژباړه کې ښاغلی نصرالله سوېمن هم ورسره مرسته کړې ده . افغان وافغانستان د ده بل مشهور اثر دی ، چې لومړی ځل په ۱۳۵۷ هـ ش کال د کابل پوهنتون له خوا چاپ شوی دی او بيا دلته په پيښور کې د آزاد افغانستان د ليکوالو ټولنې هم چاپ کړی دی .

پوهاند کاکړ د يو دموکرات او روښانفکر په توګه د ثور د کودتا او په تيره د شوروي د يرغل له شديدو مخالفانو څخه و . ده د رژيم پرضد د تعليميافته وو او استادانو د منظمولو لپاره د استادانو او محصلينو جوړه شوې پټه اتحاديه کې کار کاوه . د ۱۹۸۲ ع کال په اپريل کې ونيول شو او د پلچرخي زندان ته واچول شو . بالاخره د ۱۹۸۷ ع کال د ماچ په مياشت کې راخوشی شو ؛ د ۱۹۸۷ ع کال په دسمبر کې يې له خپلې کورنۍ سره پيښور ته مهاجرت وکړ .

په مهاجرت کې هم د افغان جهاد په پلوی په علمي او فرهنګي چارو مشغول شو . دی په پيښور کې د استوګنې په جريان کې د آزاد افغانستان د ليکوالو ټولنې همکار پاتی شوی دی او په دې ټولنه کې

د اساسنامې د اتمې مادې مطابق دا خبره څرګنده شوې ده ، چې د دې اتحادیې ټولې چارې به د اسلام د مقدس دین د اساساتو په رڼا کې د افغانانو ملي او عنعني ارزښتونو ته په پاملرنه سرته رسیږي . او دا مؤسسه به په دې لاندې برخو کې مبارزه کوي :

١ - دا ټولنه د دکتاتوری پرضد ده ، د هر دول جنایاتو او پر بشري حقوقو د تیري او سرغړاونې په وړاندې مبارزه کوي .

٢ - دا ټولنه د افغانستان د روسي کولو مخالفه وه او د هغې پرضد یې مبارزه کړې ده .

٣ - دې ټولنې د روسانو د تجاوز په وخت کې د روسانو او د رژیم د تبلیغاتي ماشین د زهرجنو تبلیغاتو د مخنیوی لپاره هر اړخیزې هڅې کړې دي .

٤ - د رژیم او روسانو د جنایاتو بربنډول ؛ افغانانو ا ونړیوالو ته یې ښوول .

٥ - دا ټولنه له هر ډول ژبنیو ، قومي ، سمتي او مذهبي تبعیضونو څخه ډډه کوي او د هغو پرضد ده .

٦ - ټولنه د دموکراسی ، پلورالیزم او په سیاسي ژوند کې د ټولو افغانانو د برخه اخیستنې پلوي ده .

٩ - ټولنه د افغانستان د ټولو ورونو قومونو ترمنځ د ورورۍ ، اتحاد او ملي وحدت د ټینګښت پلوي کوي .

١٠ - د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنه د افغانستان او افغانانو په کورنیو چارو کې د هر دول لاسوهنې پرضد مبارزه کوي .

دا وو د هغو اهدافو ځینې عمده ټکي چې دې ټولنې د خپل تأسیس په دې لسو کلونو کې د هغو د تحقق لپاره مبارزه کړې ده . د مؤسسی اهداف له ټولو جزئیاتو سره په اساسنامه کې توضیح شوي دي ، چې دري ترجمه او انګریزي متن یې د همدغې تاریخچې په پای کې ګرانو لوستونکو ته وړاندې کیږي .

يی کار هم کړی دی . د پوهاند کاکړ مستقل کتابونه او مقالې د دې ټولنې له لارې خپاره شوي دي . پوهاند کاکړ اوس د امریکې په متحده ایالاتو کې اوسي .

انځور ، زرین :

محمد زرین انځور د ښاغلي عبداللطیف خان گردیوال زوی ، د پښتو مبتکر کیسه لیکونکی او د معاصرو ادبیاتو ښه نقاد او د سیاسی ، اجتماعی او فرهنگی مسایلو تحلیلوونکی ، د ډیرو مؤلفاتو څښتن فرهنگی دی . دی په ۱۹۵۶ = ۱۳۳۵ هـ ش د ننگرهار په گردي غوث کی زوکری دی . ابتدایی او متوسطې زده کړې يې په خپله سیمه او جلال آباد کې سرته رسولې دي . د لوړو زده کړو لپاره په کابل پوهنتون کې شامل شوی دی او له ژورنالیزم څانگی يې لیسانس په ۱۳۵۶ هـ ش کال ترلاسه کړی دی . ده له پیښور پوهنتون نه په پښتو ادبیاتو کې M. A هم کړې ده .

د ښاغلي انځور لومړنی ماموریت د رادیو افغانستان د هنر او ادبیاتو په څانگه کې و . بیا له هغه ځایه د افغانستان د لیکوالو ټولنې ته راغی او په دې انجمن کې د ادبي څیړنو اونقد د څانگې مشر و . دی په ۱۹۸۹ ع = ۱۳۶۸ هـ ش کال پیښور ته رامهاجر شو او دلته بیا د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنه کې په کار وگمارل شو . دی لومړی د خپلواکي مجلې مرستیال و او بیا يې مدیر شو او د ۱۹۹۲ ترپایه یی دې ټولنې کې کار کاوه . دغه مهال خپلواکي سقوط شوه نو دی هم وزگار شو . په پیښور کې د اوسیدو په دوران کې انځور د افغانستان د کلتوري ټولنې غړی او د سپیدې مجلې په کتونکې ډله کې هم شامل

و . د ده له مستقلو آثارو څخه د کیسو څلور مجموعی : دا سرونه دا رسمونه ، شاړې کوڅې ، تروږمې او رموز د کلي پاڼې ؛ د ټولونې او تدوین په لړ کې یې دا لاندې آثار : د شریف دیوان ، اباسین کیسی کوي ، یون ، د مهدی داستانی کلیات ، کیمیای سعادت او خپلواک غزونه او د تحقیق او نقد په لړه کې یې دا کتابونه : د غزل په اننگو کی ، شعرونه او نقدونه ، د ځنځیرونو شاعر، د افغانستان د ژورنالیزم مخکښان ، د ثور په تراژیدی کې فرهنگ ادبیات او صدرخان خټك نومي رسایل او کتابونه چاپ شوي دي .

محب ، عبدالکریم :

عبدالکریم محب د مفتی عزیزالدین زوی د ۱۳۱۸ هـ ش کال شاوخوا د ننگرهار د چکنوریو په کلي کې زوکړی دی . زده کړې او تحصیلات یې په خپله کورنۍ ، سیمه ، کابل او هندوستان کې سرته رسولي دي .

د افغانستان په فرهنگي او قضایي ادارو کې یې کارونه کړي دي ، څه موده د افغانستان د پښتو څېړنو د بین المللی مرکز علمي غړی هم و . د چیني سیاحانو سفرنامې یې په پښتو ترجمه کړې دي ، چې یوه جزوه یې د پښتو څېړنو بین المللی مرکز او بله یې د کوشانی څېړنو بین المللی مرکز خپره کړې ده . د شعرونو مجموعه یې د وږمې په نامه پخوا په هندوستان کې چاپ شوې ده . ده د شپیتمو کلونو په جریان کې پیښور ته مهاجرت وکړ ؛ د مهاجرت په دوران کې یې څه موده د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنه کې هم کار کړی دی .

د دې ټولنې په موقوتو نشراتو ، لکه خپلواکی او WUFA کې یې کارونه کړي دي او ځینې آثار او ترجمې یې هم دې مؤسسې چاپ کړې دي .

موج ، میروس :

میرویس موج د عبدالصمد زوی په ۱۹۵۷ ع = ۱۳۳٦ هـ ش کال د افغانستان د سمنګانو د خُلم په ولسوالی کې زوکړی دی . لومړنی او منځنی زده کړې یې په خپله سیمه کې پای ته ورسولی . عالی تحصیلات یې د ماسټري تر درجې پورې د کابل پوهنتون د علومو په پوهنځي کې سرته رسولي دي . ښاغلی موج د علومو د پوهنځي د بیولوژی د ډیپارټمنټ تدریسی غړی او علمی رتبه یې پوهنیار وه .

ښاغلی موج په ۱۹۸۹ ع = ۱۳٦۸ هـ ش کال پیښور ته مهاجرت کړی و ، او دلته د استادانو د اتحادیې له غړیتوب سربیره یې د افغانستان د کلتوري ټولنی غړیتوب هم درلود ؛ د سپیدې مجلې په کتونکې ډله کې شامل و . د میرویس موج اصلی کار د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنه کې و ، او دلته د خپلواکي مجله کې په کار ګمارل شوی و . د مجلی د سقوط ۱۹۹۲ ع ترزمانې پورې یې په دې ټولنه کې کار کاوه .

ښاغلی موج سربیره پردې چې سایسندان دی او زده کړې یې هم په دې علمي څانګه کې کړې وې مګر له فرهنګ سره یې اورنی مینه درلوده . په فارسي ادبیاتو کې د مطالعې خاوند و ؛ په دې ارتباط د ده تحقیقي او تحلیلي او انتقادي لیکنې د سپیدې او خپلواکي په مجلو کې خپرې شوې دي . له دې سربیره موج د دري ژبې منلی شاعر هم دی او زموږ د هیواد د دري ژبی په ځوانو شاعرانو کې میرویس موج او د ده شعري مجموعې د خپلو نوښتونو له پلوه خپل ځانګړی ادبي او فکري مقام لري .

شیرزاد ، سید افضل :



سید افضل شیزاد ، د مبین خان زوی په ۱۹۵۸ ع = ۱۳۳۷ هـ ش کال د ننگرهار د خوگیانو د شیرزادو په سیمه کې زوکړی دی.

ده خپلې لومړنۍ او متوسطې زده کړې په خپله سیمه او د ننگرهار په ولایت کې سرته رسولې دي . لوړې زده کړې یې د لیسانس تر درجې پورې په ۱۹۸۰ ع کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي په انگریزي ډیپارټمنت کې بشپړې کړې دي . ترتحصیل وروسته د رحمان بابا په لیسه کې ښوونکی شو . څنگه چې شیرزاد د ښه لیکلو استعداد او د شعر ویلو هنري تومنه درلوده ، نوځکه یې د افغانستان د لیکوالو انجمن ته مخه وکړه او په دې انجمن کې مقرر شو او د ژوندون مجلې د پښتو ایډیشن مرستیال وټاکل شو .

شیرزاد په ۱۳۶۸ هـ ش کال کې پیښور ته مهاجرت وکړ اولږه موده وروسته د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنه کې په کار وگمارل شو او د WUFA مجلې د مرستیالۍ چارې وروسپارل شوې . ده څو کاله دلته کار وکړ . بیا یې له افغانانو سره د مرستو په ځینو خارجي مؤسساتو کې کار کاوه . شیرزاد په پښتو ، دري او انگریزي ژبو پوهیږي . د پښتو لیکوال او شاعر دی ، شعر یې په افغانستان کې د هنري ارزښتونو او فکري نوښتونو له اړخه مخ په بره روان و او ډیر امید کیده چې شیرزاد به د ځوانانو شاعرانو په ډله کې یو ځانگړی نوم او مقام ولري ؛ په پیښور کې یې ما شعرونه نه دي لیدلي نو ځکه څه پر نشم ویلای .



کاروان ، پیر محمد :

د پښتو نوښتګر او د نويو خيالونو پالونکی هنرمند شاعر پیر محمد کاروا ن د نور محمد خان زوی په ۱۳۳۸ ع = ۱۹۵۹ع کال د پکتيا ولايت د خوست د تڼيو په سيمه کې زوکړی دی . ابتدايي او متوسطې زده کړې يې د خوست او تڼيو په سيمه کې پای ته رسولې او په ۱۳۵۶ هـ ش کال د خوست له ميخانيکی ليسې فارغ شوی دی . کاروان په ۱۳۵۶ هـ ش کال د پلخمري د نساجی په فا بريکه کې فني مامور مقرر شو ؛ بيا د کندهار نساجی ته تبديل شو او هلته په کار بوخت و چې پر افغانستان باندې شوروي يرغل وکړ ، له دې واقعی سره سم يې کار پريښود او خپلې سيمې ته راغی . ده د تير جهاد په دوران کې هم په توره او هم په قلم له دښمن سره مبارزه کړې ده ؛ په ۱۹۹۱ ع کال کې د آزاد افغانستان د ليکوالو ټولنه کې په کار ګمارل شوی دی ، لومړی يې په خپلواکی مجله کې کار کاوه ، کله چې وفا اخبار تأسيس شو نو دی يې د مرستيال په توګه مقرر شو او د ۱۹۹٤ ع کال د اګسټ تر لومړۍ نيټی پورې يې دا وظيفه وه اوس د BBC په ډراما پراجيکټ کې کار کوي .

کاروان د پښتو ليکوال او شاعر دی ؛ لنډې کيسې يې ليکلې ، ادبی نقدونه يې کړي او اخباري مقالې يې هم چاپ شوې دي . اما له دې ټولو سره کاروان يو شاعر دی ، د پښتو په ځوان نسل کی د ډيرا اوچتې پايې شاعر ، دی په شعر کې نوي خيالونه ، نوي فکرونه په ډير عالي هنري انداز کې روزي . د کاروان د شعر مجموعه له ماښامه ترماښامه په ۱۹۹۲ ع کال کې چاپ شوې ده ، خو زما په پوهه د کاروان د وروستيو

دوو کلونو شعرونه هم د هنري متري او فکري خواوو او د جالبو سمبولو د انتخاب او د ښکلو تصویرونو د جوړولو له امله ډیر پرمختللي دي . د کاروان د شعر ژبه هم ډیره خوږه ، پسته او په رښتیا شاعرانه ده . دی د کلماتو په مرلو کې ساحرانه استعداد لري . د کاروان د شعر د بره تگ یو عمده دلیل دا دی ، چې دی مطالعه کوي . د پښتو ، فارسی او د نړۍ د شاعرانو اشعار لولي او همدا مطالعه یی د هنر په صیقلولو کې خپل ځانگړی اغیز لري . زما په عقیده د کاروان د شعر په ابتکاري خواوو او هنري ځانگړنو د یوې ځانته رسالی په حوصله کار کیدای شي .

عادل ، عبدالواجد :

عبدالواجد عادل د عبدالقدوس خان زوی ، په ۱۹۵۵ = ۱۳۳٤ هـ ش کال په لغمان کې زوکړی دی . زده کړې یې په خپله سیمه او د کابل په غازي لیسه ، بیا د کرنې په پوهنځي کې پای‌ته رسولې دي او د لوړو زده کړو لپاره د امریکې متحده ایالاتو ته هم استول شوی دی . دی د کابل پوهنتون د کرنې پوهنځي تدریسي غړی و . په ۱۳٦۸ هـ ش کال پیښور ته مهاجر شوی دی .

د مهاجرت په دې سلسله کې یې په نورو مؤسساتو کې د کارونو ترڅنگه د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې په انگریزي خپرني ارگان WUFA کی هم کار کړّدی . د ۱۹۹۲ ع کال ترپایه له دې ټولنې سره منسلک پاتې شوی دی .

امین ، غلام علی :



غلام علی امین په ۱۹۳۹ ع = ۱۳۱۸ هـ ش کال د پروان ولایت د پنجشیر په اولسوالی کې زوکړی دی . زده کړې یې د ماسټری تر درجې پورې په افغانستان او د مصر په الازهر پوهنتون کې سرته رسولې دي .

غلام علی امین د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځی د عربی دپارتمنت استاد دی . دی په ۱۹۸۹ = ۱۳۶۸ هـ ش کال پیښور ته مهاجر شو . ده د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنه کې هم کار کړی دی . کله چې د ۱۹۹۱ ع کال د نومبر په میاشت کې د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې د وفا اخبار جاري کړ نو دی یې د مدیر په حیث وټاکل شو .

ښاغلی غلام علی امین د ۱۹۹۲ ع کال د جون تراواسطو دا وظیفه درلوده ، دی په عربي او دري ژبو پوهیږي ؛ دري او عربی مقالی او مستقل آثار یې لیکلي دي ، چې ځینې یې چاپ شوي دي .

شینواری ، محمد سرور :

ښاغلی محمد سرور شینواری د افغانستان له پخوانیو پوځي افسرانو څخه دی . دی د عبدالقادر خان زوی په ۱۹۳۸ = ۱۳۱۷ هـ ش کال د ننگرهار ولایت د شینوارو د ده بالا د اولسوالۍ په مربوطاتو کې زوکړی دی .

ابتدایي زده کړې یې په ننگرهار کې ؛ منځنۍ په حربي ښوونځي او لوړې په حربي پوهنتون کې بشپړې کړې دي . د لوړو تخصصي زده

کړو لپاره د امریکی متحده ایالاتو او پخوانی شوروي اتحاد ته هم استول شوی دی .

د شینډنډ په هوایي قواوو ، د باګرام په هوایي قواوو او د خواجه رواش په هوایي قواوو کې یې پوځي دندې سرته رسولې دي . د جهاد په دوران کی پېښور ته مهاجر شوی دی . د مجاهدینو له تنظیمونو سره یې د پوځـي مشاور او د هـوایی قـواوو د متخصص په حیث کار کړی دی . په ۱۹۸۹ ع کال کې د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې د پوځي څېړنو په څانګه کـې په کار وګمارل شو او ترهغې چې دا څانګه فعاله وه ، دی دلته مقرر و . دی په پښتو ، دری ، اردو ، انګریزي او روسي ژبو پوهېږي .

جلال :

ښاغلی جلال د سید کمال خـــان زوی ، په ۱۹٤۰ = ۱۳۱۹ هـ ش کال په کابل کې زوکړی دی . لومړنۍ زده کړې یې د کابل د شیرپور په ښوونځي کې او منځنۍ یې په حربي ښوونځي او بیا حربی پوهنتون کې پای ته رسولې دي . ورپسې یې د ادبیاتو او بشري علومو د پوهنځي له تاریخ او جغرافیا ډیپارټمنت نه په ۱۹٦۰ ع کال کې لیسانس اخیستی دی ، وروسته له هغه وخته پنځلس کاله په حربي پوهنتون کې د جغرافیا ښوونکی و .

ښاغلی جلال امریکې ته هم تللی دی او د ۱۹۷۸ ع کال په سپتمبر

کې یې خپل هیواد پرېښی او رامهاجر شوی دی . د مهاجرت په دوران کې یې له جمعیت اسلامی سره کار کړی دی . په ۱۹۸۹ ع کال کې دی د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې د پوځي ښېړنو په څانګه کې مقرر شو، څو کاله یې په دې مؤسسه کې کار وکړ .

ښاغلی جلال په نورستاني ، دري ، پښتو او انګریزي ژبو پوهیږي ؛ په ځینو دغو ژبو یې لیکلي آثار او ترجمې متفرقې او مستقلې چاپ شوې دي .

شعیب ، محمدالله :



جګړن محمدالله شعیب د محمد شعیب خان زوی په ۱۳۲۹ = ۱۹۵۲ ع کال د کونړ په ولایت کې زوکړی دی . ابتدایي زده کړې یې په څوکړ کې او منځنۍ یې په حربي ښوونځي کې سرته ورسولې ؛ په ۱۹۷٤ ع کال له حربي پوهنتون نه فارغ شو .

له رژیم سره د مخالفت په وجه یې په ۱۹۸۲ = ۱۳٦۱ هـ ش کال وطن پرېښی او د مجاهدینو له لیکو سره یوځای شوی دی . ښاغلي جګړن محمدالله هم د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې د پوځي ښېړنو په څانګه کې کار کړی دی ، دی په پښتو او دری ژبو پوهیږي .

کونړی ، میرزامحمد :



میرزا محمد کونړی د سلطان محمد خان زوی په ۱۹٤۷ = ۱۳۲٦ هـ ش کال په کونړ کې زوکړی دی . ابتدایی زده کړې یی په کونړ کې او منځنۍ یې د رحمان بابا په

لیسه کی سرته رسولې دي ؛ په ۱۳۵۲ هـ ش کال د کابل پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځي د پښتو ژبی او ادبیاتو له څانګې فارغ شوی دی . ښاغلی کونړې ډیره موده رادیو افغانستان کې کار کړی دی ؛ په ۱۳٦۸ هـ ش کال پیښور ته مهاجر شوی دی . ده د مهاجرت په موده کې د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې په کتابخانه او د وفا جریده کې کار کړی دی . دی د ۱۹۹٤ ع کال ترپایه د وفا جریدې د کتونکې ډلې غړی او د جریدې مرستیال و . کونړی پښتو لیکوال دی . ډیرې مقالی یې په وفا جریده کې په خپل نامه او د الف ، ارسلا په مستعار نامه چاپ شوې دي .

هیوادمل ، زلمی :



زلمی هیوادمل د حاجي محمدامین زوی په ۱۳۲۸ هـ ش کال د لغمان د مرکز د علی خیلو په کلي کې زوکړی دی . ابتدایی او متوسطې زده کړې یې په لغمان کې وکړې . لوړې تحصیلات یې د ژورنالیزم په څانګه کې په کابل پوهنتون کې پای ته ورسول .

علمي رتب یې له ابتدا ترانتها (سرمحقق) پورې په پښتو ادبیاتو کې د څیړنو له لارې له پښتو ټولنې ترلاسه کړل . د M. A ډګري یې په فارسی ادبیاتو کې اخیستې ده . هیوادمل د افغانستان د علومو اکاډیمي علمی غړی و ؛ د افغانستان د لیکوالو انجمن (کابل) د مرکزي شوری غړیتوب یې هم درلود او د « کارمند شایسته‌ء فرهنګ » لقب ورته د افغانستان د لیکوالو انجمن له خوا ورکړل شوی و . د افغانستان د اطلاعاتو او کلتور وزارت په پیشنهاد د افغاستان د ملی آرشیف

په دې ځای کې زه دوو مسألوياده ته لازمي بولم او دا دي لپاره چې د آزاد افغانستان د ليکوالو ټولنې د تاريخچې لوستونکي د دې مؤسسې د اهدافو په ارتباط سره په جريان کې واقع شي :

١ - که څيرې موږ د آزاد افغانستان د ليکوالو ټولنې اهدافو ته په پاملرنه د دوی له خوا ترسره شوي کارونه ارزيابي کړو . دا کارونه د تأسيس له وخته بيا د ١٩٩٢ کال تر اواسطو پورې له افغان جهاد نه ننګه ؛ له متجاوزو يرغلګرو او لاس پوڅي رژيم سره ضديت ؛ د افغان جهاد د ارزښتونو او واقعيتونو څرګندول ، د مهاجرت په سيمو کې د افغان مهاجرينو د ژوند او کړاوونو انعکاس ؛ د افغانستان دننه د رژيم تر ولکې وتليو افغانانو وضع ، د رژيم تر تسلط لاندې افغانانو د ناخوالو تفسير او تحليل او دې ته ورته نور مسايل راچاپيروي . له بشري حقوقو حمايت ، د پرديتوب او بيګانه پرستۍ پرضد مبارزه ، د اسلام د مقدس دين پراساساتو پابندي او پرهغو ټينګار ؛ د يرغلګرو او د دوی د بهرنيو د دسيسو او توطئو بربنډول او په ډيرو لږو وسايلو د متجاوزينو او لاس پوڅو له تبليغاتي ماشين سره مبارزه او د هغوی د خپرونو د بې اثره کولو لپاره هر اړخيز کار هغه نور موضوعات دي ، چې اتحاديې په دې خطوطو کې هم فعاليت کړی دی . د ١٩٩٢ ع کال په اپريل کې پخواني رژيم سقوط وکړ او د تنظيمونو ائتلافي حکومت منځ ته راغی . د قدرت د ساتلو اولاس ته راوړلو پر سر جګړه ونښته ؛ د افغانستان د زياترو سيمو مادي او معنوي شتمنۍ لوټ شوې ؛ ټول هيواد او په زياته د هيواد پايتخت کابل د جنګ په لمبو کې وسوځيد او لولپه شو ؛ د خلکو شخصي شتمنۍ چور شوې ؛ پر بيت المال تالان ګډ شو ؛ د عام اولس پر حيثيت او شرف لوبې وشوې ؛ د ښارونو نسبي ثبات او امنيت دړې وړې شو ؛ د افغانستان اردو او امنيتي قواوې له منځه ولاړې او په هيواد کې

د عالي شورى غړيتوب هم ورکړل شوى و .

دى د پښتو او درى ژبو ليکوال دى ؛ په پښتو او دري ژبو يې مقالې او مستقل آثار په داخل او خارج کې چاپ شوي دي . د ادبپوهنې د ځينو اصلي او فرعي څانگو په خصوص کې تحقيق کوي .

د ۱۹۹۲ ع کال د مئ په مياشت کې مهاجر شو او د همدې کال د جون په ۲۰ مه د آزاد افغانستان د ليکوالو ټولنه کې په کار وگمارل شو او د وفا اخبار چلول ورو سپارل شول . دى تراوسه دا کار پرمخ بيايي ، کله چې د خپلواکي مجلې دوهمه دوره شروع شوه د دې مجلې د چلولو چارې ورو سپارل شوې .

الهام ، محمد رحيم :



د افغانستان له وتلو ژبپوهانو څخه يو هم استاد پوهاند محمد رحيم الهام دى . محمد رحيم الهام په ۱۹۳۱ = ۱۳۰۹ هـ ش کال په کابل کې زوکړى دى . ده ابتدايي او منځنۍ زده کړې د سرآسياب په ښوونځي او د کابل په غازي ليسه کې کړې دي . ليسانس يې د کابل پوهنتون د ادبياتو پوهنځي څخه ترلاسه کړى دي . د M. A دگري يې د امريکا د مسشيگن له پوهنتون څخه او د Ph. D دگري يې د تاجکستان له علومو اکاډيمى څخه لاسته راوړې ده .

استاد الهام د کابل پوهنتون استاد ، د کابل پوهنتون د وژمې او اجتماعي علوم نومو مجلو د مسؤول مدير او په وروستيو کلونو کې د افغانستان د علومو اکاډيمى د ژبو او ادبياتو مرکز د رئيس په توگه کارونه کړي دي .

استاد یوه موده د مساوات د جریدې مدیر هم و . ده د خپل علمي او فرهنګي فعالیت زیاته برخه په کابل پوهنتون کې تیره کړې ده او له ۱۹۸۵ نه را په دیخوا د افغانستان د علومو اکاډیمی ته راغی او د مهاجرت تروختته یې په دې مؤسسه کې کار کاوه . ده ته د افغانستان د علومو اکاډیمی د کاندید اکادمیسین علمی درجه هم ورکړل شوې وه او د افغانستان د لیکوالو انجمن (کابل) د مرکزي شوری غړی هم و .

د استاد مورنۍ ژبه پښتو ده ، خو په دری تر پښتو زیات پوهیږي په ژبپوهنه او د ادبپوهنی په تیوریکی مباحثو کې د دواړو ژبو مسلم استاد دی . ده په دواړو ژبو غنیمت آثار او ترجمې خپلو خلکو ته وړاندې کړې دي .

استاد په انګریزي مسلط پوهیږي ، ترجمې ترې کوي او لیك پر کوي ؛ عربي ژبه یې هم زده ده او د تحصیل په دوران کې یې د ژبپوهنې د کورسونو د بشپړتابه لپاره ځینې شرقي ژږې هم لوستې دي . د ده مقالې ، او مستقل آثار او ترجمې ډیری زیاتی دي ، خو څو مهم آثار یې دا دي :

۱ - د پنزل د پښتو ګرامر ترجمه ، د بچکا د پښتو خج څېړنه ترجمه ادبي مسألی ، تیوریهای ادبی ونقد ادبی ، علم زبان ، روش جدید درتحقیق دستور زبان دری او نور ډیر آثار ...

استاد د خپل پُرباره فرهنګي ژوند په جریان کې په سوونو شاګردان روزلي او د آثارو له لوستو یې د زرګونو لوستونکو زړونه او ذهنونه روښانه شوي دي . د پښتو څېړنو د نویو کیدو او عصري کیدو په لړه کې د ده هڅې هم د هیریدو نه دي .

استاد د ۱۹۹۲ ع کال په اګست کې پیښور ته رامهاجر شو او د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې د WUFA انګریزی مجلې د چلولو چارې وروسپارلې شوې ، د همدې ۱۹۹۲ ع کال ترپایه دی د لیکوالو ټولنې د WUFA مجلې مدیر و .

دعاگوی ، مهدی :

په دري ژبه کې د افغانستان نومیالی ډرامه لیکونکی ، ژورنالست او له فرهنگ او فرهنگیانو سره محشور شخص مهدی دعاگوی په ۱۹۴۲ – ۱۳۲۱ هـ ش کال په کابل کې زوکړی دی . زده کړې یې په نجات لیسه او آلمان کې پای ته رسولې دي . په ۱۹۶۵ ع = ۱۳۴۴ هـ ش کال د افغانستان د اطلاعاتو او کلتور د وزارت په مربوطاتو کې مقرر شوی دی او تر ۱۹۹۲ = ۱۳۷۱ هـ ش پورې یې د دغه وزارت په بیلا بیلو مؤسساتو کې له خبریالۍ نه نیولی تر مدیریت ، معاونیت او ریاست پورې چارې تر سره کړې دي . دی په دې دوران کې د کهول د مجلې او فرهنگ د مجلو د مسؤول مدیر په حیث پاتې شوی دی . د تیاتر ریاست ته هم رسیدلی دی او وروستی ماموریت یې د اطلاعاتو او کلتور وزارت د فرهنگ ریاست و . د افغانستان د هنرمندانو د اتحادیې برجسته غړی هم و . ده په سلگونو مقالی ، ژورنالستیک او ادبی آثار لیکلي او ترجمې یې کړې دي او هم یې د راډیو له ځینو خپرونو سره همکاري کړې ده ، ډیر ډرامونه یې د ستیج پرمخ تمثیل شوي او ځینو ډرامو یې لومړی هنري جایزه گټلی ده . له متفرقو مقالو ، ژورنالستیکو لیکونو او ډرامو سربیره د ده دغه لاندې آثار او ترجمې مستقلې چاپ شوې دي : پنج نمایشنامه ، پیرامون تیاتر ، فراز وفرود تیاتر در افغانستان ، گردن بند آلماس (داستان) دختر پادشاه جنگل (داستان) .

ښاغلی دعاگوی د ۱۹۹۲ ع کال په اګست کې پېښور ته رامهاجر شو . د ۱۹۹۳ ع کال د فروری میاشتې له پیله د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې د تألیف او ترجمې د څانګې مسؤول وټاکل شو او د همدې کال د دسمبر تر اوایلو یې په دې ټولنه کې کار وکړ .

شینواری ، عبدالوکیل :



عبدالوکیل شینواری د پښتو ځوان کیسه لیکونکی دی . دی د رحیم الدین خان زوی په ۱۳٤۳ هـ ش کال د ننګرهار ولایت د شینوارو په ده بالا کې زوکړی دی .

زده کړې یې تر دولسم ټولګی پورې په ننګرهار کې سرته رسولې دي . بیا د لوړو زده کړو لپاره پخوانی شوروي اتحاد ته تللی دی او پوځی ښوونه او روزنه کې یې پنځه کاله درس ویلی دی .

وطن ته له بیرته ستنیدو سره سم د پوځ په تعلیمی مؤسسو کې په کار وګمارل شو او د ۱۹۹۳ ع کال په جریان کې پېښور ته مهاجر شو . د همدې کال د اکتوبر په میاشت کې د وفا په جریده کې په ابتدایی ډول د خبریال په توګه ځینې چاری ورسپارل شوې . د ۱۹۹٤ ع کال د اګست په میاشت کې په رسمي ډول د جریدی خبریال شو ، تراوسه په دې کار مشغول دی .

شینواری ، په پښتو ، دری او روسي ژبو پوهیږي ؛ ډیري کیسې او ادبـی آثار یې له روسي پښتو ته اړولي دي . خپله هم ښې کیسې لیکي ؛ په وروستیو وختونو کې یې ژورنالیستیکو ژانرونو ته هم توجه کړې ده .

جانباز ، شهنواز :

شهنواز جانباز ، د جانباز خان زوی په ۱۹۵۰ = ۱۳۲۹ هـ ش د پکتیا د خوست د سیمې په مربوطاتو کې زوکړی دی . زده کړې یې په خوست او د رحمان بابا لیسه کې پای ته رسولي او په ۱۳۵۲ هـ ش کال د کابل پوهنتون د ادبیاتو د پوهنځي له ژورنالیزم څانگې فارغ شوی دی .

ښاغلی جانبازله پوهنځی تر فراغت وروسته څه موده د پامیر په جریده کې کار وکړ ؛ بیا د افغانستان د راډیو اوتلویزیون په مربوطاتو کې په کار وگمارل شو او په دې مؤسساتو کی دعمومی مدیریت چاری هم ورسپارل شوې وې . ده د راډیو تلویزیون د ماموریت په دوران کې د سوېې د لوړولو او د ځینو کورسونو د تعقیب لپاره خارجی هیوادونو ، لکه : آلمان ، هنگري او پخواني شوروي ته هم سفرونه کړي دي . ښاغلی جانباز په ۱۹۹۳ ع کال پیښورته مهاجر شوی دی ؛ د ۱۹۹۳ ع کال په جریان کې د افغانستان د تفاهم او ملي وحدت د شوری د بولقن د چلولو چارې وروسپارل شوې او د دې ترڅنگه د ۱۹۹۴ ع کال د مې په میاشت کې په دې اتحادیه کې د کتابونو د چاپ د چارو سمبالول وروسپارل شول او د دې پروژې په سرته رسیدلو سره یې دا وظیفه پای ته ورسیده .

مروت ، فضل الرحیم :



دوکتور فضل الرحیم مروت د نومیالي شاعر او لیکوال عبدالرحیم مجذوب زوی او د پښتونخوا د سیمې له حساسو تعلیمیافته پښتنو څخه دی .

دی په ۱۹۵۷ = ۱۳۳۶ هـ ش کال په لکي مروت کې زوکړی دی . زده کړې یې د Ph. D تر درجې پورې په خپله سیمه او پیښور پوهنتون کې بشپړې کړې دي او اوس د پیښور پوهنتون په مربوطو مؤسسو کی استاد دی . دی په پښتو او انگریزي ژبو لیك کوي ، د Ph. D تیسس یې په افغانستان کی د کمونیزم د انکشاف پرموضوع لیکلی دی . ښاغلی مروت له افغانانو سره ډېره مینه لري او خپله هیڅ ډول مرسته تري نه سپموي . ده د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې سره خپل روابط ساتلي دي اوتل ورسره همکار پاتی شوی دی . د ۱۹۹٤ ع کال د جولای له میاشتې په رسمي ډول په اتحادیه کې مقرر شوی دی او د The WUFA انگریزي مجلې د چلولو چارې پرمخ بیایی .

***   ***   ***

د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې په مسلکي او علمي څانگو کی له لوړو یادو شویو شخصیتونو سربیره ځینو نورو کسانو هم کار کړی دی ، چې دغه ښاغلی اوس په افغانستان او پاکستان نشته او په خارجی هیوادونو کې اوسي ، نوځکه مور ونه شول کولای چی د دوی لنډې سوانح دلته راوړو ، هغه ښاغلي دا دي :

ښاغلی سید فقیر علوي ، ښاغلی احسان آذری ، ښاغلی اختر محمد شینواری ، ښاغلی سمندر غوریانی ، ښاغلی ابراهیمی او ښاغلی عبدالعظیم نیازی . دغه راز ښاغلی غلام دستگیر شکیب هم په اتحادیه کې کار کړی دی ، چې هغه اوس ژوندی نه دی او سوانح یې د اتحادیی په دفتر کې نه وې .

(۲) اداري او تخنیکي همکاران :

د آزاد افغانستان لیکوالو ټولنه کې ډیرو کسانو په اداري او تخنیکي

څانګو کې هم کار کړی ، چې د دې تاریخچې د بشپړتابه پاره د دوی یادونه هم ضروري ده .

اکبر ، شاه محمد :



د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې له لومړنیو همکارانو څخه دی او د دې مؤسسې د اداري څانګو د کارونو په سمون کې یې نه ستړې کیدونکې هڅې کړې دي .

شاه محمد اکبر د حاجی عبدالغفور اکبر زوی په ۱۳٤۰ هـ ش = ۱۹۶۱ ع کال د کونړ د ولایت د مرکز د وټه پور په کلي کې زوکړی دی . ده خپلې زده کړې په سیمه او د رحمان بابا په لیسه کې بشپړې کړې او د ده د قلمي سوانحو له مخې د مهاجرت په دوران کې یې له وخت نه په استفاده په اسلامیاتو کې B. A کړې ده . ښاغلی شاه محمد اکبر په وروستیو کلونو کې د ټولنې د اداري چارو مسؤول و او د روان میلادي کال د جنوری تر ۱۲ مې نیټې پورې په بیلا بیلو وختونو کې دغه اداري چارې سرته رسولې دي . ده د ټولنې په کارونو کې د هیڅ ډول خسته ګۍ احساس نه دی کړی او د ټولنې ټول کارونه یې په خاصه مینه په خپل وخت اجرا کړي دي اوس په استرالیا کې اوسي .

اکبر ، نور محمد :

ښاغلی نور محمد اکبر د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې د خپرونو د چاپ په چارو کې ډیرې ستونزې ګاللې دي او د دې ټولنې په نورو اداري او تخنیکي چارو کې یې هم په اخلاص مرسته کړې ده .

دی د حاجی عبدالغفور اکبر زوی په ۱۳۴٦ هـ ش کال = ۱۹٦۷ ع د کونړ په وته پور کې زوکړی دی ؛ زده کړې یې تر دولسم ټولګي پورې کړې دي ؛ په ۱۹۸۵ ع کال په لیکوالو ټولنه کارته شامل شوی دی او تر ۱۹۹۱ ع کال پورې یې په دې مؤسسه کې په مینه کار کړی دی ، اوس په استرالیا کې اوسي .

سلام ، نجیب الله :



نجیب الله سلام د دې اتحادیی له پخوانیو تخنیکی همکارانو څخه دی . دی د امین ـ الله خان زوی په ۱۳۳٤ هـ ش کال په کابل کی زوکړی دی . ابتدایي او متوسطې او عالی زده کړی یی په کابل کې سرته رسولي او په ۱۳۵٦ هـ ش له انستیتوت اداره، صنعت نه فارغ شوی دی او بیا یې د افغانستان د اوبو او بریښنا په وزارت کې کار کاوه . دی په ۱۳٦۳ هـ ش کال پاکستان ته مهاجر شو او د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې له تأسیس سره سم په دې مؤسسه کې د تایپیست او بیا د کمپیوتر د کمپوزرپه توګه په کار ګمارل شوی دی او د WUFA انګریزی مجله یی کمپوز کړې ده . د ده له نامه سره د مجلی په یوه ګڼه کې Assistant Editor نوم هم لګیدلی دی . ده د ۱۹۹۲ کال ترپایه دلته کار کړی دی .

شمال خان :

شمال خان د جان ګل خان زوی په ۱۹٤٤ع کال په پیښور کې زوکړی دی ؛ زده کړې یې تر F. A پورې د دې سیمې په ښوونځیو کې کړې دی .

شمال خان په پښتو ، اردو او انگریزي ژبو پوهېږي ؛ په ۱۹۹۰ ع کال د آزاد افغانستان د لیکوالو په ټولنه کې په کار گمارل شو یدی . څه موده ټولنې د اداري چارو مسؤول و او د څو کالو را په دې خوا د ټولنې ارتباطي غړی دی . له نورو مؤسساتو په تیره د افغان مهاجرینو له کمشنرۍ سره د ټولنې روابط او چارې سمبالوي . ده د ټولنې له خوا د افغانانو لپاره د اجتماعي خدماتو په نړ سره کولو کې ډېرې منلې وهلې دي .

افضل ، زلمی :



زلمی افضل د عبدالمجید خان زوی د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې له اداري او تخنیکي همکارانو څخه دی . ښاغلی افضل په ۱۳٤٥ هـ ش کال په کابل کی زوکړی دی . زده کړې یې د لیسانس تر درجې پورې بشپړې کړې او څه اضافي زده کړې یې په تاشکند کې هم کړې دي . افضل په ۱۳٦۸ هـ ش کال د آزاد افغانستان د لیکوالو د ټولنې په اداري څانگو او کتابخانه کې کار کړی دی ، اوس هم په دې ټولنه کې کار کوي .

امین ، خلیل الله :

خلیل الله امین ، د امین الله خان زوی په ۱۹٥۱ ع = ۱۳۳۰ هـ ش کال په کابل کې زوکړی دی . ابتدایی او منځنۍ زده کړې یې په کابل او لغمان کې بشپړې کړې دي او لیسانس یې د کابل پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځی څخه اخیستی دی . دی په ۱۹۸۸ ع کال پیښور ته مهاجر شو او په

۱۹۸۹ ع کال په دې اتحادیه کې په کار وګمارل شو او د اتحادیې په کتابخانه کې یې څه موده کار کړی دی .

عبدالحی ، سحر :

عبدالحی سحر د محمد علم زوی په ۱۹۶۶ ع = ۱۳٤٥ هـ ش کال په کابل کی زوکړی دی ، زده کړې یې په کابل کې کړې دي او په ۱۹۸٤ ع کال د کابل له حبیبیې لیسې نه فارغ شو او په همدی کال پېښور ته مهاجر شو . ده دلته د کمپوزرۍ کورسونه ویلی دي او په ۱۹۹۱ ع کال په دې اتحادیه کی د کمپوزر په توګه ګمارل شوی دی ؛ د ۱۹۹۲ ع کال ترپایه یې دلته کار کړی دی . د خپلواکي مجلې ، وفا اخبار او کتابونو د کمپوز چاری یې سرته رسولې دي .

بابري ، محمد ظاهر :

محمد ظاهر بابری ، د محمد هاشم خان زوی په ۱۹۶۸ ع = ۱۳٤٦ هـ ش کال د ننګرهار ولایت د جلال آباد په ښار کې زیږېدلی دی . زده کړې یی د بکلوریا تر درجې پورې په ننګرهار کې ی ته رسولی دي ، بیا د ننګرهار پوهنتون په انجنیری پوهنځي کې شامل شو ، دی لا د لومړي صنف محصل و ، چې د رژیم له خوا ونیول شو ، د بند تر تیرولو وروسته پېښور ته مهاجر شو . کله چې د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې د ۱۹۹۱ ع کال په نومبر کې د وفا اخبار جاری کړ ، نو ښاغلی بابری یې د پیستنګ چاری سرته

قانون ، قانونيت او پوهنتني له يوې مخې كډه وكړه ؛ د توپك او زور برلاسي شروع شوه ؛ په زرهاوو افغانان ووژل شول ؛ په سلهاوو زره بې كوره شول ، د مهاجرتونو لړۍ بيا پيل شوه ؛ افغانان له يو داسې كړاو سره مخامخ شول ، چې د خلاصون لورى لودن ترې ورك شو .

په دغسې خطرناكو حالاتو او نازكو شرايطو كې د آزاد افغانستان د ليكوالو تولنه غلې پاته نه شوه د وسايلو له كموالي او لږوالي سره سره يې بيا هم راونغښتلى او د خپل منشور عمومي ټكو ته په پاملرنه د افغانستان د ځپل شويو او مظلومو خلكو په څنگ كې ودريده او د دوى له حقوقو نه د دفاع لار يې خپله كړه .

د آزاد افغانستان د ليكوالو ټولنې د ۱۹۹۲ ع كال له اواسطو را په ديخوا په خپلو نشراتو كې هم د اتحاديې مشر او د رهبرۍ د هيئت نورو غړيو په خپلو ليدنو ، كتنو ، راديويي ، تلويزيوني او مطبوعاتي مركو او كنفرانسونو كې له دغو لاندې ټكو نه په كلكه دفاع وكړه او د كار عمومي اهداف يې په اوسنيو شرايطو كې دا دي :

الف : د افغانستان له سالميت ، ملي حاكميت او ارضي تماميت نه دفاع .

ب : د هر ډول خارجي مداخله گرانو د لاسوهنو په زغرده غندنه .

ج : د افغان اولس د قومونو ، قبايلو ، سيمو ، اتنيكى او مذهبي گروپونو ترمنځ د وروروۍ د مزيو پياوړتيا ، او د ټولو ملي او اجتماعي حقوقو ته درناوى .

د : د افغانستان له ملي منافعو او لوړو گټو نه دفاع .

هـ : د افغانستان د لانجې لپاره د يو سوله ييز حل پيدا كول .

و : د افغانستان د مسألې په حل كې د ملگرو ملتونو له ونډې پلوى .

ز : د افغان د خاموش اكثريت د نظرياتو منعكسول .

ح : د جگړه ځپلو او بې كوره شويو آواره افغانانو له حقوقو دفاع .

رسولی . د ۱۹۹۲ ع کال په اکتوبر کې رسماً د وفا د پیسهر په حیث مقرر شو او تراوسه همدا کار پرمخ بیايي ، ښاغلی محمد ظاهر بابری د لیکوالی استعداد هم لري ، ځینی گزارشونه او مصاحبی او لنډې کیسې يې د وفا اخبار ، د جهاد هنداره نومی اخبار او ځینو نورو خپرونو کې چاپ شوې دي .

هاشمی ، سید حسین پاچا :

هاشمی سید حسین پاچا د شهید سید غلام حیدر پاچا زوی ؛ په ۱۳۴۳ هـ ش کال د ننگرهار د ولایت د هسکې مینې د اولسوالۍ د شپولې د میرانو په کلي کې زوکړی دی . ابتدايي او منځنۍ زده کړې يې د شپولې په منځني ښوونځي کې کړې دي ځرنگه چې دی په روحاني او متدینه کورنۍ کی لوی شوی و، د خپلې کورنۍ په خوښه د ننگرهار دنجم المدارس عالي مدرسې ته ولاړ او هلته يې خپلو زده کړو ته دوام ورکړ .

کله چې روسانو په گران هیواد یرغل وکړ او د ثور د منحوسی او کرغیړنې کودتا له امله پرافغانانو وطن سور اور شو ، د همدغو ناخوالو په وجه نوموړی پیښور ته رامهاجر شو او تعلیمات يې د ننگرهار په نجم-المدارس کی نیمگړي پاتی شول . دلته په پیښور کی له څو ورځو تیریدو وروسته د خپلو مجاهدینو ورونو سره یوځای د کابل ولایت د سروبی اولسوالی ته ولاړ او هلته يې د ځپر د میا رسول بابا په علاقه کې د ځپر په عمومی محاذ کی د روسانو په مقابل کې عملي جهاد پیل کړ چې په لومړیو دوو کلونو کې د مجاهد په صفت او بیا کله چې د ځپر د عمومي محاذ عمومي قوماندان مولوي محمد موسی نیازی پیښور ته

راغی نو سید حسین پاچا یې د دغه سنګر د عمومی سرپرست په توګه پرېښود او دوه کاله یې د دغه جهادي سنګر عمومي سرپرستي په غاړه درلوده .

سید حسین پاچا د خپل جهاد په څلور کلنه موده کې د روسانو سره په لویو او وړو جنګونو کې اشتراك کړی دی . د ورېښمین تنګي په مختلفو ساحو کې ، لکه : د مشعلې کمره ، کلمې ، بارکو کڅ پوسته ، د درګو اوبو ، د دبیلي ، د شیرخانی پوسته او د سروبي د اولسوالی په مختلفو ساحو کې چې د روسانو پوستې وې عملیات ترسره کړي او روسانو ته یې ډېر لوی درانه مالي او ځاني تاوانونه ور اړولي دي .

کله چې په ۱۳٦٤ هـ ش کال د دلوې په ۱۵ روسي قواوو په شپوله باندې یرغل وکړ، د ده پلار او د کورنۍ نور غړي یې شهیدان شول . دی تر دې وروسته پاکستان ته رامهاجر شو . دلته یې د هجرت په دوران کې خپل پاتې نیمګړې درسونه په دارالعلوم هاشمیه باړه خیبر ایجنسی کې ولوستل . د همدې اسلامی علومو د زده کړې په جریان کې یې د IRC د انګلیسي ژبې کورسونه او همدارنګه یې کمپیوټر کورسونه تعقیب کړل .

سید حسین پاچا د شهید فتح خانه په متوسطه کې د ښوونکی په صفت هم وظیفه اجرا کړې ده . بیا د افغانستان په کلتوري ټولنه کې د کمپوزر په حیث وګمارل شو ؛ د ۱۹۹۲ ع کال ترپایه یې په همغې مؤسسې کې کار وکړ . د ۱۹۹۳ ع کال د جنوری په ۳۰ مه نیټه د آزاد افغانستان د لیکوالو په ټولنه کې په کار ګمارل شوی دی ، چې تراوسه پورې د دې مؤسسی د کمپوز ټولې چارې سرته رسوي .

سید حسین پاچا د فرهنګی ژوند خاوند او له فرهنګیانو سره مینه لري ، له ډېرو فرهنګیانو سره یې مرستې کړې دي .

داوري ، غلام علی :



ډگروال غلام علی داوري د نجم الدین خان زوی ، په ۱۳۳۷ هـ ش کال د هلمند ولایت د کجکي د اولسوالی په چهارباغ کې زوکړی دی . زده کړې یې په خپله سیمه او د کابل په حربي ښوونځي او بیا د حربی پوهنتون د زرهدارو په پوهنځي کې سرته رسولي دي او بیا یی د افغانستان په پوځ کې خدمت ته ملا تړلی ده . د لوړو زده کړو لپاره خارج ته هم تللی دی . دی په ۱۹۹۲ ع کال مهاجر شوی او په ۱۹۹۳ ع کال په اتحادیه کې په تخنیکی او اداري کار گمارل شوی دی . دی په خپلو ورسپارل شویو وظیفو کې فعال او جدي سړی دی او خپلی ورسپارل شوې وظیفی په جدیت پرمخ بیایی .

یادونه :

له دغو ښاغلیو سربیره ښاغلیو : فاروق زمانی ، محمد هارون زمانی او آرین بهار هم د اتحادیې په اداري څانگو ، کتابخانه او ځینو تخنیکي برخو کې وظایف سرته رسولي دي ، څنگه چې د دوی سوانح د وفا په دفتر کې نه وې نوځکه موږ ونه کړای شول چې د دوی شرح حال په دې اثر کې درج کړو .

مرستندوي غړي ، افتخاري غړي او مشاوران :

په تیرو برخو کې تاسي د هغو ښاغلیو په باب څه ولوستل چې دلیکوالو تولنې ، په علمي ،مسلکي ، اداري او تخنیکي څانگو کې یې کارونه کړي دي .

خو دا باید هیره نه کړو ، چې له ټولنې سره د فعالیت په بیلابیلو مراحلو کې ځینو نورو ښاغلیو پوهانو هم مرستې کړې دي ، چې موږ یې د مرستو د درناوي په خاطر دلته نومونه یادوو :

۱ - پوهاند حمیدالله امین : د کابل پوهنتون د ادبیاتو او د بشري علومو پوهنځي پخوانی رئیس.پوهاند امین له وفا سره له قسمي مرستې سربیره د پروفیسور عبدالرسول امین په غیابت کې څو میاشتې د ټولنې د سرپرست په حیث هم کار کړی دی .

۲ - پوهاند احمدشاه جلال : د کابل پوهنتون د ساینس د پوهنځي ، پخواني رئیس ؛

۳ - پوهاند عبدالقهار ثمین : د کابل پوهنتون د کرنې پوهنځي پخوانی استاد ؛

٤ - دوکتور غلام رسول اکبر : د کابل پولي تخنیك ، پخوانی استاد ؛

۵ - ښاغلي خان پاچا : د کابل پوهنتون د ساینس د پوهنځي ، پخوانی استاد ؛

٦ - پوهنمل محمد عمر انورزی : د کرنې د پوهنځي پخوانی استاد ؛

۷ - پوهیالي سید محي الدین هاشمي (صادقمل) : د ننګرهار پوهنتون پخوانی استاد .

همدارنګه د لیکوالو ټولنه افتخاري غړي هم لري ، چې کله ناکله یې له دې موسسې او د موسسې له نشراتي ارګانونو سره قلمي مرستې کړې دي ، د اتحادیې د افتخاري غړیو نومونه دا دي :

۱ - فقید پروفیسور لویي دوپري (دامریکا متحده ایالات) ؛

۲ - ښاغلې نینسي دوپري (دامریکا متحده ایالات) ؛

۳ - انتونی ها یمن (بریتانیا) ، جمیله (هالینډ) .

د اتحادیې د دوو مشاورانو یادونه ما د دې رسالې په لومړي فصل

ماده ۳ :

اتحادیه هیئت رهبری دارد که مشتمل است بر :

۱ - رئیس موسسه

۲ - معاون رئیس

۳ - مدیر مجلهٔ سه ماههٔ WUFA (انگلیسی)

٤ - مدیر مجله دو ماههٔ خپلواکی به زبانهای دری وپشتو

٥ - مدیر اخبار هفته وار وفا به زبان دری وپشتو

٦ - مدیـر تألیف و ترجمه ، کـه وظیفهء تهیه و تـرجمهء کتب و رسالات دربارهء افغانستان را به پیش میبرد .

ماده٤ :

وفا دارای بورد مشورتی مشاورین وکمیتهء نظارت امور مالی میباشد .

ماده ٥ :

اتحادیهء دارای شخصیت حقوقی بوده ، در تمام معاملات وامور تمثیل این شخصیت به وسیلهء عضو ویا اعضای آن صورت گرفته میتواند .

ماده ٦ :

مقر اتحادیه در پشاور پاکستان قرار دارد . در صورت تأسیس یك دولت منتخب وتأمین صلح در افغانستان به کابل ویا حصص دگر کشور منتقل خواهد گردید . در صورت لزوم اتحادیه در سایر کشورهای خارجی نماینده گی ویا نماینده گیهایی تأسیس خواهد کرد .

ماده ۷:

شرایط عضویت در وفا :

الف - اعضای اصلی :

۱ - تابعیت افغانی داشته ، افغان باشد .

۲ - نویسنده شناخته شده در یکی از زبانهای افغانستان (پشتو

۸ - انتساب اعضای بخشهای اتحادیه را اجرا میدارد .

۹ - باید اعضای هیئت مشورتی و کمیتهء نظارت بر امور مالی را معرفی نماید .

فصل پنجم

هیئت مشورتی

مادهء ۲۰ :

هیئت مشورتی از دانشمندان شناخته شده در مطالعات اسلامی ، مطالعات افغانستان وسایر علوم ، که از خارج وفا معرفی گردیده باشند ، تشکیل میبابد .

مادهء ۲۱ :

اعضای هیئت مشورتی دربارهء هدف ملی افغانستان علاقمندی وموقف مثبت داشته باشند .

مادهء ۲۲ - وظایف هیئت مشورتی :

الف : باید هیئت رهبری را در تمام امور مربوطهء وفا به صورت منظم مشوره ورهنمایی نماید .

ب : در ارائه مقالات ، رسالات و آثار علمی خود ؛ جهت نشر با اتحادیه همکاری نماید .

فصل ششم

کمیتهء نظارت برامور مالی

مادهء ۲۳ :

هیئت نظارت بر امور مالی ، از چهار شخصیت شناخته شده ، که

خارج از اتحادیه معرفی گردیده باشد ، تشکیل میگردد .

مادهء ٢٤ :

وظایف کمیته نظارت بر امور مالی :

الف : باید هر شش ماه یکبار جلسه نماید .

ب : باید هزینه مالی اتحادیه را تصفیه حساب نماید .

مادهء ٢٥ :

شخص یا اشخاص ومؤسساتی که مبلغ ده هزار (١٠٠٠٠) روپیه ویا بیش از آن به اتحادیه اعطا مینمایند حق دارند تا مبلغ اعطا شده را از طریق کمیته نظارت بر امور مالی مورد بازرسی قرار دهند .

مادهء ٢٦ :

کمیتهء نظارت بر امور مالی باید راپور دو سالهء مخارج مالی را به رئیس ارائه نماید و او باید آن را به اعطا کننده گانی که مبلغ ده هزار روپیه ویا بیش از آن اعطا کرده اند ، ارسال نماید .

مادهء ٢٧ :

در صورتی که در اتحادیهء اختلاس رُخ دهد ، کمیتهء نظارت بر امور مالی باید جلسه اضطراری دایر نماید موضوع را تحقیق نموده مدارك را به رئیس اتحادیه ارائه نمایند. رئیس باید مسأله را بااعطا کننده گان در جریان بگذارد .

مادهء ٢٨ :

اگر کمیتهء نظارت بر امور مالی سؤ استفاده نقدی که توسط عضو یا اعضای اتحادیه صورت گرفته باشد ، در میبابد ، به رئیس راپور داده ، هیئت رهبری باید مقابل عضو ویا اعضای شامل آن تدابیر لازم اخذ نماید .

مادهء ٢٩ :

اعضای اتحادیه میتوانند به اساس دو ثلث آرأ اضافه ویا حذفی را در این اساسنامه معرفی بدارند .

Article Twenty Four:

Functions of OCFA:

a. Shall meet once every six months.
b. Shall audit financial expenditure of WUFA.

Article Twenty Five:

Person or persons and institutions donating Rs. 10,000 (Ten thousand) or more than the right to scrutinise the donated amount through OCFA.

Article Twenty Six:

The OCFA shall submit its bi-annual audit report to the director who shall circulate it to the donators who have donated Rs. 10, 000 or more then this amount.

Article Twenty Seven:

In case of any reported misappropriation in WUFA, the OCFA shall conduct an emergency meeting to investigate and submit its finding to the director of WUFA. The director shall circulate the issue to the donators who have donated Rs. 10, 000 or more.

Article Twenty Eight:

If OCFA finds out pecuniary misuses by any members of members of WUFA, OCFA reports to the director and the Editorial Board shall take proper action against the members or members involved.

Article Twenty Nine:

Members of WUFA shall introduce commission and omission in this Statute by two third majority vote.

symposiums on the Afghanistan Affairs.

g. Shall induct rules and regulations for the WUFA organisation functions of WUFA's office.

h. Shall determine the assignments of the members of WUFA's cells.

i. Shall nominate the members of Advisory Board and Observance Committee for Financial Affairs.

CHAPTER FIVE
Advisory Board (AB)

Article Twenty:
Advisory Board shall consist of known scholars in Islamic Studies, Afghanistan Studies and other sciences, nominated from outside WUFA.

Article Twenty One:
Members of Advisory Board shall have positive interest and devotion of the national cause of Afghanistan.

Article Twenty Two:
Functions of AB:

a. Should regularly advise and guide the Editorial Board all related matters of WUFA.

b. Should contribute their scholarly works articles, treatises, books etc. to WUFA for publication

CHAPTER SIX
Observance Committee for Financial Affairs (OCFA)

Article Twenty Three:
Observance Committee for Financial Affairs shall consist of four known personalities nominated from outside of WUFA.

a. Shall assist the director in his duties.
b. Shall perform the duties of director in his absence.

Article Eighteen:
Editorial Board (EB):

a. Editorial Board, comprising the Director, Deputy-director, Chief editor, Editors and the members of various sections of the union.

b. EB meets once a week to review and evaluate the progress of WUFA.

c. The quorum of the EB is the presence of its members' simple majority (half plus one).

d. Decisions shall be taken on simple majority. In case of tie votes, the vote of the chairman is regarded as the decisive one.

e. Each head of the respective section supervises and implements work plan of his department approved by EB.

Article Nineteen:
Functions of EB:

a. Shall strive to attract the cooperation of national and international scholars, writers and poets.

b. Shall solicit the evaluation of known authority or authorities on the works submitted to WUFA for publications.

c. Shall decide about the quality of the papers, copies, size, cover and price of the published works.

d. Shall collectively implement the general work plan of WUFA.

e. Shall introduce representative or representatives to participate in conferences, seminars and symposiums.

f. Shall convene talks, conferences, seminars, and

ضمیمه :

اساسنامهء اتحادیهء نویسنده گان افغانستان آزاد

این اساسنامه توسط اعضای اتحادیهء نویسنده گان افغانستان آزاد (وفا) به تاریخ اول جنوری سال ۱۹۸٤ به تصویب رسیده است .

فصل اول

احکام عمومی

ماده‌ء ۱ :

اتحادیهء نویسنده گان افغانستان آزاد (وفا) به تاریخ اول جنوری سال ۱۹۸٤ در پشاور تأسیس گردید .

ماده‌ء ۲ :

وفا یك ارگان مستقل ، غیرحزبی وغیر انتفاعی است ، متشکل از نویسنده گان ، شعراء ، علماء ، متخصصین و روشنفکران افغان .

levels for distribution inside Afghanistan and abroad.

Article Twelve:

WUFA shall present objective facts and figures on all aspects of Afghan society.

Article Thirteen:

WUFA shall invite renowned Afghan and foreign scholars and writers to write scholarly articles for the WUFA Journal.

Article Fourteen:

WUFA shall concentrate on the current developments in and around Afghanistan.

CHAPTER FOUR
Organisation

Article Fifteen:

Members of WUFA elect director, deputy director, chief editor and editors of the sections from the members of WUFA, by simple majority for two years.

Article Sixteen: Director:

a. Shall supervise all related affairs of WUFA.
b. Shall sign and receive the correspondence of WUFA.
c. Shall sign agreements and protocols on behalf of WUFA, after Editorial Board's consideration and final approval.
d. Shall convene the emergency meetings.
e. Shall sign the cheques of banks.
f. Shall lead the WUFA delegation.
g. Shall preside over the meeting.
h. Shall be removed by two third majority of WUFA's members.

Article Seventeen:

Deputy Director:

social, economic and legal issues pertaining to Afghanistan. These seminars were attended by scholars, intellectuals, researchers, politicians, journalists and teachers from Pakistan, Iran, Turkey, Afghanistan, USA, Germany, UK and Central Asia.

Besides these academic works, the WUFA extended support to the Afghan refugees in the field of education. From primary to university level, it has helped the needy Afghan refugees. The Union library is open for students, researchers and scholars of the area with valuable information about Afghanistan and its neighbours. The WUFA has assisted with other associations and organisations for conducting and organising local seminars.

Realising the problems and difficulties of the new refugees from Afghanistan, the Union extended full support by introducing them to different offices, and provided guidance and assistance in getting the identity cards from the Commissionerate of the Afghan refugees or UNHCR.

The detailed report of the WUFA covering its aims, objectives and activities is itself a contribution to the Afghan history. Despite the limitations we have tried our best to present it up to the mark. Last but not the least, I would like to thank Dr. Fazal-ur-Rahim Marwat, editor of The WUFA, the English journal of the Writers Union of Free Afghanistan for translation of the summary.

Zalm y Hewadmal

3. USIS, Peshawar, Pakistan.
4. The Asia Foundation, USA.
5. The Commissionerate for Afghan Refugees, Peshawar, Pakistan.
6. Danchurch Aid For Aid Human Rights, Denmark.

With the help, succor and economic assistance of the all above organisations and institutions, the WUFA has carried its programme successfully by publishing books and journals. It also organised seminars and symposiums with their cooperation and continue its other social-educational activities for the Afghan refugees.

Since its formation, the WUFA passed through different phases though it never deviated from its objective and goals. After April, 1992 most of NGOs and other humanitarian organisations curtailed their assistance programmes, naturally affecting the WUFA. The financial constraints curtailed its composition by reducing its staff and size. The WUFA closed down its translation and publication (Books) section, its bilingual Dari/Pashtu *Khapalwaki* in 1993. But with the efforts of its Director some of the publications restarted in 1994.

The Writers Union of Free Afghanistan in its ten years life has completed the following tasks:

Permanent Publications:
From 1980, the Writers Union of Free Afghanistan regularly published Pashtu/Dari journal *Khapalwaki* and English bi-monthly WUFA up to 1984. From 1991 onwards the WUFA is publishing another newspaper WAFA in Pashtu/Dari till present.

Casual Publications:
During its ten years, the WUFA has published 60 books and two photographic albums.

Seminars:
The WUFA has organised three international and regional seminars and 24 national seminars and symposiums. The seminars covered a wide range of topics such as political,

lunched a campaign against their policies and programmes. After the collapse of Najibullah and the rise of *Mujahideen Tanzimat* in Afghanistan, things once again changed in reverse. Internecine wars among the war lords and *quasi-Mujahideen* groups not only destroyed the capital but also looted all government and public property including the Kabul museum and libraries. More than ten thousand innocent people were killed in the infighting and compelled half a million population to migrate from capital to other safe areas of the country or to take refuge in the neighbouring countries.

In the changed political scenario, the Writers Union of Free Afghanistan once again accelerated its efforts against the new evil and openly condemned foreign interference in the internal affairs of Afghanistan. The WUFA is cooperating with the Human Rights Commission of the UN and actively supporting their cause for the protection of Human Rights in the war-torn Afghanistan. The Union has extended full support within its own limitation to all educated and helpless refugees who migrated to Peshawar. They were provided with ration cards, accommodation and helped them in getting their identity cards from the Afghan Commissionerate.

In the wake of new situation and political crisis in Afghanistan, the Writers Union of Free Afghanistan has diverted its attention towards current issues and problems and focused on the new developments inside Afghanistan and the political solution of the crisis acceptable to all segments of Afghan society. The WUFA has preached and propagated for peace, democracy, pluralism based on Islamic principles and Afghan traditions in the war-torn Afghanistan. It has extended full cooperation to international community and the UN peace process in Afghanistan.

The Writers Union of Free Afghanistan is obliged and grateful to the following organisations and agencies for their assistance and cooperation with the WUFA:

1. National Endowment for Democracy, USA.
2. Konrad Adenver Foundation, Germany.

were the founder members of the WUFA:

1. Professor Abdul Rasul Amin.
2. Professor Hakim Taniwal.
3. Dr. Muhmmad Haider.
4. Dr. Zainul Abadin Mumtaz.
5. Dr. Ahmad Yousf Nooristani.
6. Eng. Muhammad Asif Ikram.
7. Mr. Abdul Jabar Sabit.
8. Major Nasirullah Safi.
9. Mr. Asadullah Safi.
10. Mr. Hayatullah Zazai.
11. Mr. Shafiq Stanzai.
12. Mr. Abdul Hay Warshan.

The manifesto of the WUFA comprises six chapters having 29 articles. It was drafted in January 1984 though the union started its functioning from early 1985. It was formally inaugurated on March 21, 1980. It completes with success its ten years on March 21, 1995.

The details about the aims and objectives are in the written form in its manifesto. The WUFA is an independent, non-partisan and non-profit making union whose major source of income is subscriptions and donations and accepts only such financial assistance which does not in any way compromise its independence. The main objectives of the WUFA are as follows:

- To strive for paving the way for pluralism, participation, democracy and Human Rights in future Afghanistan based on Islamic values and national traditions;

- To struggle against Human Rights violations, discrimination and dictatorship in any form.

The WUFA in its ten years of existence tried to defend the interest of the Afghans and of Afghanistan by the dint of pen, books, press release, seminars and at international and regional forums.

From its inception, the WUFA worked against Soviet intervention in Afghanistan and its puppet regimes and

SUMMARY

The April 1978 coup d`etat, the chain of events, related action and reaction followed by the intervention of the Red Army of the erstwhile Soviet Union not only blemished and damaged the time tested centuries old institution of the Afghan society but also engulfing the country in an unending warfare. They tried to transform through different means and methods the tribal religious society into a Marxist ideological framework. The state terrorism, execution and suppressive policies of the Marxist regime compelled millions and millions of Afghans to leave their homeland and migrate to the neighbouring countries. Among these refugees some were educated elites-teachers, lawyers, judges, bureaucrats, doctors and engineers while a large number of them were illiterate, farmers, tenants and traders. In the beginning almost all left their country with the idea to launch a movement for the liberation of their homeland from the invading Red Army and their puppets. But in the neighbouring countries, they were suspected by the *Mujahideen quasi-leaders* and were not accommodated in their rank and file. The educated elites were abducted and persecuted by the armed groups and their views and opinion were neither allowed for publication or propaganda. Religious fervor was preferred, preached and propagated, over the enlightenment and free thinking. Consequently most of the educated Afghans living in Peshawar and other cities of Pakistan ultimately left for the Western countries.

But those who preferred to live despite all odds were engaged by different NGOs while others constantly resisted the pressure of the *Tanzimat* and formed their own unions and associations.

The Writers Union of Free Afghanistan (WUFA) is one of those organisation, associations and unions of the educated Afghans that were formed in Peshawar (Pakistan). A regular manifesto was drafted before the formation of the Writers Union of Free Afghanistan (WUFA). Following

ماده، ۳ :

اتحادیه هیئت رهبری دارد که مشتمل است بر :

۱ - رئیس موسسه

۲ - معاون رئیس

۳ - مدیر مجلهٔ سه ماههٔ WUFA (انگلیسی)

٤ - مدیر مجله دو ماههٔ خپلواکی به زبانهای دری وپشتو

۵ - مدیر اخبار هفته وار وفا به زبان دری وپشتو

٦ - مدیر تألیف و ترجمه ، که وظیفهء تهیه و ترجمهء کتب و رسالات دربارهء افغانستان را به پیش میبرد .

ماده، ٤ :

وفا دارای بورد مشورتی مشاورین وکمیتهء نظارت امور مالی میباشد .

ماده، ۵ :

اتحادیهء دارای شخصیت حقوقی بوده ، در تمام معاملات وامور تمثیل این شخصیت به وسیلهء عضو ویا اعضای آن صورت گرفته میتواند .

ماده، ٦ :

مقر اتحادیه در پشاور پاکستان قرار دارد . در صورت تأسیس یك دولت منتخب وتأمین صلح در افغانستان به کابل ویا حصص دگر کشور منتقل خواهد گردید . در صورت لزوم اتحادیه در سایر کشورهای خارجی نماینده گی ویا نماینده گیهایی تأسیس خواهد کرد .

ماده، ۷:

شرایط عضویت در وفا :

الف - اعضای اصلی :

۱ - تابعیت افغانی داشته ، افغان باشد .

۲ - نویسنده شناخته شده در یکی از زبانهای افغانستان (پشتو

ARIC
B
1.237
HEW
4801

Series NO: 81

On the Occasion of the 10 th Anniversary Of the Writers Union Of Free Afghanistan (WUFA)
(1985-1995)

Short History of the Writers union of Free Afghanistan

by:

Zalmay Hewad mal

The Writers Union Of Free Afghanistan
1995

یا دری) باشد .

۳ - علاقمند به جنبش آزادیبخش ملت افغان بوده ، به اهداف جنبش آزادیبخش ملی افغان وفادار باشد .

٤ - علیه اهداف جنبش آزادیبخش ملی نبوده ، ارتباطی باشورویها نداشته باشد .

۵ - حداقل به یکی از لسانهای خارجی تسلط داشته باشد .

٦ - مرتکب جرمی در برابر منابع مردمی ، فردی ، گروهی وملی افغانستان نگردیده باشد .

۷ - کمونست نبوده ، عضو فرکسیونهای خلق وپرچم نباشد .

ب - عضویت افتخاری برای خارجیان :

۱ - باید با جنبش آزادیبخش افغان همدردی داشته باشد .

۲ - باید دانشمند ونویسنده‌ء شناخته شده باشد .

۳ - برای تحقق اهداف جنبش افغانها در سطح ملی وبین المللی سهم گرفته باشد .

٤ - چندین مقاله ونبشته به نشرات اتحادیه سپرده باشد .

فصل دوم

ماده‌ء ۸ :

اتحادیه به اساس اصول دین مقدس اسلام وارزشهای اصیل اجتماعی وعنعنات ملی افغانها بنا یافته است .

ماده‌ء ۹ :

اتحادیه برضد مسایل زیرین مبارزه مینماید :

۱ - دکتاتوری ، جنایات وتخطی از حقوق بشر به هر شکلی که باشد .

۲ - تجاوز شورویها تا وقت آزادی کامل افغانستان از دست رژیم کمونست واشغالگران شوروی .

were the founder members of the WUFA:

1. Professor Abdul Rasul Amin.
2. Professor Hakim Taniwal.
3. Dr. Muhmmad Haider.
4. Dr. Zainul Abadin Mumtaz.
5. Dr. Ahmad Yousf Nooristani.
6. Eng. Muhammad Asif Ikram.
7. Mr. Abdul Jabar Sabit.
8. Major Nasirullah Safi.
9. Mr. Asadullah Safi.
10. Mr. Hayatullah Zazai.
11. Mr. Shafiq Stanzai.
12. Mr. Abdul Hay Warshan.

The manifesto of the WUFA comprises six chapters having 29 articles. It was drafted in January 1984 though the union started its functioning from early 1985. It was formally inaugurated on March 21, 1980. It completes with success its ten years on March 21, 1995.

The details about the aims and objectives are in the written form in its manifesto. The WUFA is an independent, non-partisan and non-profit making union whose major source of income is subscriptions and donations and accepts only such financial assistance which does not in any way compromise its independence. The main objectives of the WUFA are as follows:

- To strive for paving the way for pluralism, participation, democracy and Human Rights in future Afghanistan based on Islamic values and national traditions;

- To struggle against Human Rights violations, discrimination and dictatorship in any form.

The WUFA in its ten years of existence tried to defend the interest of the Afghans and of Afghanistan by the dint of pen, books, press release, seminars and at international and regional forums.

From its inception, the WUFA worked against Soviet intervention in Afghanistan and its puppet regimes and

المللی وجهان آزاد تا فعالانه در امر بازسازی تعلیمی ، اقتصادی ، اجتماعی و کلتوری ، سیاسی و سایـر تأسیسات تباه شدهء افغانستان سهم بگیرند .

۱۰ - ایجاد شرایط مناسب جهت متفق ساختن قوماندانان میانه رو ، بزرگان اقوام ، علمای دینی ، رهبران روحانی وقشر تعلیمیافته به روی یك پلاتفورم مشترك تا برای وحدت ، تمامیت ، استقلال وحاکمیت ملی افغانستان کار کنند .

۱۱ - برقراری تماسهای نزدیك با افغانهای همفکر وافراد خارجی ، گروهها ، انجمنها ، اتحادیه ها ، احزاب سیاسی وسازمانها ، مؤسسات وغیره جهت تبادل افکار براساس منافع متقابل وهمکاری به خاطر نظام عادلانه در افغانستان .

فصل سوم
وظایف

مادهء ۱۱ :

اتحادیهء نویسنده گان باید مواد مورد علاقه را به سطوح مختلف برای توزیع در داخل وخارج افغانستان ، انتشار دهد .

مادهء ۱۲ :

اتحادیهء نویسنده گان افغانستان آزاد باید واقعیتها وچهره های عینی را در تمام جنبه های جامعهء افغانی معرفی نماید .

مادهء ۱۳ :

اتحادیهء نویسنده گان باید افغانهای مشهور، دانشمندان و نویسنده گان خارجی را جهت نوشتن مقالات علمی برای مجله WUFA دعوت نمایند .

ضمیمه :

اساسنامهء اتحادیهء نویسنده گان افغانستان آزاد

این اساسنامه توسط اعضای اتحادیهء نویسنده گان افغانستان آزاد (وفا) به تاریخ اول جنوری سال ١٩٨٤ به تصویب رسیده است .

فصل اول
احکام عمومی

مادهء ١ :

اتحادیهء نویسنده گان افغانستان آزاد (وفا) به تاریخ اول جنوری سال ١٩٨٤ در پشاور تأسیس گردید .

مادهء ٢ :

وفا یك ارگان مستقل ، غیرحزبی وغیر انتفاعی است ، متشکل از نویسنده گان ، شعراء ، علماء ، متخصصین و روشنفکران افغان .

کې کړې وه ، خو اوس چې د اتحادیې د بین المللي مشاورانو یادونه کوو ، لازمه بولم ، چې د اتحادیې د دې ځای (پیښور) او بین المللی مشاورانو ټولو نومونه دلته راوړم :

١ - پروفیسور دوکتور عظمت حیات خـــان : د پیښور پوهنتون د ایریا سټډي سنټر مشر ؛

٢ - پروفیسور عبدالله جان خلیل : د پیښور پوهنتون د ایریا سټډي سنټر استاد ؛

٣ - دوکتور رحمت ربيْ جان ځیرکیار : د کابل پوهنتون پخوانی استاد ؛

٤ - پروفیسور دوکتور نیك محمد کامران ٠

دا دوه وروستي ښاغلي اوس په امریکا کې اوسي او د اتحادیې بین - المللي مشاوران دي .

ط : د افغانانو پر بشري حقوقو د تيري او تجاوز پرضد د آواز اوچتول .

ی : د افغاني ميرمنو د غمځپلي حالت د تصويرونو وړاندې کول .

ك : د افغانستان د بيا جوړښي لپاره د نظرياتو راټولول او خپرول .

ل : په افغانستان کې د مخدره موادو د توليد او اعتيا ر د مخنيوي لپا ره د نظريو او پيشنهادونو وړاندې کول .

۲ - بله خبره چې زه دلته مطرح کوم دا ده ، چې د مؤسسی د نامه ، اهدافو او فعاليتونو په ارتباط بنايی ځينی کسان يو وخت ځينې پوښتنی مطرح کړي . د دغسې احتمالي پوښتنو په اړه بايد ځينې توضيحي څرگندونې هم وړاندې شي او دا ځکه چې د مؤسسی نوم د ليکوالو اتحاديه ده ، خو کوم کارونه او کوم فعاليتونه چې دې مؤسسې کړي او يا يې تراوسه سرته رسوي ، د دغسې نامه لرونکو مؤسسو په اهدافو او د کار په ساحو کې چندان نه راځي .

ماته خپله د ليکوالو او شاعرانو دوه ډوله اتحاديې معلومې دي ، يو هغه اتحاديې وې چې په پخواني شوروي او د هغه په اقمارو کې جوړې دې ، دا اتحاديې خپله رژيمونو جوړولې ، کار کوونکو ته يې ټول امتيازات د رژيمونو له خوا ورکول کيدل .

بل ډول هغه اتحاديې دي ، چې په اکثرو هيوادونو کې د ليکوالو او شاعرانو له خوا په داوطلبانه ډول جوړيږي او عمده هدف يې د ليکوالو او شاعرانو له حقوقو او صنفي غوښتنو دفاع وي اکثر ادبي او فرهنگي چارې پرمخ بيايی او د يو هيواد د ژبو او فرهنگونو د ودې او روزنې او د شاعرانو او ليکوالو د پالنې لپاره کار کوي . خو زموږ د آزاد افغانستان د ليکوالو ټولنه يوازې د ادب او فرهنگ د ودې او له شاعر او ليکوال سره د مرستې په خاطر نه ده جوړه شوې . نامه ته په پاملرنه بايد د آزاد افغانسان د ليکوالو ټولنه هم يوه دغسې ټولنه او اتحاديه واى ، لکه

ځنګه په نورو ځایونو کې جوړ یدي . د دې اتحادیې د جوړښت په باب استدلال کیږي چې کله د اتحادیې مؤسسینو په کوم ځای او په کوم وخت کې دا اتحادیه جوړوله ، د لیکوال او شاعر له موضوع نه د افغانستان موضوع مهمه او د مخه وه ؛ لیکوال او شاعر خو د افغانستان جزء و . هغه وخت یو سل او پنځوس زره پردي عسکر په هیواد کې میشت وو او افغانستان اشغال شوی و ، جهاد ښه په درز کې روان و رژیم پرخلکو او سیمو بمباري کولې ، په افغانستان کې دننه ، وهل ، تړل او وژل روان وو؛ افغان کلیوال او ښاریان د رژیم او پردو عسکرو د مظالمو له لاسه په کاروانونو پردیو هیوادونو ته تلل ، نو په دغسې شرایطو کې دا ضروري بریښیدله چې د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنه د فرهنګ ترځنګه د افغانستان رواني مسألې او پر جامعه مسلط ناورین ته توجه وکړي ؛ دا کار یې د جهاد په دوران کې هم له خپلې وسې سره سم سرته ورساوه او ترجهاد وروسته یې هم دې خواته توجه وکړه او ترننه همدې پالیسۍ ته دوام ورکوي . اما له دې ټولو خبرو سره سره د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې یو مخ فرهنګي مسایلو ته شا نه ده ګرځولې ، بلکې په خپلو موقوتو نشراتو کې یې د فرهنګي مسایلو ، ادبي څیړنو او ادبیاتو نشر ته ځای ورکړی دی ، هم یې ادبي او فرهنګي مستقل آثار خپاره کړي دي ؛ د فرهنګي سیمینارونو په جوړولو کې یې برخه اخیستې ده ؛ د شاعرانو او ادبي لیکوالو د پالنې په لاره کې یې هم څه کارونه کړي دي . بنا پر دې د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې کارونه د ادب او فرهنګ پالنې په برخه کې هم د هیرولونه دي ، په راتلونکو فصلونو کې به په خپلو خپلو برخو کې د اتحادیې فرهنګي کارونو ته هم اشاره وشي .

(۵) د اتحادیې انکشافي پړاوونه :

تاسې د مخه ولوستل چې د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنه څنګه جوړه شوه ؟ لومړني تشکیلات یې څنګه وو ؟ کله چې اتحادیه جوړه شوه ، نو خپلو مالي امکاناتو ته په پاملرنه یې د یوه جوړښت په چوکاټ کې په کار پیل وکړ . چې کارونه یې خلکو ته ورسیدل او دا ښکاره شوه چې دا مؤسسه او د دې مؤسسې فعالین یو څه کولای شي ، نو مرستې ورسره وشوې ؛ د کار کوونکو شمیر یې زیات شو او څه نوي تشکیلات هم پکې وراضافه شول . دې مؤسسې له ۱۹۸۵ ع کال نه د ۱۹۹۲ ع کال تر پایه پورې له خپلو لومړنیو څانګو سربیره ځینې نورې څانګې هم پیدا کړې ، لکه د افغانستان د نظامي وضعې او په هیواد کې د نظامي تحولاتو د تحلیل او ارزیابۍ په خاطر د نظامي څیړنو یوه حانګه پکې فعاله شوه ، چې څو تنو نظامیانو کار پکې کاوه . دغه راز مؤسسې د خپلو نشراتي فعالیتونو ترڅنګه د افغانستان د مسایلو په ارتباط د سیمینارونو او کنفرانسونو او سیمپوزیمونو د جوړولو خواته هم توجه وکړه او د دې کار د سمبالښت لپاره د سیمینارونو یوه څانګه هم په اتحادیه کې جوړه شوه .

په پاکستان کې دننه له کمشنرۍ او نورو مؤسساتو سره د اتحادیې د ارتباط د ټینګښت او دغسې ارتباطي کارونو د اجرا په خاطر د خارجي ارتباط یوې کوچنۍ څانګې د مؤسسې په چوکاټ کې په فعالیت پیل وکړ .

د ۱۹۹۱ ع کال په نومبر کې اتحادیه مؤفقه شوه چې د خپلو لومړنیو تشکیلاتو د بشپړتابه په منظور د اتحادیې دننه د یو پنځلس ورځني اخبار نشریدل هم پیل کړي .

په همدې موده کې اتحادیې وکولای شول چې یوه کتابخانه هم جوړه

کړي ؛ د ۱۹۹۲ ع کال ترپایه اتحادیې له رئیس او معاون سربیره ، د خپلواکي مجلې څانګه ، د WUFA مجلې څانګه ، د کتابخانې او اداري څانګې درلودې . د نظامیانو لپاره چې کومه څانګه په ۱۹۸۹ ع کال کې جوړه شوې وه ، وروسته یې د ضرورتونو د له منځه تللو سره سم وتړل شوه .

د ۱۹۹۲ ع کال د اپریل په میاشت کې د افغانستان د پخواني رژیم سقوط او هیواد ته د تنظیمونو ورتګ د باندنۍ نړۍ او د غیردولتي مؤسساتو مرستو ورکوونکو مؤسساتو ته دا افاده ورکړه ، چې ګویا په افغانستان کې هر څه پای ته ورسیدل ؛ نو په همدې اساس د همدغه ۱۹۹۲ ع کال په پای کې په زیاترو افغاني غیر دولتي موسساتو مرستې بندې شوې ، چې په دې لړ کې د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنه هم خوندي پاته نشوه او د مرستو د بندیز په سلسله کی د WUFA او خپلواکي مجلو دواړو سقوط وکړ ، د کنفرانسونو څانګه وتړل شوه او د اتحادیې پرسونل لږ کړای شو .

په ۱۹۹۳ ع کال په اتحادیه کې یوازې د وفا اخبار جاري و او د کتابونو څانګه یې هم نیم ژواندې پاتې وه . خو د اتحادیی رهبري زیار وایست چې اتحادیه له سقوطه وژغوري ، د مرستو د جلبولو لپاره یې خپلې هلې ځلې ګړندۍ کړې او د همدغو هڅو په نتیجه کې اتحادیه ژوندۍ پاتې شوه .

(٦) د اتحادیې اوسنۍ بڼه :

اوس د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنه کې دا لاندې څانګې فعالې دي :

۱ - د وفا اخبار په هفته کې یوځل چاپیږي .

۲ - د خپلواکۍ مجله : دا مجله تر کابو یونیم کلن سقوط وروسته

بیا چاپ شوه ؛ مجله دا ځل درې میاشتنۍ چاپیږي . د وسایلو او امکاناتو د کمبود له امله مجله او اخبار له یوې ځانګې راوځي .

۳ - د کتابونو د چاپ ځانګه هم فعاله ده .

٤ - د WUFA انګریزي مجله هم د ۱۹۹۲ ع کال په پای کی سقوط شوه ، خو اتحادیی وکولای شول ، چی په ۱۹۹٤ ع کال کې د WUFA مجلی د ځینو تصادفي ګڼو چاپ ته هم زمینه مساعده کړي .

۵ - اداري ځانګه .

٦ - کتابخانه .

۷ - د ارتباط ځانګه .

اتحادیه په همدې بڼه خپل فعالیت ته دوام ورکوي او څه چې یې په واك کې دي همدغو امکاناتو ته په پاملرنه خپلې چارې سمبالوي .

(۷) د تمویل منابع :

کله چې د آزاد افغانستان د لیکوالو اتحادیه نوې جوړه شوه ، د تمویل هیڅ منبع یې نه درلوده . د اتحادیی د رهبري هیئت او ځینو مؤسسانو د کار د روانولو لپاره په خپلو شخصي پیسو د اتحادیی لومړني کارونه پیل کړل . اتحادیې سامان او لوازم نه درلودل ؛ په ابتدایي بڼه یې په ډیرو لږو وسایلو خپل کارونه شروع کړي وو . کله چې د اتحادیې کارونه میدان ته راووتل ؛ د خپلواکي او WUFA مجلې چاپ او خپرې شوې ، نو افغانانو ته مرسته رسوونکې مؤسسې په دې وپوهیدې چې په اتحادیه کې راټول شوي کسان د کار خلك دي او هڅې یې د حساب وړ دي ، نو یې ځکه خپلی مرستې له دې مؤسسی سره پیل کړې .

هغه مؤسسې چې په دې لسو کلونو کې یې په متفرق ډول کله ناکله د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې سره مالي مرستې کړې دي ، دا دي :

1. National Endowment For Democracy. U. S. A.
2. Konrad Adenaver Foundation. Germany.
3. USIS, Peshawar - Pakistan.
4. The Asia Foundation. U. S. A.
5. Commissionerate For Afghan Refugees,
   Peshawar - Pakistan.
6. Danchurch Aid For Human Rights. Denmark.

« ۲ »

د آزاد افغانستان د ليکوالو ټولنې

څه کړي دي ؟

د يو ملت د تاريخ په بيلا بيلو مقاطعو کې د بيلا بيلو مقاصدو لپاره دغسې مؤسسات او اتحاديې ډيرې جوړيږي ، خلك پکې په کار گمارل کيږي ، منسوبينو ته يې بيلا بيل عناوين او القاب ورکول کيږي ، امکانات ترلاسه کړوي ، خو مثمريت يې همغه وخت ثابت شي چې خپلو خلکو او هيواد ته کار وکړي .

څنگه چې تاسی په د مخني فصل کې ولوستل دا اتحاديه هم د يوه ضرورت پر بنا جوړه شوه ؛ ډيرو خلکو پکې کارونه وکړل ، خلکو او مؤسساتو مرستې ورسره وکړې،نو اوس به وگورو چې دغې ټولنې د موجودو امکاناتو په وړاندې په دې لسو کالونو کې څه کړي دي ؟ د مؤسسې د کارونو د ښوولو لپاره موږ اړ يو چې دا کارونه په څو برخو وويشو ، لکه :

«١»

د جوړېدو پس منظر ، اهداف ، جوړښت انکشافي پړاوونه او اوسنۍ بڼه

په دې فصل کې به تر ټولو د مخه دا خبره سپينه شي چې د آزاد افغانستان د ليکوالو ټولنه ، څنګه او کله جوړه شوه ، چا جوړه کړه ، د جوړېدو عوامل يې څه وو ؟ بيا به يې پر اهدافو رڼا واچول شي او دا به څرګنده شي چې دې مؤسسې کوم ډول اهداف تعقيبول او په اهدافو کې يې د فعاليت په دې موده کې څه تغييرات پيښ دي او که يه ؟

ابتدايي تشکيل يې څنګه و او بيا يې په جوړښت کې څه تغييرات را پيښ شول، مؤسسې خپل پرمختيايي پړاوونه څنګه ووهل او اوس پر کوم حال ده ؟

(١) د جوړېدو پس منظر او تاريخچه :

د ١٣٥٧ هـ ش کال د ثور - ١٩٧٨ ع کال اپريل، بدمرغې کودتا په افغانستان کې د طبيعی او په عنعني ډول راغلې، خلکو ته منلې زعامت

(۱) - خپروني ؛
(۲) - سیمینارونه ، کنفرانسونه ؛
(۳) - اجتماعي خدمتونه .

څنگه چې د هرې مؤسسې په فعالیتونو باندې قضاوت پر هغو کارونو او خدماتو کیږي ، چې یې سرته رسولي او خپلې تولنې ته عرضه کړي وي . نو زه هم په دې برخه کې لومړی د مؤسسې پر خپرونو بحث کوم او بیا یې د کار او فعالیت نورې ساحې ښیم .

(۱) - خپروني :

د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې د کار شمزۍ د دې مؤسسې خپروني جوړوي . د خپل فعالیت په دوران کې ټولنې موقوتې او غیرموقوتې خپروني خپلو خلکو ته وړاندې کړې دي . زه به دلته لومړی د اتحادیې موقوتې خپروني وښیم او بیا به یې غیرموقوتې خپروني معرفي کړم .

الف : موقوتې خپروني :

د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې د خپلو اهدافو د پرمخ بیولو او د افغانستان او نړۍ خلکو ته د افغانستان د صورت حال د څرگندولو د افغانستان او افغانانو د وضعې د ښوولو په منظور په دې لسو کلونو کې درې موقوتې خپروني درلودلي دي ، لکه :

(۱) - خپلواکي :

په افغاني عمده ژبو (پښتو او دری) د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې لومړنی نشراتي اُرگان د خپلواکۍ مجله ده ، چې د ټولنې د

فعالیت پرکال یی په خپرونو پیل کړی دی .

کله چې سړی د خپلواکۍ خپرې شوې ګڼې له نظره تیرې کړي نو د شکل او محتوی او نشراتي څانګړنو له پلوه د دې مجلې د پیدایښت او تحول تاریخ په څلورو مرحلو کې مطالعه کولای شي :

لومړۍ مرحله د پیل مرحله ده ، چې دا مرحله د ۱۳٦٤ هـ ش کال د جدي له میاشتې شروع کیږي . خپلواکي دغه مهال د یوې درې میاشتنۍ مجلې په توګه چاپیږي . لومړنۍ ګڼه یې د ۱۳٦٤ هـ ش کال د (مرغومي ، سلواغې او کب) د میاشتو ده . دا مرحله د مجلې دوه لومړنی نشراتي کالونه راچاپیروي (لومړی او دوهم کال) . د مجلی لومړی ګڼه ۱٤۲ مخه لري . د مجلې د دې ګڼې په پیل کې د سریزې ترعنوان لاندې ۱۱ مخه بیان شوي مطالب د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې د جوړیدو پر عواملو ، اهدافو او د مجلی په نشراتي کړنلاره خبرې لري .

که څه هم د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې ټولې خپرونې د مؤسسې اهدافو ته په پاملرنه عیارې شوې دي ، خو له معمول سره سم د خپلواکۍ په لومړۍ ګڼه کې د مجلې نشراتي اهداف ښوول شوي دي چې څو عمده ټکي یې زه دلته رااخلم :

۱ - د روسانو د تبلیغاتو او د رژیم د تیر ایستونکو خپرونو د خنثی کولو لپاره کار .

۲ - د روسانو او رژیم د غولوونکو لیکنو په وړاندې د افغانستان د خلکو د اذهانو د تنویر په منظور د مستندو لیکنو خپرول .

۳ - د روسي سازې مخنیوی او د مهاجرینو د تیر ایستلو لپاره د رژیم او روسانو د خپرونو پرضد خپرونې .

همدا راز په کړنلاره کې راغلي دي ، چې د ټولنې عمومي اهدافو

ته په پاملرنه به په دې مجله کې دا لاندې مطالب نشر نه شي :

۱ - داسې مطالب چې د مهاجرينو او انصارو او افغاني گوندونو ترمنځ روابط خراب کړي ؛

۲ - گاونډيو هيوادونو ايران او پاکستان ته ستونزې پيدا کړي ؛

۳ - د يو قوم ، گوند او شخص پرضد وي .

د خپلواکۍ مجلې په خپله لومړنۍ نشراتي مرحله کې خپلې خپرونې د همدغو اهدافو په رڼا کې سمبال کړې دي .

د مجلې نشرات په دې مرحله کې زياتره د کابل د رژيم د ماهيت ، اهدافو او اعمالو د برېنډولو ، د روسانو د يرغل د محکومولو، د افغاني مقاومت د پياوړتيا او د روسي سازۍ پر ضد مبارزې ته وقف شوي وو ، لکه :

د مجلې د لومړي کال په لومړۍ گڼه کې : د پروفيسور امين مقاله : د ثور کودتا که انقلاب ؛ د انجنير محمد آصف اکرام مقاله ؛ روسان او بين المللي تړونونه . په دوهمه گڼه کې :د جگړن نصرالله صافي مقاله : جنبش مقاومت افغانها ؛ د عبدالحی ورشان مقاله : نگرشی به شستشوی مغزی روسها در افغانستان ؛ د عبدالجليل وجدي مقاله : کمونيزم يا د زاړه ميجرخوب . په دريمه ، څلورمه گڼه کې ؛ د دوکتور زين العابدين ممتاز مقاله : بررسی حقوقی تهاجم سوشل امپرياليزم روس وانعکاسات ناشی از آن ؛ د شفق ستانيزی مقاله : عمليهء شوروی ساختن در مناطق اشغال شدهء افغانستان . د دوهم کال په لومړۍ گڼه کې :د سيد فقير علوی مقاله : روسها اشتباه کرده اند ؛ د محمد آصف اکرام مقاله : د افغانستان فنلندی کول ؛ د جگړن نصرالله صافی مقاله : تکتيکهای جديد نظامی روسها ؛ د جگړن غلام دستگير شکيب مقاله : مشکلات نظامی روسها ؛ د همدې کال په دوهمه گڼه کې د دوکتور زين العابدين ممتاز مقاله : تهاجم وپلانهای استعماری روسيه ؛ د همدې کال په دريمه گڼه کې د پروفيسور

امین مقاله : د نجیب د اساسی قانون طرح ؛ د جګړن نصرالله صافی مقاله : مجاهدین وسلاحهای دافع هوا ، د جګړن شکیب مقاله : پروپاګند وتبلیغات رژیم کابل ؛ د محمد آصف اکرام مقاله : د خلق دموکراتیك ګوند په شا تګ . د همدې کال په څلورمه ګڼه کې ؛ د نیازي امیدوار مقاله : درمانده ګیهای روس در افغانستان ؛ د یوسفزي مقاله : په افغانستان کې د اسلامي شوونو مؤسسه او ځینې نورې مقالې چې ټولې د همدې د مخه ذکر شویو موضوعاتو په توضیح او تشریح کې لیکل شوې دي .

د مجلې د نشراتو په دې مرحله کې د کابل د رژیم د ایډیالوژیکي تمایلاتو پرضد تیوریکي مقالات هم کله ناکله د مجلې په ځینو ګڼو کې راغلي دي ، لکه : د عبدالعظیم امیدوار مقاله : نګاه انتقادی بر مارکسیزم چې د لومړي کال په لومړۍ ګڼه او دوهمه ګڼه کې خپره شوې ده او ځینې نورې دا کتیګوري مقالې . فرهنګي مسایل هم په دې مرحله کې مجلې په خپلو پاڼو کې ځای کړي دي ، لکه :

د لومړي کال په لومړۍ ګڼه : د افغانستان تعلیم او تربیې ته یوه لنډه کتنه (دوکتور ممتاز) .

د لومړي کال په دریمه او څلورمه ګڼه کې : ننګ او جنګ ، د حکیم تنیوال مقاله . په همدې ګڼه کې : فرهنګ حماسی نورستان ، د عبدالحی ورشان مقاله ؛ د دوهم نشراتي کال په څلورمه ګڼه کې : وضع فرهنګی در شمال د عبدالحفیظ مقاله . له دغو عامو فرهنګي مسایلو سربیره شعرونو ته د مجلې له لومړۍ ګڼې نه د چاپ موقع ورکړل شوې ده . د خپلواکی مجلی د نشراتو په لومړی مرحله کې د : ارواښاد استاد خلیلی الجنیر ترین ، د شفق ستانیزی ، عبدالباري جهانی ، نورالحبیب نثار او نورو شعرونه خپاره شوي دي . په مجله کې د لنډې کیسې خپرول د لومړي نشراتي کال له دوهمې ګڼې پیل شوي دي او بیا کله کله یوه نیمه

لنده کیسه هم د مجلو په پاڼو کې چاپ شوې ده ، د شفق ستانیزي او میر-سمیع الله واجد لنډو کیسو د مجلې پاڼو ته لاره پیدا کړې ده .

په افغانستان کی د بشري حقوقو د تخطی موارد هم د دې مجلې د ګڼو مضامینو په ترڅ کې شوول شوي دي ، خو په دې مرحله کې په دې ارتباط ځانګړې مقالې مجلې کله ناکله خپرې کړې دي ، لکه : د دوهم کال په دوهمه ګڼه کې د ښاغلي عبدالحی ورشان مقاله : کُشتار جمعی در نورستان شرقـی او همدارنګه په همدې ګڼه کـې یوه بله مقاله هم چاپ ده ، چې د ادارې له خوا اتهیه شوې او عنوان یې دی : تعذیب وشکنجه در افغانستان .

د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنه د خپل تأسیس له لومړنۍ نیټې نه په دې هڅه کې وه ، چې د افغانستان قضایاوو ته باید د افغانانو له عنعنو سره سم د حل لاره پیدا شي . په دې برخه کې د اتحادیې دریځ دا و ، چې لویه جرګه یوازینۍ مؤسسه ده ، چې افغانان کولای شي د هغې په جوړیدو ځان له مشکلاتو وژغوري او د خپلې خوښې نظام او ملي زعامت د ځان لپاره وټاکي .

د لویې جرګې د ارزښتونو او د دې جرګې د اهمیت په باب هم د دې مجلې د لومړۍ مرحلې په ګڼو کې مضامین چاپ شوي دي ، لکه : د دوهم نشراتي کال په دریمه ګڼه کې د سناتور غلام نبی چکنوري مقاله : لویه جرګه او د همدې کال په ځلورمه ګڼه کې د ښاغلي سید قاسم رشتیا مقاله : « لویه جرګه واهمیت تاریخي آن در جامعهء افغانستان » د یادونې وړ لیکنې دي .

په دې مرحله کې مجلې د افغانستان د وقایعو په ارتباط د نړۍ له مطبوعاتو ځینې مطالب هم راژباړلي او چاپ کړي دي ، لکه : د لومړي کال په لومړۍ ګڼه کې : « د افغانستان مجاهدین د آسیا او د غرب له

ګټو نه هم دفاع کوي » نومې مقاله چې ښاغلي شفق ستانيزي ترجمه کړې ده او د دوهم نشراتي کال په دريمه ګڼه کې « د افغانستان اوږد جنګ » ترعنوان لاندې راغلې مقاله ښاغلي حکيم تهيوال ژباړلې ده .

په دې مرحله کې مجلې مصاحبې هم نشر کړې دي ، لکه د دوهم نشراتي کال په دوهمه ګڼه کې له امريکايي لرغونپوه او افغانستان پيژندونکي لويي دوپري سره مصاحبه .

په دې مرحله کې مجلی کله ناکله راغلي ليکونه هم خپاره کړي دي ، لکه د دوهم کال په دريمه ګڼه کې د ښاغلي سيد قاسم رشتيا ليک .

دا وو هغه عمده مطالب چې د خپلواکۍ مجلې په خپلو دوو لومړنيو نشراتي کلونو او يا د خپل نشراتي عمر په لومړۍ مرحله کې چاپ کړي دي . له دې سربيره مجلې کله ناکله ځينی نورو موضوعاتو په شاوخوا کې هم مطالب نشر کړي دي ، لکه د ټولنپوهنې ، فلسفې او نورو مسا يلـو په باب ليکنې . د دې مرحلې په ځينو ګڼو کې په فلسفې پورې مربوطې مقالې چاپ شوي دي ، دا مقالې ښاغلي سمندر غورياني ليکلي دي . د لومړي کال په دوهمه ، دريمه ګڼه کې د ښاغلي اکرام مقاله : « افغاني ټولنه د غوايي له کودتا وروسته » داسې مقاله ده چې په ټولنپوهنه کې مطالعه کيداى شي . دغه راز مجلې د جهاد د ننګې په خاطر د هغو عناصرو پر اعمالو هم انتقادونه کړي دي چې د جهاد ترسيوري لاندې يې ضد جهادي کارونه کول . د مجلی د دوهم نشراتي کال په دريمه ګڼه کې د فقير محمد مسافر مقاله : « حلقه هاى ګمراه کننده در جهاد افغانستان » زموږ لوړه ادعا ثابتوي . د مجلی په ټولو نشراتي مرحلو کې د مجلی مشر مدير يا Editor in Chief د آزاد افغانستان د ليکوالو ټولنې مشر پروفيسور عبدالرسول امين پاتې شوى دى . مجله د لومړي نشراتي کال په لومړۍ

ګڼه او دوهمه ګڼه کې ځانګړی مسؤول نه لري ، په دې دوو ګڼو کې یوازې دومره لیکل شوي دي :

د وفا مشر : پروفیسور عبدالرسول امین

چاپ او خپرونه : د وفا د نشراتو څانګه

د مجلې د لومړي کال په وروستۍ ګڼه (۳ - ٤ ګڼه) کې بیا له مشر مدیر (چې له مجلې سره یې تل د وفا مشر په توګه نوم چاپ شوی دی) سربیره مجلې خپل مدیر هم پیدا کړی دی او ورسره مجلې ته کتونکې ډله هم ټاکل شوې ده .

په دې ګڼه کې مدیر : سید فقیر علوي او په کتونکې ډله کې : حکیم تنیوال ، عبدالعظیم امیدوار ، جګړن غلام دستګیر شکیب ، جګړن نصرالله صافی او د محمد آصف اکرام نومونه چاپ شوي دي . د دوهم نشراتي کال د لومړۍ ګڼې مدیر او کتونکې ډله همدا لوړ یاد شوي کسان دي ؛ په دوهمه ګڼه کې بیا مجله مدیر نه لري خو په کتونکې ډله کې له لوړو نومونو سربیره د یوسف دیژان نورستانی نوم هم زیات شوی دی .

د همدې کال په دریمه ګڼه کې نیازی امیدوار (عبدالعظیم) د مجلې د مدیر په حیث معرفی شوی دی او په کتونکې ډله کې د استاد سمندر غوریانی ، نصرالله صافی او عبدالحی ورشان نومونه چاپ شوي دي . په څلورمه ګڼه کې مدیر هماغه سړی (امیدوار) دی ، خو په کتونکې ډله کې یې بیا تغییر راغلی دی . د دې ګڼې په کتونکې ډله کې : د عبدالکریم محب ، نصرالله صافی او غلام دستګیر شکیب نومونه راغلي دي .

د مجلې د دې مرحلې د صحافت په خصوص کې باید ووایم ، چې د مجلې د لومړۍ ګڼې قطع (۲/۱-۲۲ X ۲/۱-۱۵) سانتی متره ده . د پوښ په لومړي مخ کې یې د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې د

نشان لاندې د دوه کرښیزو جدولو ترمنځ خپلواکي لیکل شوې او تر جدول لاندې بیا لیکل شوي دي : لومړی کال لومړی‌گڼه . د پوښ په دوهم مخ کې د قرآن عظیم د یو آیت شریف ترجمه ، په دریم مخ کې آدرس ، د گڼون شرح او د وفا مشر او خپروونکې ځانگه ښوول شوي دي او په څلورم مخ کې د خپلواکي نوم او نور ضروري مطالب په انگریزي ژبه نشر شوي دي .

د مجلې نشراتي ځانگړنې او د مطالبو فهرست په یوه ځانگړې پاڼه کې مخ و څټ چاپ کړی شوي دي . څنگه چې خپلواکي دغه مرحله کې درې میاشتنۍ وه ، نو لازمه وه چې د دې مرحلې په دوو کلونو کې اته گڼې خپرې شوې وای ، مگر د اتو په ځای ۷ گڼې چاپ شوې دي . په لومړي کال کې یوه گڼه کمه ده ، دریمه او څلورمه گڼه سره یوځای چاپ شوې دي .

د مجلې قطع په دې مرحله کې په دې ټولو گڼو کې یو ډول نه ده پالل شوې ، د مجلې د لومړي کال ، دویمه ، ۳ - ٤ مه او دوهم کال لومړی‌او دوهمه گڼه کې د مجلی قطع له لومړی‌گڼې متفاوته او په دې ډول ده : ۲۲ X ۱/۲-۱٤ سانتی متره ، د دوهم کال د دریمې او څلورمې گڼې قطع دا ده : ۲۳ X ۱٦ سانتی متره .

د مجلې د پوښ رنگ د دې مرحلې په لومړي کال او د دوهم کال په دوو گڼو کې شین ، مگر د دوهم کال په دوو وروستیو گڼو کې یې تغییر موندلی دی . په دې دوو گڼو کې د مجلې په پوښ کې د اتحادیې تر نشان لاندې د جدولونو په منځ کې څلور سانتي متره په تور رنگ یو اوږد

تون چاپ شوی چې د پوښ لومړی او څلورم مخونه یې نیولي دي . په دې تون کې په لومړي مخ او څلورم مخ کې د مجلې نوم په پښتو او انگریزي چاپ شوی دی ؛ اما د پوښ رنگ په دریمه گڼه کې نخودي وزمه زیړ او په څلورمه کې یې رنگ فیروزه یي دی .

د مجلې د مخونو شمیر د دې مرحلې په بیلا بیلو گڼو کې مختلف دی . د مجلې صحافي خوا په دې مرحله کې ډیرې کمزورۍ لري . د کلونو او گڼو شمیره د مجلې پر پوښونو غلطه چاپ شوې ده . د مثال په ډول د لومړي کال له ۳ - ٤ مې گڼې سره یې کال دوهم ښولی دی ، حال دا چې هغه دوهم نه ، بلکه اول کال دی . دغه راز د دوهم کال په دوهمه گڼه لیکل شوي دي : دویمه او دریمه گڼه؛ په وروسې گڼه څلورمه او بیا په وروسی گڼه پنځمه چاپ شوې ده . خو دا چې دوی غوښتي دي چې مجله په بل کال کې د شمسي کال له سره پیل کړي، نو یې ځکه تر څلورمې گڼې وروسته یوځای بلې گڼې ته د پنځمې گڼې شمیر وراچولی دی. دا گڼه د ۱۳٦٦ هـ ش د جدي - حوت د میاشتو ده چې اصولاً باید د دریم کال لومړۍ گڼه وای ، خو دوی پنځمه بللی ده او په دې وسیله یې هغه کال پای ته رسولی دی . په ۱۳٦٧ هـ ش کال کې یې مجله د کال له پیله شروع کړې ده ، چې تفصیل به یې وروسته راشي .

د خپلواکي مجلې د خپرونو دوهمه مرحله ، دریم ، څلورم او پنځم نشراتي کلونه چاپیروي (۱۳٦٧ - ۱۳٦٩ هـ ش) ښکاره توپیر چې په دې مرحله کې لیدل کیږي دا دی ، چې د مجلې نشراتي کال د لومړۍ مرحلې برعکس د شمسي کال له پیل سره سم پیل شوی دی او په پای ته رسیدو سره یې پای ته رسیدلی دی . حال دا چې د لومړۍ مرحلې نشراتي کال د جدي له میاشتې پیل کیده . په دې مرحله کې مجله په ۱۳٦٧ هـ ش کال څلور گڼې ، په ۱۳٦٨ هـ ش کال کې څلور گڼې او په ۱۳٦٩ هـ ش کال ۳ گڼې چاپ شوې ده ، د دې وروستي کال په گڼو کې دریمه او څلورمه گڼه یوځای چاپ شوې دي . د مجلې صحافی خوا په دې مرحله کې د لومړۍ مرحلې په پرتله ډیره پیاوړې او غښتلې ده . د دې مرحلې په دریواړو کالو کې د خپرو شویو گڼو مخونه مختلف دي .

د مجلې د پوښ رنګونه متنوع شوي او په هره ګڼه کې د مجلې پوښ په جلا رنګ چاپ شوی دی ، خو پر پوښ راغلې ليکنې د څلورم کال تر دوهمې ګڼې پورې هماغه دي چې د لومړيو دوو کلونو پر پوښونو راتلې ، يوازې د ګڼو نمبرې او کلونو تغيير موندلی دی . د ۱۳۶۸ هـ ش کال له دوهمې ګڼې د مجلې د پوښ په لومړي مخ کې د مطالبو لنډ فهرست او په څلورم مخ کې د مطالبو د فهرست انګريزي ترجمه هم ورسره چاپ شوې ده .

د دې مرحلې په درېواړو کلونو کې د خپرو شوېو ګڼو د صفحاتو شمېره هم مختلفه ده . په دې مرحله کې په مجله کې يو صحافي تغيير دا راغلی دی ، چې د دريم کال له لومړۍ ګڼې نه د مجلې د پوښ په دوهم مخ کې يوه خطاطي پارچه او په دريم مخ کې د مجلې نشراتي ځانګړنې او د مجلې د ګڼون شرح په انګريزي ژبه چاپ شوي دي .

د خپلواکۍ د دغې نشراتي مرحلې په دوو لومړيو کلونو کې او هم د دريم کال (د پنځم نشراتي کال) په لومړۍ ګڼه کې مدير عبدالحی ورشان دی ، د دريم کال په لومړۍ ګڼه کې د کتونکې ډلې پرځای د خپرونې بورډ معرفي شوی دی . په سر کې يې د بورډ مشر پروفيسور عبدالرسول امين او غړي يې : سمندر غورياني ، حکيم تڼيوال ، نصرالله صافي او عبدالعظيم نيازي ښوول شوي دي . خو د همدې کال په دوهمه ګڼه کې د پروفيسور امين له نامه سره د بورډ د مشر پرځای د وفا مشر کلمات راغلي دي . د بورډ په غړيو کې د عبدالعظيم نيازي نوم لېرې شوی او پرځای د پوهاند دوکتور محمد حسن کاکړ او محمد آصف اکرام نومونه ورزيات شوي دي . د دريم نشراتي کال ترپايه پورې د نشراتي بورډ غړي همدا کسان وو . خو د څلورم کال له لومړۍ ګڼې نه د بورډ په غړيو کې د ميرويس موج نوم هم زيات شوی دی .

سلسله ختمه کړه او دغو په پردو مړو متکي او د بیگانه ایډیولوژی پر وزرو سپرو ، د خپلې ټولنې له اجتماعي او رواني جوړښت ، د خلکو له عنعنو ، عقایدو ، غوښتنو او ارمانونو ناخبرو مصنوعي زعیمانو د خلقي انقلاب ، دموکراتیک انقلاب ناره اوچته کړه او د خپلو همدغو مارکسستي شعارونو ترسیوري لاندې یې د خپل اقتدار په لومړیو شیبو کې ځینو داسې کارونو ته لاس واچاوه چې د افغاني جامعې له ارزښتونو سره برابر نه وو . خلکو له لومړۍ ورځې د دوی د نامشروع اقتدار په وړاندې د اعتراض غږ جگ کړ او ورځ په ورځ د ملت او د دوی ترمنځ لیریوالی زیاتیده او دوی هم د خپلې واکمنۍ په اوایلو کې سور خط راکاږه او دا شعار یې ورکاوه چې څوک له دوی سره ملگري دي هغه هر څه دي او څوک چې د خط مخالف او یا ورسره نه دي هغه یې د ځان دښمنان وبلل . رژیم د دوی په اصطلاح پرخپلو دښمنانو (افغانانو)د نیولو ، رټلو ، تعقیب ، توهین ، تحقیر ، شکنجې او د جاسوسۍ د جهنمي دستگاوو د عاملینو او خپلو گوندي بریڅو د تهدیدونو په وسیله خپل ټاټوبی په سور تنور بدل کړ او د رژیم له لوري پر افغانانو د مختلفو شرایطو د خوریدو له امله ټولو،له خلق او پرچم سره غیرمنسلکو افغانانو، ته خپل کورونه په زندان بدل شول . له دفترونو او فوجي مؤسساتو څخه د خلکو شړل خو ډیره عادي خبره وه . رژیم د قیامونو د ټکولو لپاره له بیرحمانه ترینو شیوو څخه کار اخیست او بې وسلو او بیدفاع کلیوال یې د توپونو ، ټانکونو ، راکټونو او بمونو خوراک کول . شرایط ورځ په ورځ تنگیدل او حالات ترخیدل ، نوځکه رژیم د واکمنۍ له هماغو لومړیو میاشتو مهاجرتونه هم پیل شول او خلکو له ناکامه خپل خوږ وطن پریښود او باندنیو ، خصوصاً گاونډیو هیوادونو ته واوښتل ، د هیواد د پریښوولو پروسه هغه وخت گړندۍ شوه ، چې روسي

د څلورم نشراتي کال له دریمې ګڼې د مجلې د چلونې په کار کوونکو کې یو بل تغییر راغلی دی او هغه دا چې ښاغلی زرین انځور او میرویس موج د مجلې مرستیالان مقرر شوي دي او د نشراتي بورډ اصطلاح په مشورتي بورډ اوښتې ده . او د ښاغلي موج نوم د مشورتي بورډ له غړو ایستل شوی او د مجلې د مرستیال په توګه چاپ شوی دی .
د پنځم نشراتي کال په لومړۍ ګڼه کې هم ښاغلو انځور او موج د مجلې مرستیالان دي . په مشورتي بورډ کې : پوهاند دوکتور محمد حسن کاکړ ، سمندر غوریانی ، حکیم تنیوال ، نصرالله صافی او محمد آصف اکرام شامل دي . د همدې کال په څلورمه ګڼه کې بیا په مشورتي بورډ کې د اکرام نوم نشته . د پنځم کال په لومړۍ ګڼه کې هم په نشراتي بورډ کې د همدغو کسانو نومونه راغلي دي؛ د پنځم نشراتي کال (۱۳۶۹ هـ ش کال) په دوهمه ګڼه کې بیا د مجلې د چلونې په ډله کې نور تغییرات راغلي دي . د عبدالحی ورشان وظیفه پای ته رسیدلی ده ، د نشراتي بورډ خبره نشته ، په دې ګڼه کې یې لیکلي دي :
رئیس هیئت تحریر : پروفیسور عبدالرسول امین
هیئت تحریر : محمدزرین انځور ، میرویس موج
بورډ مشورتي : حکیم تنیوال ، نصرالله صافی
دلته باید دا خبره توضیح شي چې د ښاغلو زرین انځور او میرویس موج نومونه چې د هیئت تحریر ترعنوان لاندې چاپ شوي دي ، دا هسې هیئت تحریر نه دی ، لکه په افغانستان کې چې ځینو علمي ، ادبي مجلو ته ټاکل کیده ، بلکې دوی د مجلې چلوونکي وو . ښاغلی انځور ، د مجلې مدیر او ښاغلی موج یې مرستیال و . د مجلې د چلوونکو دا لوړ ترکیب د پنځم نشراتي کال یا د خپلواکې مجلې د دوهمې نشراتي مرحلې تر پایه دوام کوي .

په دې مرحله کې خپرې شوې ګڼې د مخونو د شمیر له درکه فرقونه سره لري او قطع يې هم د ۲۲ X ۱۵ سانتی متره او په دې خواوشا کې ده ، په ځينو ګڼو کې ښايي نيم سانتی زياته کمه شوې وي ، اما د مجلې د متن قطع د مجلې په پنځم نشراتي کال کې په سورو يو سانتی متر زياته شوې ده .

په دې مرحله کې د مجلی نشراتي پاليسي هماغه ده ، چې په لومړۍ مرحله کې تعقيبيدله . د افغانستان له روان جهاد نه ملاتړ او په جهاد پورې د تړليو موضوعاتو د بيان ترڅنګه د ځينو داسې مطالبو نشر ته هم په دې مرحله کې زمينه مساعده شوه چې په اوله مرحله کې نه دي نشر شوي ، لکه ادبي څېړنې چې په دې مرحله کې پيل شوې دي . د دريم كال په لومړۍ ګڼه کې د سيد محی الدين هاشمی مقاله : شعر او د يو مجاهد شاعر رسالت . د څلورم كال په لومړۍ ګڼه کې د صمد پور مقاله : اصالت شعر ورسالت شاعر ، د همدې كال په دريمه ګڼه کې د ښاغلي انځور مقاله : پښتو معاصر شعر د ثور په كودتايي کړليچونو کې او داسې نورې د دې مرحلی دا کتيګوري مقالې . دغه راز د دريم كال په لومړۍ ګڼه او هم دوهمه ګڼه کې د پوهاند دوكتور محمد حسن كاکړ مقالې ځينې داسې مطالب رانغاړي چې د خپلواکي په تيره مرحله کې يې سارى نه ليدل کيږي . که څه هم خپلواکي په خپله لومړنۍ نشراتي مرحله کې هم ځينې مصاحبې نشر کړې وې ، خو د دې مرحلې په خپرو کړيو مصاحبو کې ، د دوكتور عبدالصمد حامد مصاحبه د دريم كال په دوهمه ګڼه کې ؛ له حضرت صبغت الله مجددی سره مرکه د پنځم كال لومړۍ ګڼه ؛ د دکتور حامد مرکه همدا ګڼه ، له دوكتور محمد يوسف سره د افغانانو د يوې ناستې ګزارش همدا ګڼه ؛ د ډيرې يادونې وړ دي .

په دې مرحله کې د اسلامي تعاليمو او اسلامي مشاهيرو په خصوص کې ځينې مقالې خپلواکي نشر کړې . د بيا ودانولو موضوع هم په دې مرحله کې د مجلو په ځينو ګڼو کې بيانيږي . نور نو د جهاد په ملاتړ او د جهاد د فکري ارزښتونو د تقويې او د روسي يرغل او روسي کولو پرضد مقالې او ځينې عام فرهنګي مسايل ، کيسې او اشعار هم د مجلې په بيلا بيلو ګڼو کې چاپ شوي دي چې دا ډول مطالب زياتره په لومړۍ مرحله کې هم چاپيدل .

د خپلواکي د مجلې دريیمه مرحله يوه بله انکشافي مرحله ده . په دې مرحله کې مجله دوه مياشتنۍ شوې ده او له دې سربيره د دواړو تيرو يادو شويو مرحلو په توپير د مجلې د پوښ په اول مخ کې د خپلواکی ترنامه لاندې ورسره چاپ شوي دي : علمي ، تاريخي ، سياسي او ادبي مجله . د مجلې نورې نشراتي ځانګړنې هماغه پخوانۍ دي . د وفا د مشر (پروفيسور امين) نوم د رئيس هيئت په توګه ؛ د ښاغلو انځور او موج نومونه ، لکه د تيرې مرحلې څو ګڼې د هيئت تحرير ترعنوان لاندې چاپ شوي دي ، خو په حقيقت کې انځور مدير او موج د مرستيال وظيفه درلوده . په دې مرحله کې مجلې يو مشورتي بورډ هم درلود ، چې حکيم تنيوال اونصرالله صافی يې غړي وو . د همدې کال په دوهمه ګڼه کې په هيئت تحرير کې د پير محمد کاروان نوم هم ور زيات شوی دی . د همدې کال په شپږمه ګڼه کې د هيئت تحرير له غړيو د کاروان نوم او د مشورتي بورډ له غړيو د نصرالله صافی نومونه وتلي دي . په هيئت تحرير کې د ښاغلو انځور او موج او په مشورتي بورډ کې د ښاغلو حکيم تنيوال او پير محمد کاروان نومونه چاپ شوي دي . د دې نشراتي مـرحلې ترپايه دا نومونه د مجلې په ټولو چاپ شويو ګڼو کې راغلي دي . په دې مرحله کې د مجلی نشراتي دريځ په لوړه کې هماغه دی ،

چې مجلې په خپلو ټولو نشراتي مرحلو کې تعقیب کړی دی؛ اما دا نشراتي مرحله ځینې خصوصیات لري چې په تیرو ګڼو کې یا نشته او یا لږ دي ، لکه :

۱ - د افغانستان د جامعې د علمي مطالعې په ارتباط مقالې ، لکه د شپږم نشراتي کال په لومړۍ ګڼه د دوکتور عثمان تره کي مقاله : مطالعهء جامعهء افغانی از دیدگاه جامعه شناسی سیاسی ، د مقالې لومړۍ برخه د پنځم کال په وروستۍ ګڼه کې خپره شوې ده .

۲ - د افغاني مطبوعاتو او جمعي مفاهمې د وسایلو په باب مقالې . په دې لړ کې د ښاغلي رفیع ، پوهاند هاله ، نجیب الله نصیر ، زرین انځور ، میا آروال او نورو لیکنې د یادونې وړ دي . له دې سربیره د دې مرحلې په بیلا بیلو ګڼو کې د ژورنالیزم د بیلا بیلو اړخونو په باب د پوهاند هاله تیوریکې مقالې او ترجمې هم چاپ شوي دي .

۳ - د علمي او ساینسي مسایلو په ارتباط خپرونې ، لکه د شپږم کال په دوهمه ګڼه کی د پوهاند احمد شاه جلال مقاله : تاثیر جنګ افغانستان در آلوده ګی هوا ، د اووم کال په دریمه ګڼه کی د پوهاند دوکتور ذهین مقاله : جګره او د افغانستان ماشومان ، د میرویس موج مقاله جنګ ، عاملی برګسترش کشت ګیاهان مؤلد مواد مخدره در افغانستان ، د همدې کال په څلورمه ګڼه کی د پوهنمل محمد عمر انورزی مقاله : پر افغانستان او نړۍ د چاپیریال د ککړوالي ناوړې اغیزې .

٤ - تاریخي مقالې : د دې مرحلې په مختلفو ګڼو کې تاریخي او تاریخ ته مربوطې لیکنې هم نشر شوي دي ، لکه د ښاغلو رفیع ، فرملی دکتور حسن کاکړ ، اسحق ابراهیمی آئینه او نورو مقالې .

د افغانستان د دري ادبیاتو او هم پښتو ادبیاتو په باب څیړنې اونقدونه د مجلې تر هرې بلې نشراتي مرحلې په دې مرحله کې ډیرې

چاپ شوې دي . د بیا جوړونې او آینده سیاسي ، اجتماعي او فرهنګي جوړښتونو د بازسازی او د مهاجرینو د بیرته ستنیدو په باب مقالې هم په دې مرحله کې نشر شوې دي . د دوکتور عبدالصمد حامد ، پوهاند حمیدالله امین او نورو مقالې په دې برخه کې د یادونې وړ دي . په دې مرحله کې مجلی مصاحبې هم چاپ کړې دي ، لکه د اووم نشراتي کال په دریمه ګڼه کې د تاجکستان د لیکوالو اتحادیی له رئیس سره مرکه . ځینی عام فرهنګي مسایل هم مجلی په دې مرحله کی نشر کړي دي .

د دې نشراتي مرحلې بله د یادونی وړ ځانګړنه دا ده چې د اووم کال له دریمې ګڼې په مجله کې ځینې داسې مطالب هم نشر شوي دي ، چې کابل ته د تنظیمونو له ورتګ او د پخواني رژیم له سقوط وروسته واقعاتو پورې اړه لري ، لکه د اووم کال په دریمه ګڼه کې : د افغانستان لپاره د فدرالي سیستم طرح عملی ده ؟ د افغانستان وروستیو سیاسي او پوځي پیښو ته یوه کتنه ، د همدې کال په څلورمه ګڼه کې : په کابل کې د وروستیو خونړیو پیښو په ارتباط د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې اعلامیه ، په پنځمه ګڼه کې : د افغانستان روانې پیښې او د هیواد علمي او کلتوري میراثونه .

په دې مرحله کې هم لکه د مجلې تیر نشراتي مراحل شعرونه او لنډ داستانونه هم په مجله کې چاپ شوي دي . د خپلواکي دا نشراتي مرحله چې د مجلې شپږم او اووم کالونه چاپیروي ، په شپږم کال کې بشپړې شپږ ګڼې او په اووم کال کې پنځه ګڼې چاپ شوې دي . مجلې په دې مرحله کې خپل وروستی کال نه دی بشپړ کړی ، وروستۍ ګڼه یې نه ده چاپ شوې ، بلکی مجله د مالي مشکلاتو له امله بنده شوه .

د ۱۹۹۳ ع کال له پیله د خپلواکي مجله د مالي امکاناتو د

محدودیت له امله چاپ نه شوه ، د آزاد افغانستان د لیکوالو اتحادیې مشرتابه ډیره هڅه وکړه ، چې دا مجله بیرته فعاله کړي اما هڅې یې بریالۍ نه شوې . د لیکوالو ټولنې د مجلې بندیدل یوه ضایعه گڼله ، نوځکه یې د ۱۹۹٤ ع کال په اوایلو کې دا وپتییله چې د مجلې خپروني دې بیا پیل کړي . هماغه و چې خپلواکي مجله د یوې درې میاشتنۍ خپرونې په توگه د ۱۹۹٤ ع کال له اپریل - د ۱۳۷۳ هـ ش کال په اوایلو کې له دیارلس میاشتني رکوده وروسته بیا په خپرونو پیل وکړ . خپلواکي دا ځل بیا درې میاشتنۍ پیل شوه . قطع او صحافت یې د تیرو دوو وروستیو مرحلو د گڼو له صحافی ځانگړنو سره یو شانوالی لري . دا مرحله د خپلواکۍ په نشراتی عمر کې څلورمه مرحله ده . دا مرحله چې تر یوی دیارلس میاشتنۍ خلا وروسته پیل شوې ده ، نوځکه د مجلې کار کوونکو ورته د افغاني مطبوعاتو له عام دود سره سم د دوهمې دورې نوم ورکړی دی . په دې مرحله کې هم د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنی مشر پروفیسور امین ، مشر مدیر دی ، په کتونکې ډله کې د سرمحقق زلمي هیوادمل ، میرزا محمد کونړي او پیر محمد کاروان نومونه چاپ شوي دي . دا ډله هم د مجلې د دریمې مرحلې د هیئت تحریر په ځیر د مجلې چلوونکی : (مدیر او مرستیالان) دي . د مجلې تخنیکي همکاران سید حسین پاچا او محمد ظاهر بابري دي . د مجلې صحافت او د پاڼو شمیریې د د مخنیو مرحلو په ځیر دی .

د مجلې نشراتي اهداف د اتحادیې د عمومي کړنلارې په چوکاټ کې داسې اوډل شوي دي چې ، په دې مرحله کې به مجله : د افغانستان د روانو پیښو ، دموکراسي ، د بشر د حقوقو ، د مخدره موادو د کنترول او مخنیوی ، بیا رغاونې او فرهنگي مسایلو په ارتباط خپروني کوي . د مجلې د پوښ په لومړي مخ کې د مجلی نشراتي ماهیت داسې څرگند

شوی دی : « سیاسي ، اجتماعي او فرهنګي مجله » د دې مرحلې په لومړۍ ګڼه کې مجلې د دموکراسی ، د افغانستان د روانو حالاتو ، د بشر د حقوقو او بیا رغاونې او فرهنګي مسایلو په باب مطالب خپاره کړي دي .

د پروفیسور امین مقاله : د افغاني ټولنې د زعامت خلا ، ستونزې او د حل لار ؛ د دوکتور عثمان تره کي مقاله : بررسی مختصر نتایج سیاسی جنګهای اخیر در کابل د افغانستان د روان بحران په باب د دې ګڼې سنې مقالې دي . په فرهنګي برخه کې د استاد سعدالدين شپون مصاحبه او ځینې نور د لوستو وړ مطالب هم په دې ګڼه کې نشر شوي دي . له بده مرغه د لیکوالو اتحادیې د مالي مشکلاتو پراساس ونه شول کولای چې مجله په پرله پسې ډول خپرونې پسې تعقیب کړي . ځکه نو په دې مرحله کې مسلسله چاپ نه شوه او د کال ترپایه به یوه بله ګڼه خپروي ، چې دا ګڼه به د دوهمې ، دریمې او څلورمې ګڼې پرځای وي . په دې ګڼه کې مطالب د څلورمې مرحلې د لومړۍ ګڼې په روحیه اوډل شوي دي . د دې ګڼې په کار کوونکو کې د ښاغلیو پیر محمد کاروان او میرزا محمد کوڼړي نومونه د مرستیالانو په حیث نشته ، خو په همکارانو کې د عبدالوکیل شینواري نوم زیات شوی دی .

د خپلواکي خپرونو ته یوه کتنه :

د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې علمي ، تحقیقي او تحلیلي خپرنی ارګان د خپلواکی مجلی په دوو دورو (۱) او څلورو مرحلو کې تراوسه ټولی یو دیرش ګڼې خپرې کړې دي . د دې ګڼو خپرونو ته په پاملرنه سرې ویلای شي چې :

---

(۱) د دورې د اصطلاح استعمال د علمي پرنسیب له مخی سم کار نه دی ، ځکه دوره یوه ده ، مراحل یې مختلف دي ، ما دلته د افغاني مطبوعاتو د تعامل له مخی د دورې اصطلاح استعمال کړې ده .

۱ - د مجلې ټولې خپرونې د افغانستان په دوو عمده ژبو پښتو او دري تنظیم شوې دي او د ژبو مراعت ډیر ښه پکې شوی دی .

۲ - مجلې د افغانستان د روسي کولو د بهیر د غندنې ، د تیر رژیم د تبلیغاتو د خنثی کولو او د خارجي اشغالګرو قواوو د شومو اعمالو د بربنډولو او هم د پخواني شوروي د نظامي مداخلی د محکومولو په ارتباط ښې د مزې خپرونې کړې دي .

۳ - د جهاد د ارزښتونو د څرګندولو او د افغان جهاد د بنسټونو د پیاوړتیا او په جهاد پورې تړلي موضوعات او د افغان مهاجرینو پرابلمونو ته د دې مجلی په پاڼو کې ځای ورکړی شوی دی .

٤ - د جهاد د مسایلو د تعقیب ترڅنګه مجلې په خپلو لومړنیو نشراتي کلونو کې د افغانستان د شخړې د سوله ییز حل لپاره هم زیار ایستلی دی او په خپلو پاڼو کې یې کله ناکله د لانجې د حل د لارو چارو په ارتباط هم څرګندونې او لیکنې خپرې کړې دي .

۵ - د بشر له حقوقو دفاع او په افغانستان کې د بشر د حقوقو د تخطی مسایل هم په مجله کې بیان شوي دي .

٦ - د جهاد له دورې وروسته پر افغانستان باندې د تنظیمونو د تسلط نه د رازیږیدلو پیښو تت انعکاس هم د مجلې په پاڼو کی شوی دی . د دریمی مرحلی د وروستي کال په وروستیو ګڼو کې دې خواته توجه شوې ده ؛ په څلورمه مرحله کې د روانو حالاتو د واقعي خبرې په څرګندولو زیات زور اچول شوی دی .

۷ - د افغانستان د سیاسي ، اجتماعي ، اقتصادي او فرهنګي ړنګو شویو بنسټونو د بیا رغاونې مسایل په مجله کې نه دي هیر شوی ؛ په عامو فرهنګي او اجتماعي مسایلو یې هم مقالې نشر کړې دي .

۸ - د مجلی په ټولو د مخنیو مراحلو کې د مجلی نشراتي اهدافو

ته د پاملرنې مسأله یو څه د چلوونکو د ذوق تابع ښکاري . کوم موضوعات او مسایل چې د چلوونکو په ذوق برابر وو ، د هغو موضوعاتو نشر ته یې زیاته پاملرنه کړې ده . داسې یې نه دي کړي چې د ټولنې اهدافو او د مجلې نشراتي کرنلارې ته په پاملرنه د مجلې د هرې ګڼې په مطالبو کې په موضوعي لحاظ تناسب او توازن وساتي .

(۲) درې میاشتنۍ WUFA :

د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې د خپل فعالیت په لومړي کال د خپلواکۍ د مجلې د خپرولو ترڅنګه د درې میاشتنۍ WUFA مجلې نشر ته هم توجه وکړه .

د دې مجلې نشراتي اهداف د لیکوالو ټولنې د اهدافو په رڼا کې اوډل شوي او د دې ټولنې له کرنلارې سره سم یې خپله نشراتي پالیسي عیاره کړې ده . د WUFA مجلې د نشراتو عمده هدف دا و چې نړیوال د افغانستان له رواني وضعې ، د روسي یرغلګرو او رژیم له ناروااو او ظلمونو ، د افغانستان د پرابلم له بیلا بیلو سیاسي ، اجتماعي اونظامي اړخونو ، په افغانستان کې د بشر د حقوقو له نقض او له جنګ او جګړې سره تړلیو نورو ناتارونو خبر کاندي . مجلې د دغو مسایلو له نشر سربیره د افغانستان او افغاني جامعې په تاریخ ، فرهنګ او اجتماعي جوړښت ؛ د افغاني کوچیانو په باب څېړنیز تحقیقي او تحلیلي مقالی چاپ کړې دي . د افغان پرابلم د حل لپاره یې نظریات او پیشنهادونه او د متخصصو کسانو نظریات وړاندې کړي دي . له دموکراسی ، پلورالیزم او د هیواد په سیاسي ژوند کې یې ټولو افغانانو ته د حقوقو له ورکړې دفاع کړې ده ؛ د افغانستان د روسي سازۍ پرضد او هم یې د روسانو او رژیم د اهدافو او عزایمو د رسوا کولو په لاره کې هڅه کړې ده .

د WUFA مجله له ابتدا دري میاشتنۍ چاپ شوې ده . کچه یې
۲۲ X ۲/۱-۱٤ سانتي متره ټاکل شوې د مخونو شمیر یې په ټولو
گڼو کې مختلف دی . د مجلې د پوښ لپاره شین رنگ ټاکل شوی او د
ټولو گڼو پوښ شین دی . د مجلې د هرې گڼې په اول مخ کې د لیکوالو
ټولنې تر نښان لاندې د دوه خطه تور جدول په منځ کی WUFA لیکل
شوې ده ؛ نورې نشراتي ځانگړنې او د ټولنې پته د پوښ په منځنیو
مخونو کې چاپ شوې ده ؛ د پوښ دوهم او دریم مخونه په ډیرو گڼو کې
سپین چاپ شوي دي ؛ په ځینو گڼو کې د وفا د خپرونو لست او په
ځینو گڼو کې یې بیا په دې مخونو کې ځینې ضروري یادونې ، لکه :
"په مجله کی د خپریدونکو مطالبو نظر د آزاد افغانستان د نظر
ښکارندویی نه کوي » او دې ته ورته نور په نشراتي چارو پورې مربوط
یادښتونه چاپ کړي دي . د پوښ په څلورم مخ کې یوازې د لومړي کال
له څلورمې گڼې پرته نور د شپږم کال تر دوهمې گڼې پورې ، د
روسانو په باب د امیر عبدالرحمن خان د هغې مشهورې خبرې انگریزي
ترجمه چاپ شوې ده . د شپږم کال له دریمې گڼې ان د اووم کال ترپایه
پورې د مجلې د پوښ پر څلورم مخ د لیکوالو ټولنې د نشراتی اهدافو
او د ټولنې د آزاد خصوصیت په باب ځینې ټکي په انگریزي ژبه چاپ شوي دي .

د WUFA د لومړي کال لومړۍ گڼه په ۱۹۸۵ ع کال کې چاپ
شوې ده ، خو له مجلې دا نه ښکاري چې دا گڼه د کومو میاشتو ده ؟
ځکه پر مجله یې میاشتنې نه دي چاپ کړې . د دې کال دوهمه گڼه د
۱۹۸٦ ع کال د جنوری - مارچ د میاشتو ده . دوهم کال باید د ۱۹۸٦
ع کال په وروستیو دریو میاشتو کې پیل شوی وای ، خو د مجلې
چلوونکو د لومړي کال پر وروستۍ گڼه د جولای او دسامبر میاشتې
لیکلې دي او دوهم کال یې له ۱۹۸۷ ع کال نه راپیل کړی دی .

لښکرو پر افغانستان تجاوز وکړ . په دغو مهاجرتونو کې د کليوالو خلکو ترڅنګه تعليميافته ، منورين ، علما ، استادان ، ښوونکي ، فوجي افسران او ملکي مامورين ګرده شامل وو .

د افغان مهاجرانو له دغو اقشارو څخه ځينو د مهاجرت د ناباوره محيط له ناخوالو سره اړخ ونښو لګولای او د ليرې ملکونو لار يې خپله کړه ، خو ځينې د مبارزې په جذبه پاتې شول . په پاتې شويو کې ځينو د حالاتو د نامساعدوالي په وجه د عافيت کنج غوره وګاڼه او ځانته يې څه داسې کارونه پيدا کړل چې د چا مخ نه ور اوښت . خو ځينو د هر ډول مشکلاتو له موجوديت سره سره د رژيم پرضد او د پردو متجاوزو قواوو پرضد او د افغانستان د اشغال پرضد مبارزه پيل کړه .

د کابل پوهنتون د استادانو او فرهنګيانو يوې ډلې د شهيد استاد پوهاند دوکتور سيد بهاءالدين مجروح (۱۹۲۸ - ۱۹۸۸ ع) ترمشرۍ لاندې په ۱۹۸۱ ع کال کې د افغان اطلاعاتي مرکز په نامه يوه اداره جوړه کړه (۱) . د دې ادارې فرهنګي غړيو او استادانو د پردو پرضد د هر اړخيزې مبارزې د پرمخ بيولو ترڅنګه د اطلاعاتي مرکز له لارې يو بولټن هم خپراوه او له پردي لښکر سره د افغانانو د جګړې واقعيتونه او د افغانستان حالات يې پکې منعکسول .

افغان اطلاعاتي مرکز د افغان فرهنګيانو او د پوهنتون د استادانو د فعاليت لومړنۍ هسته وه له دې هستې دوی خپله مبارزه پيل کړه او د همدې هستې ځينو فعالو غړو بيا د آزاد افغانستان د ليکوالو ټولنې د جوړولو اراده هم څرګنده کړه .

---

(۱) افغانستان (مجله) افغان اطلاعاتي مرکز ، ۱ ګڼه ، ۱۹۹٤ ع ، ٦ مخ . اما د پروفيسور امين په يوه ليکنه کې د افغان اطلاعاتي مرکز د تأسيس کال ۱۹۸۰ ع ښوول شوی دی ، کيدای شي بنسټ يې په دې کال ايښوول شوی وي او فعاليت يې په ۱۹۸۱ ع کال پيل کړی وي .

د WUFA مجله په ۱۹۸۵ - ۱۹۸۶ ع کلونو کی څلور گڼې، په ۱۹۸۷ - ۱۹۸۸ ع کلونو کی هم څلور څلور گڼې چاپ شوې ده . په ۱۹۸۹ ع کال کی درې گڼې چاپ شوې ده ، دریمه او څلورمه گڼه یې یوځای راغلې دي . په ۱۹۹۰ ع کال کې بیا ٤ گڼی چاپ شوې ده .

په ۱۹۹۱ ع کال د WUFA په نشراتي ژوند کې یو تحول راغلی دی او مجله دوه میاشتنۍ شوې ده ، خو په دې کال کې د دې پرځای چې شپږ گڼې چاپ کړې پنځه گڼې یې چاپ کړې دي او شپږمه یې گرد سره نه ده چاپ کړې . په ۱۹۹۲ ع کال کې مجله بیا درې میاشتنۍ شروع شوې لومړۍ گڼه یې د جنوری - مارچ د میاشتو ده ، له اپریل نه تر دسامبره پورې یې بیا یوه بله گڼه ایستې ده ، دا په دې معنی چې په ۱۹۹۲ ع کال کې د WUFA مجله دوې گڼې چاپ شوې ده . د ۱۹۹۳ ع کال له پیله مجله بنده شوه .

د WUFA لومړۍ گڼه مدیر نه لري او د کتونکې ډلې ترنظر لاندې چاپ شوې ده . په کتونکې ډله کې پروفیسور امین ، دوکتور ممتاز ، احمد یوسف نورستانی ، حکیم تنهیوال ، جنرن نصرالله صافی او عبدالحی ورشان شامل وو . خو په دوهمه گڼه کې یې احمد یوسف نورستانی د مدیر په توگه او له ښاغلي ورشان پرته نوره ټوله د مخه یاده شوې ډله د کتونکې ډلې په حیث معرفي شوي دي . په دریمه گڼه کې بیا پروفیسور امین د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې د مشر په توگه ، احمد یوسف نورستانی د مدیر په توگه ، حکیم تنهیوال ، دوکتور ممتاز او نصرالله صافی د کتونکې ډلې په توگه معرفي شوي دي .

په څلورمه گڼه کې د پروفیسور رسول امین له نامه سره Editor in Chief کلمات لیکل شوی دی او د احمد یوسف له نامه سره Editor لیکل شوی دی ، خو د ښاغلی آصف اکرام نوم پکې د

مجلې د مرستیال په توګه چاپ شوی دی . په دې ګڼه کې د کتونکې ډلې پرځای د Advisory Board اصطلاح راوړل شوې ده او په دې بورډ کې د حکیم تنیوال ، ممتاز او سید فقیر علوي نومونه راغلي دي . د دوهم کال د لومړۍ ګڼې چلوونکی او د بورډ خلك هماغه د پخوانۍ ګڼې دي ، خو په دوهمه ګڼه کې بیا د بورډ له غړیو د سید فقیر- علوي نوم لیرې شوی دی . په دریمه ګڼه کې په بورډ کې د عبدالکریم محب نوم ور زیات شوی دی . په څلورمه ګڼه کې بیا د عبدالحی ورشان نوم پکې ور زیات شوی دی .

د دریم کال په لومړۍ ګڼه کې د چلونې هیئت او د بورډ غړي هماغه دي . په دوهمه ګڼه کې مجله مدیر نه لري ؛ د پروفیسو امین نوم د Editor in Chief په توګه او د ښاغلي اکرام نوم د Associate Editor په توګه پکې چاپ دی ، خو په بورډ کې د دمخنیو کسانو ترڅنګه د احمد یوسف نورستانی نوم هم شامل شوی دی او سر له همدې ګڼې دی نور د مجلې د مدیر په توګه نه دی معرفی شوی. د دې کال ترپایه د مجلې د چلونی هیئت او د بورډ غړي همدا کسان دي .

دڅلورم کال په لومړۍ ګڼه کی مجلې اسوشید ایډیټران پیدا کړي دي . د ښاغلي اکرام ترڅنګه ښاغلي عبدالواجد عادل هم په دې کار ګمارل شوی دی . پروفیسور امین مشر مدیر دی ، خو په بورډ کې د ښاغلي عبدالکریم محب نوم نه لیدل کیږي . د دې کال په دوهمه ګڼه کې بیا د چلونې هیئت او د بورډ په غړیو کې تغییر راغلی دی . مشر مدیر په خپل ځای دی ، خو د Associate Editor ترڅنګه د عادل او د Assistant Editor ترڅنګه د احمد یوسف نورستانی او آصف اکرام نومونه چاپ شوي دي . په بورډ کې حکیم تنیوال ، زین- العابدین ممتاز او عبدالحی ورشان شامل دي . د دې کال په دریمه او

ځلورمه ګڼه کې د چلوونې هيئت او د بورډ غړيو کې کوم تغيير نه دی راغلی .

د مجلې د پنځم کال د لومړۍ ګڼې د چلونی په هيئت او بورډ کې تغييرات راغلي دي . پروفيسور امين او عادل پرځپل ځای دي ، خو د Assistant Editor ترڅنګه د سيد افضل شيرزاد نوم چاپ شوی دی . په مشورتي بورډ کې : نورستانی ، اکرام ، تهيوال ، ممتاز او د عبدالحی ورشان نومونه راغلي دي . د دې کال په دوهمه ګڼه کې د عادل نوم له Associate Editor نه مشورتي بورډ ته انتقال شوی دی او د عادل پرځای سيد افضل شيرزاد د مجلې د Associate Editor په توګه مقرر شوی دی . د دې کال په دريمه ګڼه کې له مشورتي بورډ نه يوازې د عبدالحی ورشان نوم ايستل شوی دی . د هيئت نور غړي هماغه پخواني دي . د مجلې د پنځم کال په ځلورمه ګڼه کې مشر مدير پروفيسور امين او Associate Editor سيد افضل شيرزاد دي . په دې ګڼه کې مشورتي بورډ نشته .

د شپږم کال په لومړۍ ګڼه کې چلوونکی هماغه پخوانی دی، خو په مجله کې بيا د بورډ د غړيو معرفی داسې شوې ده : نورستانی ، اکرام ، تهيوال او عادل . د دې کال په دوهمه کې د اسوشيد اډيټر پرځای Associate Editors احسان آذري او شيرزاد معرفی شوي دي . په بورډ کې هم تغيير راغلی دی او د آصف اکرام نوم ترې ليرې شوی دی ؛ په دريمه ګڼه کې اسوشيد اډيټر يو تن دی ؛ د شيرزاد نوم ترې ليرې شوی دی او په بورډ کې د پخوانيو دريو تنو ترڅنګه د ابراهيمی نوم ور زيات شوی دی . په ځلورمه ګڼه کې د چلوونې هيئت او د بورډ غړي هماغه د دريمې ګڼې دي ، خو په پنځمه ګڼه کې د احسان آذري نوم د Editor په توګه چاپ شوی دی او په بورډ کې د نورستانی نوم نشته او پرځای يې د حکيم اريوبی نوم چاپ شوی دی .

د اووم کال په لومړۍ ګڼه کې مشر مدیر پروفیسور رسول امین ، مدیر ښاغلی حکیم اریوبی او د بورډ غړي يې ښاغلو حکیم تنهيوال او احسان آذري دي . د دې کال په یوه بله چاپ شوې ګڼه کې بیا مدیر پوهاند دوکتور محمد رحيم الهام او Associate Editor عبدالواجد عادل او Assistant Editor یې نجیب الله سلام دی . په بورډ کې د ښاغلو حکیم تنهيوال او حکیم اریوبی نومونه چاپ شوي دي . دا وو هغه کسان چې د مجلې په چلولو او د مضامینو په برابرولو او کتلو کې یې د WUFA مجلې سره مرسته کړې ده .

د WUFA خپرونو ته یوه کتنه :

WUFA د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې انګریزي مجله وه ، چې په اوه کلن نشراتي عمر کې يې ۲٦ ګڼې راوتې دي او د افغانستان د حالاتو او اوضاعو ، سیاسي ، اجتماعي وضعی او فرهنګي خصوصیاتو په باب یې تحلیلونه او تفسیرونه او کله هم علمي ، تحقیقي مقالې چاپ کړې دي . موږ د دې مجلې نشراتو ته په عام ډول دا لاندې خصوصیات ټاکلی شو :

۱ – د مجلې د لومړیو کلونو په نشراتو کې ډېر زور ، د رژیم او اشغالګرو قواوو د جنایاتو پرافشا کولو ، د رژیم د ماهیت ښوولو ، د رژیم او اشغالګرو د اهدافو د څرګندولو په مسایلو اچول شوی دی . له افغانستان نه د اشغالګرو قواوو له وتلو وروسته د بحران د خاتمې او سیاسي حل ته د رسیدو موضوع د مجلی د نشراتو د توجه په محراق کې واقع ده . د افغانستان د بیا جوړونې په ارتباط د مضامینو خپرولو ته هم د مجلې مخه ورګرځیدلې ښکاري .

۲ – په مجله کې د مضامینو ترڅنګه د افغانستان د مسألې په باره

کی د نظریاتو د ښرګندولو لپاره په بیلا بیلو وختونو کې مجلې د ځینو کسانو مصاحبې او مرکې هم خپرې کړې دي ، لکه : له روسي لیکوال ولادیمیر لوکوفسکی سره مصاحبه ؛ د دریم کال دوهمه ګڼه ، له آلمانی پوه Dr. Jon Heeren Grevemeyer سره مرکه ؛ د څلورم کال لومړۍ ګڼه : د کابل پوهنتون له ځینو استادانو سره مرکې او له پروفیسور لویی دوپرې سره مرکه هم په همدې ګڼه کې چاپ ده . له پیر-سید احمد ګیلانی سره مرکه د پنځم کال لومړۍ ګڼه ؛ له حضرت صبغت الله مجددی سره مرکه د پنځم کال دوهمه ګڼه ؛ له دوکتور محمد یوسف او دوکتور عبدالصمد حامد سره مرکې د پنځم کال دریمه ګڼه ؛ له ښاغلو عبدالرحمن پژواک ، سید شمس الدین مجروح او انتونی هایمن سره مرکې د شپږم کال دوهمه ګڼه کې خپرې شوې دي .

۳ - د مصاحبو ترڅنګه د WUFA مجلې ځینې خاص ګزارشونه او راپورونه هم نشر کړي دي ، دا ګزارشونه د روسانو او خلق پرچم د رژیم د عسکرو په مظالمو (لومړی کال ۲ ګڼه) په ځینو بین المللي سیمینارونو او هم د دی مسألی په اړه نورو موضوعاتو پورې اړه لري .

٤ - WUFA د ښځو په مسایلو پورې مربوطې لیکنې هم چاپ کړې دي . دغه راز مجلې له ابتدا نه د افغان مهاجرینو خوار او زار حالت هم له پامه نه دی غورځولی ، په دې موضوع پورې مربوط یې ډیرې لیکنې خپرې کړې او ګزارشونه نشر کړي دي .

۵ - په مجله کې له افغاني لیکوالو سربیره د خارجي پوهانو مقالې هم چاپ شوې دي ، لکه : د انتونی هایمن ، لویی دوپرې ، نینسی دوپرې ، دوکتور روبین ، کرستینا دامیر ، اولیور هکنبرګ او نورو ډیرو اروپایی ، امریکایی پوهانو او ورسره د ځینو پاکستانیانو مقالی . په مجله کې د خارجي پوهانو او مفسرینو د مقالو نشر په دې دلالت کوي

چې له دې مجلې سره خارجیانو هم علاقه درلوده او خپلې لیکنې یې دې مجلې ته د نشر لپاره استولې .

۶ - د WUFA مجلې په خپرو شویو ګڼو کې درې ګڼې د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې له خوا د جوړو شویو ځینو سیمینارونو د مقالو نشر ته وقف شوې دي ، لکه : د شپږم کال وروستۍ ګڼه او هم د اووم کال په دوو خپرو شویو ګڼو کې یوازې د سیمینارونو مقالې چاپ شوې دي .

۷ - که څه هم WUFA د کمونستي رژیم له سقوط وروسته د تنظیمونو د سلطې په لومړیو اوو میاشتو کې جاري وه ، خو له دغه تغییر نه د رازېږېدلو واقعاتو په ارتباط مطالب پکې نه دي نشر شوي .

The WUFA (Incidental Issue): - (۳)

د آزاد افغانستان لیکوالو ټولنې د ۱۹۹٤ ع کال له پیله دا پتیېلې وه چې د خپلواکۍ مجله به هم فعالوي او ورسره به دا هڅه هم جاري وساتي چې د افغانستان د روانو ویرجنو او غملړلو حالاتو نه د بهرنیانو د خبرولو لپاره په انګریزي ژبه یو بولټن هم خپور کړي . له غور او فکر وروسته د ټولنې د ریاست مقام دا وپتییله چې یوه مجله به په انګریزي ژبه خپروي خو هغه به په تصادفي ډول چاپېږي ، کله چې حالات تاوده شي او د حالاتو په ارتباط ضروري مطالب پیدا شي نو به دا مجله خپرېږي .

هماغه و ، چې د ۱۹۹٤ ع کال د جولای په میاشت کې د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې د (The WUFA Incidental Issue) د چاپ چارې پیل کړې او د همدې کال د اګست په میاشت کې دا مجله راووته . اما د تصادفي پرځای یې د دوه میاشتنۍ مجلې شکل غوره کړ . په تېر ۱۹۹٤ ع کال کې د دې مجلې دوې ګڼې چاپ شوې . د دې انګریزي مجلې نشراتي روش ، قطع او صحافت ، د مخونو

شمیر د انگریزي ژبې خپرې شوې WUFA مجلې نه بیل دی . پوازې د پوښ رنګ یې (شین) د پخوانۍ WUFA سره یو شی دی . د مجلې د لومړۍ ګڼې قطع : ۲۱ X ۱۵ سانتی متره او مخونه یې ۵٦ دي . د مجلې د پوښ په لومړي مخ کې د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې تر نشان لاندی لیکل شوي دي :

The WUFA او تر لاندې یې بیا لیکلي دي :

Incidental Issue . ورسره په څنګ کې د ۱۹۹٤ ع کال جولای - اګست میاشتی راغلي دي . ترې لاندې بیا د افغانستان نقشه ده او د نقشې په منځ کې راغلي دي : موږ سوله غواړو We Want Peace ! ترنقشې لاندې په انګریزي د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنه (WUFA) . د پوښ په دوهم مخ کې مشر مدیر پروفیسور رسول امین او مدیر دوکتور فضل الرحیم مروت ، د اشتراك شرح او آدرس معرفي شو ي دي ، په دریم مخ کې د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې عمده اهداف او په څلورم مخ کې یې د علامه اقبال لاهوری (۱۸۷۷ - ۱۹۳۸ ع) مشهور شعر :

آسیا یك پیکر آب وګل است
ملت افغان در آن پیکر دل است
از فساد او فساد آسیا
در کشاد او کشاد آسیا

راوړل شوی او ترې لاندې یې انګریزي ترجمه راغلې ده .

د مجلې په لومړۍ ګڼه کی : د پخوانی پاچا اعلیحضرت محمد-ظاهرشاه ، ښاغلی سید شمس الدین مجروح او دوکتور محمد یوسف د مصاحبو انګریزي ترجمې (دا مصاحبی په دري او پښتو ژبو د وفا په جریده کې نشر شوې دي) د ښاغلی افراسیاب خټك او پروفیسور امین

مصاحبې او وریسې د ښاغلي عادل ظریف او ډاکتر فضل الرحیم مروت مقالې او په پای کې دوه خبرونه راغلي دي .

د دې مجلی ټول محتویات د افغانستان روان ناورین ته وقف دي او د دې ناورین د له منځه وړلو لپاره د سوله ییزو لارو د موندلو او د افغانستان د روانی شخړې په حل کې د ملګرو ملتونو د پدل په ارتباط مطالب او بیانونه پکې راغلي دي . د مجلې نورې دوې خپرې شوې ګڼې (دوې د ۱۹۹٤ ع کال یوه د ۱۹۹۵ ع کال) هم همدا خصوصیات لري ، مصاحبې ، ګزارشونه او ځینې تحلیلونه پکې چاپ شوي دي .

(٤) د وفا جریده :

د افغانستان له جاري حالاتو د افغانانو د خبرولو او د جاري وضعې په ارتباط د خبیرو اشخاصو د نظریاتو د منعکسولو په منظور د ۱۹۹۱ ع کال په نومبر کې د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې د وفا جریده خپره کړه . د دې جریدې لومړۍ ګڼه ٤ مخه د نومبر په ۷ مه چې د ۱۳۷۰ هـ ش کال د عقرب له ۱٦ مې سره سمون خوري چاپ شوه . له دې لومړۍ ګڼې وروسته یې پانې اته شوې ، چې تراوسه همدا اته مخه چاپیږي . د لومړۍ ګڼې قطع یې ٤۱ X ۲۹ سانتي متره ده او قطعې یې هم تراوسه تغییر نه دی کړی .

د اخبار د لومړۍ ګڼې په اول مخ کی پر پخواني پاچا اعلیحضرت المتوکل علی الله محمد ظاهرشاه باندې د قاتلانه حملی ګزارش ، وریسې شوروي اتحاد ته د مجاهدینو د هیئت د سفر ګزارش ، بیا د عرض مرام تر سرلیک د امین پنجشیری یادونه ، او په دوهم مخ کې سرمقاله چاپ شوې چې پروفیسور امین لیکلې ده او ورسره په دې مخ کې د پوهاند هاله او هم یوه بله مقاله چاپ شوې ده . په نورو دوو مخونو کې د یادو شویو

مطالبو بقيې راغلې دي . په اوله ګڼه کې راغلي دي :

Editor in Chief : Prof. Amin

Editor: Amin Panjshiri

Associate Editor: Mirza Mohammad Kunari

Managing Editor: Pir Muhammad Karwan

په دوهمه ګڼه کې بیا دا نومونه په پښتو په دې ډول چاپ شوي دي .

د آزاد افغانستان د ليکوالو ټولنی مشر : پروفيسور عبدالرسول امين

مسؤول مدير : امين پنجشيری

مرستيالان : مرزا محمد کونړی ، پير محمد کاروان

د چلونې د هيئت په لوړ ترکيب کې تراوسه دغه تغييره راغلي دي . د ۱۹۹۲ ع کال د جون له ۲۰ مې نيټې څخه سرمحقق زلمی هيوادمل د ښاغلي امين پنجشيری په ځای مقرر شوی دی او د ۱۹۹٤ ع کال د اګست له مياشتې پير محمد کاروان خپل ځای پرې ايښی او د همدې[۹۴] کال په ختميدو سره د ښاغلي کونړي وظيفه هم ختمه شوه . اوس په اخبار کې له هيوادمل پرته عبدالوکيل شينواری د خبريال په توګه او ښاغلو سيد حسين پاچا او محمد ظاهر بابري د تخنيکي همکارانو په توګه کار کوي .

د وفا جريده د آزاد افغانستان د ليکوالو ټولنې د نشراتي ارګان په توګه تراوسه چاپيږي ، خو که چيرې څوك د دې جريدې ټولې خپرې شوې ګڼې له نظره تيرې کړي ، نو ورښکاره به شي ، چې دې جريدې په خپل کابو څه د پاسه درې کلن عمر کې له مختلفو جهاتو څو بيلا بيل مراحل تر شا کړي دي ، چې په لاندې ډول يې څيړلای شو :

۱ - د وفا جريده د پنځلس ورځنۍ جريدې په توګه جاري شوې وه او له معمول سره سم بايد په لومړنی نشراتي کال کې پنځلس ورځنۍ چاپ شوې وای ، خو کله چې سړی د جريدې د لومړي کال ګڼې ګوري دا جريده

پنځلس ورځنۍ نه ده چاپ شوې ؛ د ۱۹۹۲ ع کال د جون د میاشتې تر اواخرو د دې جریدې یوازې دولس گڼې چاپ شوې وې ، له معمول سره سم باید تر دغه وخته جریده ۱۶ گڼې چاپ شوې وای . څلور گڼې بیرته پاتې وه نوځکه د ۱۹۹۲ ع کال د جولای له میاشتې د نشراتي کال ترپایه (د ۱۹۹۲ ع کال اکتوبر) څلور میاشتې دا جریده لس ورځنۍ چاپ شوه دا ځکه چې د تیرو میاشتو پسماني باید رفع شوې وای .

کله چې دوهم نشراتي کال د ۱۹۹۳ ع په نومبر کې پیل شو ، جریده بیرته پنځلس ورځنۍ شروع شوه او د همدې ۱۹۹۲ ع کال ترپایه پنځلس ورځنۍ وچلیده او په دوو میاشتو کې یې څلور گڼې خپرې شوې . د ۱۹۹۳ ع کال له پیله جریده هفته یې شوه او په هره اوه نۍ کې چاپیده . له عام دود سره سم باید د جریدې دوهم نشراتي کال د ۱۹۹۳ ع کال د اکتوبر په پای کې ختم شوی وای ، خو دا چې جریده د ۱۹۹۳ ع کال له پیله هفته یې شوې وه ، نو یې دوهم کال لږ اوږد شو او دوهم نشراتي کال یې د ۱۹۹۳ ع کال په پای کې ختم شو .

دریم نشراتي کال یې د ۱۹۹٤ ع کال له پیله د تمویل د امکاناتو د نشتوالی په حالت کې پیل کړ ، نوځکه د مالي مشکلاتو له امله جریده په نامه هفته یی وه ، خو دوې دوې گڼې به یې یوځای کیدې . د ۱۹۹٤ع کال په جون ، جولای ، اگست کې بیا هفته یي چاپیده ؛ له سپتمبره را په دیخوا بیا کله کله داسې راغلي چې دوې گڼې په یوه کې چاپ شوې دي . په څلورم نشراتي کال کې بیا هم د مالي منابعو د لږوالي له امله جریده دوه گڼې سره یوځای کیږي .

۲ - په صحافی لحاظ هم په جریدې کې په مختلفو وختونو کې تغییرات راغلي دي چې په لاندې ډول ورته اشاره کوو : اخبار ته چې کومه صحافتي بڼه په ابتداء کې ټاکل شوې وه ، هغه د ۱۹۹۲ ع کال د

د موضوع د روښانتیا لپاره به زه د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې د مشر پروفیسور امین د یوې لیکنې ځینې برخې دلته راوړم : « له مرکز څخه له وتلو وروسته د امین او تنهیوال ترمنځ لیدل کتل کیدل او دواړو تل په دې موضوع ، چې مونږ هم ، لکه د نورو افغانانو غوندې خارجي هیوادو ته لاړ شو او که دلته پاتې شو ، بحث کاوه . په خارج کې د ژوند او ژوندي پاتې کیدو شرایط موجود وو ، خو خارج ته تګ په واقعیت کې د تیښتې او د افغانستان اولس ته د شا اړولو پرته بل هیڅ مفهوم نه درلود ، په دې هم نه پوهیدو چې دلته د پاتې کیدو په صورت کې مونږ څه وکړو ، څنګه یې وکړو او له کوم ځای څخه یې پیل کړو ؟ دواړو فیصله وکړه چې دلته پاتې کیږو ، اما د څه کولو لپاره باید چې د نورو تعلیمیافته وو سره تماس ونیسو او مشوره ترینه واخلو » .

په دې دول پروفیسور امین او ملګرو د یو سیاسي ، فرهنګي کار او مبارزې په منظور د یوې اداري د جوړولو هڅه پیل کړه . د پروفیسور امین په لیکنه کې په همدې ارتباط یو بل ځای لولو :

« په لومړۍ مرحله کې مو له ښاغلي دوکتور غازي عالم ، ښاغلي عبدالجبار ثابت او ښاغلي عبدالله جان خلیل سره خبرې وکړې او درېواړو مثبته مشوره راکړه. ساغلي ثابت «د آزاد افغانستان د لیکوالو اتحادیه» (Writer Union Of Free Afghanistan (WUFA)) نوم پیشنهاد کړ او د اتحادیې د انګریزي نوم لنډیز (وفا) غوره کړای شو ، چې دغه لنډ نوم (وفا) په پښتو او دري دواړو ژبو کې ښه او مثبت مفهوم ادا کوي ... ښاغلی ثابت د وفا د اساسنامې په لیک او ښاغلي عبدالله جان خلیل د وفا د پروژې په لیک لاس پورې کړ او په څو ورځو کې دواړو خپل ورسپارل شوي لیکونه تکمیل کړل ؛ له دې سره ثابت د وفا د غړي په حیث ، ښاغلي عظمت

جون ترپایه تعقیب شوه . د همدې کال د جولای له لومړیو ورځو د اخبار صحافي بنه تغییر شوه او د ژورنالیزم له اساساتو سره سم د اخبار دوهم مخ Editorial Page ته خاص کړای شو چې : سرمقاله ، کومنټري ، خط او کارتون پکې چاپیري . د فرهنګ او ادبیاتو دوې صفحې پکې مشخصې شوې ، چې له خپلو ځانګړو کلیشو سره په هره ګڼه کې چاپیږي . په اول مخ کې د ورځې پر مهمو موضوعاتو د تبصرې یو خاص ستون پرانیستل شو ، چې د : درحاشیهء رخدادها ومسایل روز ، ترکلیشی لاندی پکی ځینې عمده مقالې چاپیږي . د بشر حقوق ، اسلامي ښوونې ، د ښځو موقف او حقوق ، د افغانستان د پیښو په باب تحلیلونه او تفسیرونه ، یاداشتونه او برداشتونه ، مصاحبی او راپورتاژونه د کابل قصې ، د تللیو یاد ، کره کتنه ، د افغانستان مسایل او د نړۍ مطبوعات هغه کلیشی دي چې د ۱۹۹۲ ع کال له جولای نه یې دی اخبار ته لاره پیدا کړې‌ده او په بیلا بیلو مواقعو کې د اخبار په پاڼو کې څرګندې شوې دي .

د اخبار صحت ته توجه کیږي او د مضامینو په اډیت کې د پښتو او دري د مروجو معیاري املاوو خیال ساتل پکې هم د ۱۹۹۲ ع کال له جولای نه پیل شول او ورو په ورو یی د تطبیق او عملي کیدو لمن پراخه شوه . د جریدې په نشراتي بهیر کې د عمده افغاني ژبو پښتو او دري توازن ته پکې تر هر څه زیاته توجه کیږي او زیار ایستل کیږي چې نشرات په موازنه توګه په دواړو ژبو عیار شي . په اخبار کې ځینې نور صحافي تحولات هم راغلل او د ۱۹۹۳ ع کال له پیله د اخبار په شکل او ډیزاین کې محسوس تغییر راغی ، دا تغییر د دوهم کال له دیرشمې ګڼې یو بل پرمختللی پړاو ته داخل شو د لومړۍ صحفې ډیزاین بدل شو اود دریم نشراتي کال له پیله یې په

ډیزاین کې ځینې نور تغییرات هم راغلل ؛ د ډیزاین او صحافي ښکلا خواته هڅه لیدله کیږي ؛ په څلورم کال کې هم د لومړي مخ په ډیزاین کې تغییر وارد شوی دی .

۳ - د وفا اخبار د اخبار نشراتي اهداف په ستره کې هماغه د آزاد افغانستان لیکوالو ټولنې د کړنلارې په چوکاټ کې ټاکل شوي دي . کله چې د وفا جریده تأسیس شوه ، نو هغه وخت د کابل رژیم د سقوط په حالت کې د افغانستان د بُحران د خاتمې لپاره بین المللی هڅې هم په جریان کې وې ، نو دا وخت د دې جریدې خپرونې د دغسې شرایطو په محور چورلیدې . هغه وخت عمومي تمایل دا و او زیات زور په دې اچول کیده چې د ملګرو ملتونو په منځګړتوب د افغانستان دولتي قدرت د خلق - پرچم له رژیم نه په مسالمت آمیز ډول یوې دریمګړې قوې ته وسپارل شي . د وفا جریدې هم د ملګرو ملتونو د پلان تر سبوتاژ پورې په دې ساحه کې خپرونې کولې او ځینې عام موضوعات یې هم چاپول . کله چې د ۱۹۹۲ ع کال په اپریل = ثور ۱۳۷۱ هـ ش کې ځینو خود خواهو جاه طلبو مصنوعی قوماندانانو او د لوټمارو ټوپک والاوو او ملیشو سرګروپانو د افغانستان د پاچاهي د خوبونو په نیت د بینن سیوان د سولې پلان سبوتاژ کړ ؛ پخوانی رژیم سقوط شو او ټوپکوال تنظیمونه او بی بندوباره داړه ماري ملیشې او سري خواره ټوپک والا د افغانستان پرځینو ښارونو قابض شول ، نو تر دې نیټې وروسته اخبار د ۱۹۹۲ ع کال د جون ترپایه ، په افغانستان کې د تنظیمونو د تسلط له امله د راپیدا شویو ګډوډیو په ارتباط خپرونې کولې .

د ۱۹۹۲ ع کال له جولای نه د اخبار د خپرونو په محتوی کې د پخوا په نسبت څه تغییر وارد شو ، ځکه دا وخت د تنظیمونو ترمنځ د قدرت طلبۍ جنګونه شروع شوي وو او مخ په زیاتیدو وو . خپل سري

په ټول ملك وزرې غوړولې وې ، د پوښتنې ځای نه و پاته ؛ د قانون پرځای د وسلې او زور حاکمیت پیل شوی و ؛ د بیت المال د ارایی او دولتي شتمنۍ ټولې او یا زیاته برخه یې چور شوې وه . د افغانستان فوج او پولیس له منځه تللي وو او فوجي وسایل او وسیلې یې تنظیمونو قبضه کړې وې ، څه وسلې ګاونډیو هیواد ته د کباړ په نامه راوړل شوې وې او ځینې چې پاتې وې ، قدرت طلبانو د افغانانو د وژلو لپاره په خپلو تنظیمي وسله توتونو کې ساتلې . د ځینو تنظیمونو ځینو بانفوذه کسانو د افغان واحد ملت د ورونو قومونو ترمنځ ژبني ، قومي ، سمتي او منطقه یي اختلافونو پیدا کولو ته په زوره لمن ووهله ، د مظلومو افغانانو ځانونه او مالونه ابرو او عزت له جدي خطراتو سره مواجه شوي وو .

دغسې خطرناکو او نازکو حالاتو ته په پاملرنه د وفا اخبار د خپلو امکاناتو او وسایلو په اندازه خپله ټوله توجه د افغانستان روانو حالاتو ته وقف کړه .

اخبار له هماغه وخته تراوسه پورې چې څه نشر کړي دي ، په بیلا بیلو برخو کې د افغان روان بُحران او پر افغانانو د نازلې تراژیدۍ د مختلفو اړخونو په څرګندولو اړه لري .

په دې پیر کې د اخبار د نشراتو ټوله توجه د افغان بُحران لپاره د سوله ییز حل د لارې موندلو ؛ د افغانانو ترمنځ د ملي وحدت د مزو د لا ټینګښت ؛ د افغانانو له حقوقو دفاع او د افغانستان د تمامیت د ساتنې مسایلو ته اوښتې ده .

د ۱۹۹۲ ع کال له جولای نه تراوسه پورې زیار ایستل کیږي چې د روان افغان بُحران په بیلا بیلو اړخونو باندې د نظر د خاوندانو نظریات واخیستل شي . د حل د یوې معقولې او له افغاني شرایطو سره برابرې لارې د موندلو لپاره هڅه وشي ، د افغانستان په بیلا بیلو برخو کې د

مسلط ناتار انځور وړاندې شي . د افغاني ميرمنو دردوونکی او رنځور حالت وښودل شي . له تنظيمي جنګونو نه د راتيښتيدلو او بې کوره شويو افغانانو پورې مربوط مسايل هم اخبار نه دي هير کړي . د هيواد دننه او د باندی یې د افغانانو احوالو ته توجه کړې ده . دغه ګرده مسايل يې د مقالو ، مصاحبو ، کيسو ، افسانو ، اشعارو ، طنزونو ، راپوړونو ياداشتونو ، راپورتاژونو او سفري ګزارشونو په بڼه خپلو لوستونکو ته وړاندې کړې دي .

د ۱۹۹٤ ع کال له اوايلو نه چې په افغانستان کې د چور ، غارت ، بی عفتيو ، وژلو ، ورانولو ، تخريب او بربادیو نوی پړاو شروع شو او ورسره جهاني توجه هم د افغانستان مسألی ته راوګرځيده ؛ د ملګرو ملتونو د امنيت شوری فيصله وکړه چی د افغانستان د مسألی د څيړلو لپاره دې یو هيئت منطقې ته ورشي . په دې وخت کې د اخبار د نشراتو موخه ، د ټولو بې پرې افغانانو له هيلو سره سم د افغان بُحران په حل کې د ملګرو ملتونو د پدل خواته راوګرځوله شوه . که څه هم د بُحران له پيل نه اخبار د آزاد افغانستان د ليکوالو ټولنې له عمومي اهدافو سره سم د افغانستان د مسألې د خاتمې لپاره د ملګرو ملتونو نقش ته ارزښت ورکړی دی ، خو د ۱۹۹٤ ع کال له پيله يې خپلې خپرونې زياتره د افغانستان د پرابلم د حل په لاره کې د ملګرو ملتونو منځګړتوب ته وقف کړې دي .

اخبار د ۱۹۹۲ ع کال له جولای نه تراوسه له عادي نشراتو سربيره ځينې فوق العاده خپرونی هم کړې دي :

۱ - د لومړي کال په پای کې يې کال ګڼه خپره کړه ، دا کال ګڼه ۲۸ مخه وه او په هغې کې يې د مقالو ، مصاحبو او نورو عادي اخباري مطالبو ترڅنګه د آزاد افغانستان د ليکوالو ټولنې له خوا د افغانستان د

مسألې په ارتباط په یو جوړ شوي سیمینار کې اوروړل شوې مقالې هم نشر کړې دي .

دغه راز د دوهم کال په پای کې هم اخبار یوه شل مخیزه کال ګڼه خپره کړه . په دې ګڼه کې یې د عادي اخباري مطالبو ترڅنګه ، د افغانستان د لویو لیکوالو تاریخي ، فرهنګي او سیاسي مقالې خپرې کړې او د دریم کال په پای کې یې هم ۲٤ مخیزه کال ګڼه چاپ کړه .

۲ – له کال ګڼو سربېره اخبار په دې موده کې ځینې فوق العاده ګڼې هم خپرې کړې دي . د مثال په ډول : کله چې د ۱۹۹۲ ع کال په اګسټ کې په کابل کې د متخاصمو ډلو له خوا ورانوونکې او هستي سوځوونکې جګړه ونښته ، دې جګړې په زرګونو په کابل کې میشتې کورنۍ مجبورې کړې ، چې جلال آباد او پېښور ته راشي . دې کورنیو هم په جلال آباد او هم په پېښور کې ډېر بدحال درلود . د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې د دغو مهاجرو د آواز د اوچتولو او د دوی ناوړه او دردناك حالت ته د توجه راګرځولو په منظور د اخبار یوه فوق العاده ګڼه ۱۲ مخه د ۱۹۹۲ ع کال په اګسټ کې خپره کړه . دا ګڼه ټوله د همدغو له جنګي ناورین نه د راتښتېدلو مهاجرو د حالت ښوولو ته وقف شوې وه . دغه راز ټولنې د مهاجرو د ژوند او روزګار د څرګندولو او د جهاني خیریه مؤسسو او افغانانو د توجه د جلبولو لپاره د ۱۹۹۳ ع کال په جریان کې د نویو مهاجرو د مسایلو په ارتباط یوه بله خاصه ګڼه هم خپره کړه .

د ۱۹۹۳ ع کال په اواخرو کې د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې په اسلام آباد کې د « افغانستان په څلورو لارې کې » تر سرلیك لاندې یو سیمینار جوړ کې . د دې سیمینار د ګزارشونو د خپرولو لپاره د اخبار د همدې کال وروستۍ ګڼه په فوق العاده ډول ۱٦ مخه چاپ شوه.

د ۱۹۹۳ ع کال د اگست په وروستیو نیټه په پیښور کې خلیل اولسي ادبي جرگې د احمد شاه بابا سیمینار او په ۱۹۹۵ ع کال کې همدا جرگه د پټې خزانې د لیکوال محمد هوتك سیمینار جوړوي ، د دغو دواړو سیمینارونو په ویاړ اخبار خاصې گڼې خپرې کړې او یا یې د خپرونې نیت لري .

۳ - د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې په ۱۹۹۳ ع کال کې د اخبار ځانگې ته وظیفه ورکړه ، چې د اخبار له لارې ځینې آثار په کتابي شکل هم خپاره کړي . د اخبار ځانگې د همدې هدایت له مخې تراوسه دغه لاندې کتابونه چاپ کړي او یا یې چاپ ته تیار کړي دي :

۱ - د افغانستان د بُحران او په افغانستان کې د بشري حقوقو د نقضولو په ارتباط د عفوې د بین المللی سازمان گزارش ، په دری ، پښتو او انگریزی ژبو خپور شوی دی .

۲ - د عبدالباري جهانی د اشعارو دویمه مجموعه « پایکوب » هم د اخبار د اداري لارې چاپ شوه. باید یاده کړو ، چې د چاپ لگښتونه یې ټول خپله ښاغلي جهانی ورکړي دي .

۳ - د ښاغلي محمد صدیق پسرلي له خوا د رابندر ناتهـ ټاگور د گیتانجلی پښتو منظومه ترجمه ، د پوهاند رشاد د شعرونو مجموعه (د افغانستان بدې ورځې) او د ټولنی دغه تاریخچه هم دې ځانگې چاپ ته آماده کړي دي .

یادونه : موږ له خپلې وسې ، توان او همدا ډول له میسرو امکاناتو سره سم تل دا هڅه کړې ده ، چې د اخبار خپرونې ورځ تر بلې بهبود پیدا کړي . په همدې نیت مو په ۱۹۹٤ ع کال کې له لوستونکو نه د نظرخواهی یو کمپاین پیل کړ . ډیرو ښاغلیو خپلې نظریې موږ ته راکړې ، موږ زیار ایستلی دی ، چې د خپلو گرانو لوستونکو نظریات په

پام کې وساتو ، خو له دې ټولو سره سره بيا هم اوضاعو ، احوالو او مالي وضعې ته په پاملرنه زموږ خپرونې ځينې نيمګړتياوې هم لري ، چې ځينو ته به يې زه لاندې اشارې وکړم :

۱ - موږ د مسؤولو حرفه يي او زموږ له شرايطو آګاه ليکوالو په کمبود اخته يو . د همدې نقيصې له امله مو کله ناکله ضعيف مضامين او يا داسې مضامين هم نشر کړي دي ، چې ټول پيام يې « سنه کوئ بد مه کوئ » وي .

۲ - د اخبار په فرهنګي پاڼو کې موږ له ځينو نيمګړتياوو سره مخامخ يو ، موږ داسې ليکوال چې په دواړو ژبو کې د دې پاڼو له ظرفيت سره سم مضامين راته وليکي نه لرو ، نوځکه په پاڼو کې تل رنګيني نه ليدل کيږي او هم ډير ځله رانه پښتو او دري ضعيف شعرونه هم نشر شي . خو ځان بيا په دې ډاډه کړو ، چې د اخبار يوه وظيفه دا هم ده چې شاعران او ليکوال وروزي .

۳ - د اخبار خبري برخه ضعيفه ده . پخوا خو موږ بيخي دې خواته توجه نه کوله ؛ د يو کال او څو مياشتو را پديخوا چې موږ څه خبرونه نشر کړي دي ، هغه له راديوګانو اخلو . د هفتې هندارې ستون خبري ارزښت لري ، خوکله کله د دې ستون مطالب هم تکرار او بيخونده شي ، موږ نشو کولای چې تازه خبرونه نشر کړو .

له دې سربيره ځينې وړې غټې نورې نيمګړتياوې هم زموږ په کار کې شته ، چې د وسايلو په نشتوالي او يا لږوالي اړه لري .

ب - غيرموقوت نشرات :

د آزاد افغانستان د ليکوالو ټولنې د خپلو موقوتو نشراتو ترڅنګه د خپلو نشراتي اهدافو سره سم ځينې کتابونه هم چاپ کړي دي ، چې دا

کتابونه زه د چاپ د کلونو پراساس معرفي کوم ، دا معرفي به اوږده نه وي ، خو د بیلیوګرافي معاصرو اصولو ته په پاملرنه به ترتیب شوې وي .

« ۱ »

د څناورو فارم
یا
د روسي کمونیزم هنداره

لیکوال : جارج ارول ؛ ژباړن : عبدالرسول امین ؛ د مخونو شمیر : ۱۱ + ۱۸۳ = ۱۹٤ کچه : ۱۸ X ۱۲ سانتي ؛ د چــاپ کال : نامعلوم* ؛ د چاپ ځای : پیښور ، مطبعه : نامعلوم .

موضوع : د دې کتاب معرفي مترجم داسې کړې ده : « لکه څنګه چې د کتاب د عنوان څخه څرګندیږي ، دا وړوکی کتاب نه یوازې د روسي کمونیزم د وحشي څیرې واقعي هنداره ده ، بلکې له بلې خوا په انګلیسي سیاسي ادب کې د روسي کمونیزم د نظر او عمل ترمنځ د لوی تضاد په هکله د ملنډو وهلو لوی شاهکار هم ګڼل کیږي » . کتاب لس فصله دی او په پیل کې مترجم د کتاب د محتویاتو د تشریح او د کتاب د ارزښتمنۍ د څرګندولو لپاره یوولس مخیزه سریزه هم ورسره مله کړې ده . کتاب فهرست نه لري .

(*) څنګه چې د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې له خوا په وړکو شویو فهرستونو کې د څناورو فارم د دې ټولنې لومړنی خپور کړی کتاب معرفي شوی دی ، نوځکه ما هم دا کتاب لومړی کتاب ویاله .

« ۲ »

روسهای عظمت طلب وتیوری نشنلیزم نوین

لیکوال : پروفیسور تیواری ، مترجم : شفق ستانیزی ؛ مخونه : ٦٧ ؛ کچه : ۱۷ X ۱۲ سانتی ؛ د چاپ کال : نه لري ، د چاپ او خپریدو ځای : پیښور ؛ مطبعه : نامعلوم .

موضوع : د روسانو د عظمت طلبۍ او هم په پخواني شوروي کې د شاملو نورو اقوامو پر ملي او مذهبي حقوقو او تاریخ باندې د روسانو د تیري په باب معلومات وړاندې کوي .

« ۳ »

د روس فاسده ټولنه
د روسي سرمایه داری پټه نړۍ
لومړۍ برخه

لیکوال : کانستانتین میخاییل سیمیس ؛ ژباړن : محمد آصف اکرام ؛ مخونه : ٦ + ۱۱۸ = ۱۲٤ ؛ کچه : ۱/۲-۱۵ X ۲۱ سانتی ؛ د چاپ کال : د ۱۳٦۵ هـ ش تله ؛ د چاپ ځای : پیښور ؛ مطبعه نامعلوم .

« ٤ »

د روس فاسده ټولنه
(دویمه برخه)

لیکوال : کنستانتین سیمیس ؛ ژباړن : محمد آصف اکرام ؛ مخونه : ٤ + ۱۱۳ = ۱۱۷ ؛ کچه : ۲۰ X ۱/۲-۱۵ سانتی ؛ د چاپ کال : د ۱۳٦۵ هـ ش کال لړم ؛ د چاپ ځای : پیښور ؛ مطبعه : نامعلوم .

« ۵ »

د روس فاسده ټولنه
(دريمه برخه)

ليکوال : کنستانتين سيميس ؛ ژباړن : محمد آصف اکرام ؛ مخونه : ٤ + ۱۲۲ = ۱۲٦ مخونه ؛ کچه : ۲/۱-۲۰ X ۱۵ سانتي ؛ د چاپ کال: ۱۳٦۵ هـ ش دلو ، د چاپ ځای : پيښور ؛ مطبعه : نامعلوم .

دا کتاب چې په دريو برخو کې چاپ شوی دی ، د لومړۍ جزوې په پيل کې له فهرست او د ټولنې له يو مخيز يادښت سربيره د کتاب د مترجم له خوا يو څلور مخيز يادښت هم ورسره راغلی دی . په نورو دوو جزوو کې يوازې د ټولنې يو مخيز يادښت له فهرست سره يوځای پکی ورزيات شوی دی . د موضوع په باب يې د مترجم په يادښت کې راغلي دي : « په دې کتاب کې مؤلف د روس د نظام په مختلفو برخو کې د شپيته کالو عمر تجربې او د سترګو ليدلی حال بيان کړی دی . هغه دا په ډاګه کړې ده ، چې څنګه دغه نظام د خپلو هيوادوالو په ژوند کې د فساد ، خيانت ، رشوت، واسطې ، سازش ، د دولتی امکاناتو ، وسايلو او چوکۍ، صلاحيت او مقام نه د ځان ، کورنۍ او خپلوانو په ګټه کار اخلي ... » .

« ٦ »

د کی ، جی ، بی دننه
لومړۍ برخه

ليکوال : الکسی مايکوف ، ژباړن : اختر محمد ، د مخونو شمير : ٦ + ۱۳۱ = ۱۳۷ مخونه ؛ کچه : ۲۰ X ۱۵ سانتی ؛ د چاپ کال : ۱۳٦۵هـش حوت ، د چاپ ځای : پيښور ، مطبعه ، نامعلوم .

حیات خان او ښاغلی عبدالله جان خلیل د مشاورینو په حیث ومنل شول او هرې خواته یې د وفا په ګټه په هر اړخیزو فعالیتونو پیل وکړ ... » (۲) .

ځینو منورو او تعلیمافته افغانانو چې د ۱۹۸۳ ع کال په اواخرو کې د دې ادارې د جوړولو لپاره کار پیل کړی و ، د ۱۹۸٤ ع کال په جنوري کې په دې مؤفق شول چې دې اتحادیې ته اساسنامه جوړه کړي او په ابتدايي بڼه یې د بنسټ ډبره کېښېږدي .

د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې اساسنامه د ۱۹۸٤ ع کال د جنوري په لومړۍ نېټه د مؤسسو غړو تر تصویب وروسته نافذه شوې ده . دا اساسنامه شپږ فصله ده چې ۲۹ مادې پکې راغلي دي . د لیکوالو ټولنه که څه هم اسماً د ۱۹۸٤ ع کال د جنوري له لومړۍ نیټې نه په پېښور کې جوړه شوه (۳) ، خو په دې کال کې یې نه کوم کار کړی دی او نه یې د فعالیت د پیل کال بللی شوی دی . په دې کال کی د اتحادیې رهبری او مؤسسو غړو دا زیار ایستلی دی ، چې د کار زمینه مساعده کړي او د یو مثبت کار د سرته رسولو لپاره امکانات ترلاسه کړي ، نوځکه موږ دا کال د دې اتحادیې د اساسي کارونو د پیل لپاره د آماده ګۍ کال بللی شو .

اتحادیې په ابتدايي ډول د ۱۹۸۵ ع کال له جنوری نه په کار پیل کړی دی . اما اتحادیه رسماً د ۱۹۸۵ ع کال د مارچ په ۲۱ مه د ۱۳٦٤ هـ ش کال د حمل په لومړۍ نېټه افتتاح شوه او اساسي بنسټیز کارونه یی له دغه وخته پیل شول .

---

(۲) د آزاد افغانستان د لیکوالو اتحادیې د افتتاح په غونډه کې د پروفیسور امین وینا ، ۱۹۸۵ ع د مارچ ۲۱ .

(۳) د آزاد افغانستان د لیکوالو اتحادیې اساسنامه ، لومړۍ ماده .

« ۷ »

د کی ، جی ، بی دننه
دویمه برخه

لیکوال : الکسی مایکوف : ، ژباړن اختر محمد ؛ د مخونو شمیر : ۸۸ کچــــه : ۲۰ X ۱۵ سانتی ؛ د چـــاپ کال : ۱۳۶۵ هـ ش ؛ د چاپ ځای : پیښور ، مطبعه : نامعلوم .

دا کتاب چې په دوو برخو کې چاپ شوی دی ، د لومړۍ برخې په پیل کې یې د فهرست او د وفا له یو مخیزې یادونې سربیره په دوو نورو مخونو کې د لیکوال پیژندګلوي او بیا د ژباړن سریزه هم راغلې ده . خپله کتاب ټول دولس فصله دی ، شپږ فصله په لومړۍ برخه کې او شپږ یې هم په دوهمه برخه کې راغلي دي .

موضوع : د موضوع په باب یې مترجم په خپله سریزه کې کښلي دي : « په دې کتاب کې لیکونکی هغه حقایق بیان کړي دي چې د کی ، جی بی د یو مهم غړي په توګه ورسره د خپل خدمت په موده کې مخامخ شوی دی . دا ټول د ده د سترګو لیدلی حال او د ده د ژوند د ترخو تجربو مجموعه ده » .

« ۸ »

کمپهای مرګ کولیما

لیکوال : رابرت کانکویست ؛ مترجم : دوکتور زین العابدین ممتاز ؛ مخونه : ۹ + ۱۱۸ = ۱۲۷ ؛ کچه : ۲۰ X ۱۵ سانتی ؛ د چاپ کال : ۱۳٦٦ هـ ش ؛ د چاپ او خپریدو ځای : پیښور ؛ دولتی مطبعه : نامعلوم .

موضوع : دا کتاب په پنځو فصلونو کې تنظیم شوی دی ، او مواد یی

د لسو کلونو په دوران کی په روسیه کی د کار له اجباري کمپونو څخه راټول شوي دي . کولیما د سایبریا یوه سیمه ده او دا کتاب د دې سیمې د کمپونو په باب جالب معلومات وړاندې کوي .

«۹»

تلاشهای روسها برای اشغال افغانستان

لیکوال : عبدالکریم محب ؛ مخونه : ۱٦ + ۲۳۳ = ۲٤۹ ؛ کچه : ۲۰ X ۱/۲-۱٤ سانتی ؛ د چاپ کال : ۱۳٦٦ هـ ش ؛ د چاپ او خپریدو ځای : پیښور ؛ مطبعه : نامعلوم .

موضوع : د افغانستان د اشغال لپاره د روسانو په هڅو او لرغونو اهدافو رڼا اچوي . کتاب ښاغلي مؤلف په اتو فصلونو کې بشپړ کړی دی .

«۱۰»

دروغهای جدید به خاطر دروغهای قدیم
(جلد اول)

لیکوال : اناتولي گولیتسین ؛ مترجم : سید فقیر علوی ؛ د مخونو شمیر : ۸ + ۱۲٤ = ۱۳۲ ؛ کچه : ۲۰ X ۱۵ سانتی ، د چاپ کال : د ۱۳٦٦ هـ ش جوزا ، د چاپ ځای : پیښور ، مطبعه : نامعلوم .

«۱۱»

دروغهای جدید به خاطر دروغهای قدیم
(جلد دوم)

لیکوال : اناتولي گولیتسین ؛ مترجم : سید فقیر علوی ؛ د مخونو شمیر : ٦۲ ؛ کچه : ۱/۲-۲۰ X ۱۵ سانتی ، د چاپ کال : د ۱۳٦٦ هـ ش قوس ، د چاپ ځای : پیښور ، مطبعه : نامعلوم .

دا اثر چې په دوو ټوکونو کی چاپ شوی دی ، د اول جلد په پیل کې یې له فهرست او د ټولنې له یو مخیز یادښت سربیره د مترجم سریزه او د لیکوال معرفی هم راغلې ده . دوهم جلد یې په پیل کې یوازې فهرست لري .
موضوع : په دې ارتباط د لیکوالو ټولنی له خوا په کښل شوې سریزه کې راغلي دي : « دا کتاب چې د کی ، جی ، بی د یو پخوانی افسر په قلم لیکل شوی دی ، د شوروي نظام او د کی ، جی ، بی د غولوونکې او جعلسازۍ دستګاه په ارتباط حیرانوونکي حقایق څرګندوي » .

« ۱۲ »

شوروي اتحاد او ډار اچونه (تروریزم)

لیکوال : رابرتاګورین ؛ ژباړونکی : محمد آصف اکرام ؛ مخونه : ۸ + ۱۵۵ = ۱۶۳ ؛ کچه : ۱/۲ X ۱۵ سانتی ؛ د چاپ کال : د ۱۳۶۶ هـ ش
زمری ؛ د چاپ ځای : پیښور ، مطبعه : نامعلوم .
موضوع : د مترجم سریزه کې راغلي دي : « دا کتاب به لوستونکو ته د کمونیزم د ایډیالوژی ، د شوروي اتحاد د اهدافو او د نړیوالې ډار اچونې ترمنځ د اړیکو او په هغی باندې د عمل کولو په هکله ډیر څه ور زده کړي » .

« ۱۳ »

د کیمیاوي زهرجنو موادو په برخه کې لومړنۍ لارښوونې

لیکوال : تاج الدین ملت مل ؛ مخونه : ۱۲ + ٤٦ = ٥٨ ؛ کچه : ۲۰ X ۲/۱-۱٤ سانتی ؛ د چاپ کال : ۱۳۶۶ هـ ش ؛ د چاپ او خپریدو ځای : پیښور ؛ مطبعه : نامعلوم .
موضوع : په دې اثر کې د کیمیاوي وسلو او د دې وسلو د ډولونو په باب

عمومي خبرې شوې دي او هم له دغو وسلو نه له متضررو اشخاصو سره د مرستې لاربښوونې پکې شوې دي .

« ١٤ »

طبقهء نوین

لیکوال : میلوان جیلاس ، ژباړن : ج ، ح.ابراهیمی ؛ مخونه : ٢٤٣ ؛ کچـــه : ٢٠ X ١/٢-١٣ ســانتی ؛ د ١٣٦٦ هـ ش میزان ؛ د چاپ ځای : پیښور ؛ مطبعه : نامعلوم .

موضوع : د ټولنې له سریزې څخه : « د دې کتاب لیکوال چې خپله یو متعهد کمونست دی ، په دې اثر کې په قوي دلایلو ثابتوي چې په کمونستي جوامعو کې عدالت نشته او یوازې د جامعی یو قشر (طبقهء نوین) له ټولو ښیګڼو او مادي نعماتو ګټه اخیستی شي » .

« ١٥ »

انتقاد بر ماتریالیزم دیالکتیک

مؤلف : ابوالوفاء افغانی ؛ مخونه : ٨٦ ؛ کچه : ١/٢-٢٠ X ١٥ سانتی ؛ د چاپ کال : د ١٣٦٦ هـ ش جدی ، د چاپ ځای : پیښور ، مطبعه : نامعلوم .

موضوع : فلسفی اثر دی ، چې د دیالکتیک ماتریالیزم پر فلسفه یې انتقاد کړی دی او اثر د دې لپاره لیکل شوی دی ، چې زموږ ځوانان د دې فلسفی د حامیانو د غوښتنو ښکار نه شي .

« ١٦ »

په آسیا کې د روس د پراختیا غوښتنو پالیسی

مؤلف : جوزف پوپوسکی ؛ اردو ژباړن : نذیر حق ؛ پښتو ژباړن :

موسی خان جلالزی ؛ مخونه : ۱٤۳ ؛ کچه : ۲۰-۱/۲ X ۱۵ سانتی
د چاپ کال : د ۱۳٦٦ حوت ؛ د چاپ ځای : پیښور ؛ مطبعه : نامعلوم .
موضوع : دا کتاب په مرکزي آسیا کې د روسانو د پراختیا غوښتنی مسایل څیړي او د روسانو هغه اهداف ښیی ، چې د افغانستان او د نیمې وچې د اشغال لپاره روسانو په خپلو اذهانو کې روزل .

« ۱۷ »

ماده ومعنی

مؤلف : ابوالوفا افغانی ؛ مخونه : ٦ + ١٦٣ = ١٦٩ ؛ کچه : ۲۱ X ۱۵ سانتی ؛ د چاپ کال : ۱۳٦۷ هـ ش ؛ د چاپ ځای : پیښور ؛ مطبعه : نامعلوم .
موضوع : په دې رساله کې دوې مقولی ماده او ایده په دوو فصلونو کې توضیح او تشریح شوې دي . په دې رساله کې ټول راغلي مسایل د فلسفی نظریاتو په رڼا کې تحلیل او تفسیر شوي دي . رساله په پیل کې د مؤلف یوه څلور مخیزه سریزه هم لري .

« ۱۸ »

په روسیه کې مخالفین

لیکوال : ریودولف . ل ، توکس ؛ ژباړن : عبدالکریم محب
مخونه : ۸ + ۱۱۵ = ۱۲۳ ؛ کچه : ۲۰-۱/۲ X ۱۵-۱/۲ سانتی ؛ د چاپ کال : ۱۳٦۷ هـ ش ؛ د چاپ ځای : پیښور ، مطبعه : نامعلوم .
موضوع : دا کتاب په روسیه کې د کمونستی رژیم له مخالفانو سره د رژیم ، له ناوړو مجازاتو ، محاکمو او نورو ناخوالو پرده پورته کوي .

« ۱۹ »

افغانستان درگیری شوروی

مؤلف : ادورد جیراردت ؛ مترجم : ج ، ح ، ابراهیمی ؛ مخونه : ۱٦۰ ؛ کچه : ۲۰ X ۱۵ سانتي ؛ د چاپ کال : نامعلوم ؛ د چاپ ځای : پیښور ؛ مطبعه : نامعلوم .

موضوع : د ثور له خونړۍ کودتا وروسته د افغانستان د ځینو عمده پیښو جریانات وړاندې کوي .

« ۲۰ »

د ترکستان مستعمره کول

لیکوال : پ . گ ، گالوزا ، ژباړن : جګړن نصرالله صافی ؛ مخونه : ٦ + ۱۰۰ = ۱۰٦ ؛ کچه : ۲۱ X ۲/۱-۱۵ سانتی متره ؛ د چاپ کال : ۱۳٦۷ هـ ش جوزا ؛ د چاپ او خپریدو ځای : پیښور ؛ مطبعه : نامعلوم .

موضوع : دا کتاب په دوو برخو کې د نولسمې پیړۍ له دوهمې نیمایي نه د شلمې پیړۍ تر اوایلو پورې په منځنۍ آسیا کې د ځاری روسیې استعماري هڅې بربنډوي .

« ۲۱ »

اقوام مسلمان در روسیه

لیکوال : آبادشاه پوری ، مترجم : جګړن غلام دستگیر شکیب ؛ مخونه : ۸ + ۱۰۳ = ۱۱۱ ؛ کچه : ۲۱ X ۲/۱-۱۵ سانتی متره ؛ د چاپ کال : د ۱۳٦۷ هـ ش کال سرطان ؛ د چاپ او خپریدو ځای : پیښور ؛ مطبعه : نامعلوم .

موضوع : په دې کتاب کی د پخوانی شوروي په خاوره کې د مسلمانانو په موقف او پر دوی د مظالمو په باب خبرې او بحثونه راغلي دي .

« ۲۲ »

د افغانستان په باب د ژنیو جوړه

لیکوال : پوهاند دوکتور محمد حسن کاکړ ؛ مخونه : ۱۸ + ۲۳۱ = ۲۴۹ ؛ کچه : ۲۱ X ۲/۱-۱۵ سانتی متره ؛ د چاپ کال : ۱۳۶۷هـ ش
د چاپ او خپریدو ځای : پیښور ؛ مطبعه : نامعلوم .

موضوع : دا کتاب درې فصلونه او ضمایم لري . د افغانستان د مسألی په ارتباط د ژنیو د توافقاتو د تحلیل یو مستند اثر دی ، چې د خبرو د پیل تاریخي پس منظر او بیا د خبرو او مذاکراتو بیلا بیل پړاوونه یې پکې ښوولي ؛ پر فیصلې او له دې تړون نه په رازبزیدلي صورت حال یې پوره رڼا اچولې او فیصله یې هم تحلیل کړې او د مختلفو خواوو دریځونه یې هم په دې ارتباط پکې بیان کړي دي .

« ۲۳ »

افغان ، افغانستان وافغانها
و تشکیل دولت در هندوستان ، فارس وافغانستان

لیکوال : پوهاند دوکتور محمد حسن کاکړ ؛ مخونه : ۱۰ + ۱۴۳ = ۱۵۳ ؛ کچه : ۱۸ X ۱۲ سانتي؛د چاپ کال : ۱۳۶۷ هـ ش ،؛د چاپ او خپریدو ځای : پیښور ؛ مطبعه : نامعلوم .

موضوع : دا کتاب دوه فصله لري ، په لومړي فصل کې د آریانا ، ایران کابل ، خراسان ، افغانستان ، روه ، پښتونخوا ، پټان ، افغان ، پښتون پکتیان او ځینو نورو نو مونو پر تاریخي سوابقو رڼا اچول شوې او په

دوهم فصل کې يې په هند او فارس کې د افغاني حکومتونو د ظهور او همدارنګه د درانيانو امپراتوارى او محمدزو د حاکميت په باب مطالب بيان کړي دي .

« ٢٤ »

نرى رنځ « سِل »

ليکوال : دوکتور محمد يوسف لغمانى ؛ مخونه : ٤ + ١٠٢ = ١٠٣ ؛ کچه : ٢١ X ٢/١-١٥ سانتى ؛ د چاپ کال : ١٩٨٨ ع ؛ د چاپ او خپريدو ځاى : پيښور ؛ مطبعه : نامعلوم .
موضوع : يو طبى کتاب دى ، د يو مسلکى طبيب له خوا د توبرکلوز يا نري رنځ په باب لومړنى معلومات پکې وړاندى شوي دي .

« ٢٥ »

جهاد فى سبيل الله

ليکوال : عصمت الله روحانى ؛ مخونه : ١٦ + ٣١٤ = ٣٣٠ ؛ کچه : ٢/١-٢٠ X ٢/١-١٢ سانتى ؛ د چاپ کال : د ١٣٦٧ هـ ش حوت ؛ د چاپ او خپريدو ځاى : پيښور ؛ مطبعه : نامعلوم .
موضوع : مؤلف په شپږو فصلونو کې د جهاد په باب څېړنه کړې ده ؛ د جهاد د ډولونو ، احکامو او شرايطو ، د جهاد تاريخي سوابقو او هم د اسلامي تاريخى غزواتو په باب معلومات پکې راغونډ شوي دي .

« ٢٦ »

ابوالهول او کميسار
په منځنى ختيځ کې د شوروي وړاندې تګ او ماتې

ليکوال : محمد حسنين هيکل ؛ پښتو ژباړن : محمد آصف اکرام ؛ مخونه : ٤ + ٣١٦ = ٣٢٠ ؛ کچه : ٢٤ X ١٥ سانتى ؛ د چاپ کال :

۱۳۶۷ هـ ش ؛ د چاپ او خپریدو ځای : پیښور ؛ مطبعه : نامعلوم .
موضوع : د مترجم په سریزه کې د دې کتاب موضوع داسې معرفي شوې ده :
« په دې کتاب کی له ۱۹۵۵ ع نه تر ۱۹۷۵ ع کال پورې په منځني ختیځ کې د شوروي اتحاد سیاسي او پوځي وړاندې تګ په هر اړخیزه توګه څیړل شوی دی ، په هغو ټکو یې رڼا اچولې ده چې څنګه او ولی دلته د شوروي وړاندې تګ له ستونزو سره مخامخ او ناکام شو » .

« ۲۷ »

عوامل ونتایج کودتای هفت ثور ۱۳۵۷

لیکوال : نیازی امیدوار ؛ مخونه : ۶ + ۱۹۲ = ۱۹۶ ؛ کچه : ۲۰ X ۱۳ سانتی ؛ د چاپ کال : ۱۳۶۸ هـ ش ؛ د چاپ او خپریدو ځای : پیښور ؛ مطبعه : نامعلوم .
موضوع : دا کتاب په اتو څپرکو کې د ثور د بدمرغې کودتا په عواملو او له دې کودتا نه په رازیږیدلو پیښو او ناتارونو خبرې او بحثونه لري .

« ۲۸ »

زندانیان وجدان در اتحاد شوروی

لیکوال : مصئونیت بین‌المللی ؛ ژباړن : ج . ح ، ابراهیمی ؛ مخونه : ۲۳۸ ؛ کچـه : ۲/۱-۲۰ X ۱۳ سانتی متره ؛ د چاپ کال : ۱۳۶۸هـش
د چاپ او خپریدو ځای : پیښور ؛ مطبعه : نامعلوم .
موضوع : دا یو اوږد ګزارش دی ، چې د بین المللی مصئونیت اداري په پخوانی شوروی کې د وجدان د زندانیانو په ارتباط لیکلی دی . دا ګزارش په پخوانی شوروی کې د بشر د حقوقو د نقض په ارتباط ښه نکات وړاندې کوي .

« ۲۹ »

سره غالۍ

لیکوال : محمد صدیق پسرلی ؛ مخونه : ۱۲۶ ؛ کچه : ۲/۱-۲۱ X ۱۴ سانتی ؛ د چاپ کال : ۱۳۶۸ هـ ش ؛ د چاپ او خپریدو ځای : پیښور ؛ مطبعه : نامعلوم .

موضوع : د پښتو د نازکخیال شاعر ښاغلی محمد صدیق پسرلي د لنډو کیسو مجموعه ده چې ټولی ۱۴ کیسې پکې راغلې دي . د محتوی په باب یې پر مجموعه د وفا له یادښت څخه :

« په دغو کیسو کې په اوسنیو حساسو تاریخي حالاتو کې د جهاد د تاریخي کارنامو ، د پردیو یرغلگرو او د هغو د لاس پوڅو د ناکوبو د هنري داستانی ثبت ترڅنگ د افغانستان د خلکو د روانی او اجتماعی اړخونو انعکاس هم په پراخه توگه را ترسترگو کیږي » .

« ۳۰ »

جهاد در کنرها

لیکوال : دولارگی ؛ مخونه : ۲ + ۵۸ = ۶۰ ؛ کچه : ۱۸ X ۱۲ سانتی ؛ د چاپ کال : ۱۳۶۸ هـ ش ؛ د چاپ او خپریدو ځای : پیښور مطبعه : جدون پریس .

موضوع : د کونړونو په ولایت کې د جهاد د پیل او پرمختیا په سیر او سوابقو رڼا اچوي او په افغانستان کې د جهاد تاریخ د لیکنې په برخه کې ترې ښه استفاده کیدای شي .

« ۳۱ »

حماسهٔ جهاد

ویناوال : حامد نوید ؛ مخونه : ۶ + ۱۹ = ۲۵ ؛ کچه : ۱۸ X ۱۲

(۲) مؤسسین :

د آزاد افغانستان د جوړېدو په پس منظر مو خبرې وکړې اوس بهتره ده ، دا خبره روښانه کړو چې دا مؤسسه چا جوړه کړه ؟ د دې مؤسسی د جوړولو اساسي فکر به یو دوو کسو وړاندې کړی وي ، خو د دې فکر او نظریې په پخولو کې څو تنو منورو تعلیمیافته افغانانو برخه اخیستې ده او د همدوی په هاند وهڅه د لیکوالو ټولنه جوړه شوې ده . هغه کسان چې د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې په مؤسسه ډله کې شامل وو ، دا دي :

۱ - پروفیسور عبدالرسول امین ؛
۲ - پروفیسور محمد حکیم تنهیوال ؛
۳ - دوکتور محمد حیدر ؛
٤ - دوکتور احمد یوسف نورستانی ؛
۵ - دوکتور زین العابدین ممتاز ؛
٦ - انجنیر محمد آصف اکرام ؛
۷ - ښاغلی عبدالجبار ثابت ؛
۸ - ښاغلی عبدالحی ورشان ؛
۹ - ښاغلی محمد نسیم ستانیزی ؛
۱۰ - ښاغلی نصرالله صافی ؛
۱۱ - ښاغلی اسد الله خان صافی ؛
۱۲ - ښاغلی حیات الله ځاځی .

په لوړ ترکیب کې د کابل پوهنتون پخواني استادان ، افغان تعلیمیافته او د افغان فوج ځینې منور کسان هم شامل دي . دغو

سانتی ؛ د چاپ کال : ۱۹۸۹ ع کال ؛ د چاپ او خپریدو ځای : پیښور مطبعه : جدون پریس ، پیښور .

موضوع : دغه منظومه حماسه چې د افغانستان د تیر جهاد د مسایلو په ارتباط ویل شوې ده په مقدمه کې یې راغلي دي : « د جهاد حماسه چې د روسانو د تجاوز په لومړیو کلونو کې ویل شوې ده ، د پردو د تجاوز په وړاندې د افغان قهرمان ملت د کارنامو ، زغم ، له خدای (ج) او وطن سره د مینې په ارتباط ځینې یادونې لري » .

« ۳۲ »

افغانستان او د روسي دوستی داستان

لیکوال : زکی الله خان ؛ مخونه : ۸ + ۱۰۰ = ۱۰۸ ؛ کچه : ۲۱ X ۱/۲-۱۳ سانتی ؛ د چاپ کال : ۱۳۶۸ هـ ش ؛ د چاپ او خپریدو ځای : پیښور ؛ مطبعه : نامعلوم .

موضوع : د افغانستان او روسیې د دوستي پر تاریخی سوابقو او د دوستی تر پردې لاندې د روسانو د اهدافو په باب د ځینو مهمو او لومړی لاس موادو په استناد موضوع ته مربوط مهم نکات څرګندوي .

« ۳۳ »

تهاجم مسلحانهء روسها بر افغانستان

لیکوال : غلام محی الدین زرملوال ؛ مخونه : ٦۲ ؛ کچه : ۱/۲-۲۲ X ۱٤ سانتی ؛ د چاپ کال : ۱۳۶۸ ؛ د چاپ او خپریدو ځای : پیښور مطبعه : نامعلوم .

موضوع : پر افغانستان باندې د پخوانی شوروي د وسله وال تیري او د ثور د کودتا په باب خبرې او معلومات لري .

« ۳٤ »

استفادهٔ نامطلوب سیاسی از روان پزشکی

لیکوال : مصؤونیت بین المللی ؛ ژباړن : ج ، حامد ؛ مخونه : ٥٦ ؛ کچه : ۲/۱-۲۲ X ١٤ سانتی ؛ د چاپ کال : ۱۳٦۸ هـ ش ؛ د چاپ او خپریدو ځای : پیښور ؛ مطبعه : ټاپ پرنټرز .

موضوع : په پخواني شوروي کې له رواني طبابت نه د نامطلوبو سیاسي استفادو موارد ښيي .

« ۳٥ »

مبارزهٔ مردم سایبریا

لیکوال : ث ، ج ، ف سیمکین ؛ ژباړن : حامد ؛ مخونه : ٥۳ ؛ کچه : ۲/۱-۲۲ X ١٤ سانتی ؛ د چاپ کال : ۱۳٦۸ هـ ش ؛ د چاپ او خپریدو ځای : پیښور ؛ مطبعه : ټاپ پرنټرز .

موضوع : پر سایبریا د روسانو د تسلط د ټینګیدو داستان او ورسره د دغو خلکو د مبارزو په باب مطالب وړاندې کوي .

« ۳٦ »

زندان پلچرخی

لیکوال : پوهاند دوکتور محمد عثمان تره کی ؛ مخونه : ١٤٤ ؛ کچه : ۲/۱-۲۱ X ١٤ سانتی ؛ د چاپ کال : ۱۳٦۹ هـ ش ؛ د خپریدو ځای : پیښور ؛ مطبعه : المطبعة العربية لاهور .

موضوع : د کمونستی دوران په زندان کې د یو سیاسي محبوس د سترګو لیدلي کتلي واقعات پکې بیان شوي دي .

« ۳۷ »

سلطنت افغانها در هند

مؤلف : اقتدار حسین صدیقی ؛ ژباړن : پـوهاند حمیدالله امین ؛ مخونه : ۲۳۶ ؛ کچه : ۲/۱-۲۱ X ۱٤ سانتی ؛ د چاپ کال : ۱۳٦۹ ؛ د چاپ او خپریدو ځای : پېښور ؛ مطبعه : نامعلوم .

موضوع : په هندوستان کې د لودهی او سوري شاهي کورنيو د سلطنتونو د کارنامو په باب د ماخذو په بنا بيانونه پکې راغلي دي .

« ۳۸ »

تروږمۍ

لیکوال : زرین انځور ؛ مخونه : ۱۰٤ ؛ کچه : ۲۱ X ۲/۱-۱۳ سانتی ؛ د چاپ کال : ۱۳٦۹ هـ ش ؛ د چاپ او خپریدو کال : پیښور مطبعه : ټاپ پرنټرز .

موضوع : د پښتو د ځوان او ستې کيسه ليکونکی زرين انځور د لنډو کيسو دريمه مجموعه ده ، چې ټولې اوه کيسې يې پکې راغلي دي . ښاغلی ليکوال انځور په خپله مقدمه کې ليکلي دي : « تروږمۍ او د تروږمۍ يو لږ نورې کيسې د سور وحشت په تراژيديو کې د بدمرغۍ ، ماتم او مرگ د ځينو اړخونو وير لړلې انگازه ده ، چې تاسو به يې د څو لنډو کيسو په نوم ولولئ » .

« ۳۹ »

برگشت باد

ويناوال : ميرويس موج ؛ مخونه : ۷۵ ؛ کچه : ۲/۱-۲۱ X ۱٤

سانتی ؛ د چاپ کال : ۱۹۹۰ ع ؛ د چاپ او خپریدو ځای : پیښور ؛ مطبعه : ټاپ پرنټرز .
موضوع : د دري ژبې د ځوان شاعر ښاغلي میرویس موج د خوږو شعرونو مجموعه ده .

« ٤٠ »

پرخه په ترخه

ویناوال : سعدالدین شپون ؛ مخونه : ۱۰۷ ؛ کچه ۲۱ X ۱/۲-۱۳ سانتی ؛ د چاپ کال : ۱۳۶۹ ؛ د چاپ او خپریدو ځای : پیښور ؛ مطبعه : IRC پرنټنګ پریس .
موضوع : د استاد سعدالدین شپون ، د خوږو ، ښکلو او له محتوی نه ډکو شعرونو مجموعه ده .

« ٤١ »

په قرآن کریم کې د جهاد آیتونه

لیکوال : عبدالباری غیرت ؛ مخونه : ۱٤۲ ؛ کچه : ۲۲ X ۱٤ سانتی
د چاپ کال : ۱۳۶۹ هـ ش ؛ د چاپ او خپریدو ځای : پیښور ؛ مطبعه : نامعلوم .
موضوع : په دې کتاب کې د جهاد په باب د قرآن عظیم آیتونه ، پښتو ترجمه شوي او له تبصرو سره یوځای راوړل شوي دي .

« ٤۲ »

جونګړه او ماڼۍ

لیکوال : شفق ستانیزی ؛ مخونه : ۱۱۶ ؛ کچه : ۲۲ X ۱/۲-۱٤ سانتی ؛ د چاپ او خپریدو ځای : پیښور ؛ مطبعه : نامعلوم .

موضوع : د ځوان کیسه لیکونکي ښاغلی ستانیزی د ۱۲ لنډو کیسو مجموعه ده ، چې موضوعات یې زیاتره له جهاد سره اړه لري .

« ٤٣ »

ادبیات شفاهی نورستان

لیکوال : سمیع الله تازه ؛ مخونه : ۳۳۸ ؛ که : ۱۸ X ۱۲ سانتی ؛ د چاپ کال : ۱۳۷۰ هـ ش ؛ د چاپ او خپریدو ځای : پیښور ؛ مطبعه : نامعلوم .
موضوع : د نورستان د شفاهی ادبیاتو د معرفی یو گټور کتاب دی .

« ٤٤ »

از تجاوز تاگریز

ویناوال : فریادگر ؛ مخونه : ۲۸ ؛ کچه : ۱۸ X ۱۲ سانتی ؛ د چاپ کال : ۱۳۷۰ هـ ش ؛ د چاپ او خپریدو ځای : پیښور ؛ مطبعه : تاپ پرنټرز .
موضوع : پر افغانستان باندی د پخوانی شوروي له تیري نه تر بیرته تیښتې پورې مسایل په روان دري شعر پکې بیان شوي دي او یا د شاعر په وینا د نجیب ترزمانې پورې یې په افغانستان کې د کمونیزم مد وجزر ښوولی دی .

« 45- »

PULICHARKHI PRISON

لیکوال : پوهاند دوکتور روستار تره کی ؛ انگریزي ژباړن : احسان آذری
مخونه : ۱۰٦ ؛ کچه : ۲۲ X ١٤ سانتی ؛ د چاپ کال : ۱۳۷۰ ؛ د چاپ او خپریدو ځای : پیښور ؛ مطبعه : ټاپ پرنټرز .
موضوع : په دې فهرست کې د راغلي زندان پلچرخي نومي کتاب انگریزي ژباړه ده .

« ٤٦ »

اطفال افغانستان در دوران جنگ وکمپهای مهاجرین

مترجم : ج ، ح الینا ؛ مخونه : ٨٤ ؛ کچه : ٢٢ X ١/٢-١٤ سانتی ؛ د چاپ کال : ١٣٧٠ هـ ش ؛ د چاپ او خپریدو ځای : پیښور ؛ مطبعه : نامعلوم .

موضوع : د افغان مهاجرینو د کمپونو د وضعې او په دې کمپونو او د جنګ په مهال کې د افغان ماشومانو د احوالو په باب مستند معلومات پکې راغلي دي .

« ٤٧ »

ماثورې دعاګانې

ټولوونکی : سید حکیم کمال شینواری ؛ مخونه : ١٧٢ ؛ د چاپ کال : ١٣٧٠ هـ ش ؛ د چاپ او خپریدو ځای : پیښور ؛ مطبعه : نامعلوم .

موضوع : ماثوره دعاوې له پښتو ترجمې سره پکې راغونډې شوې دي .

« ٤٨ »

تاریخ حزن الملل بخارا
خاطرات اعلیحضرت امیر سید عالم خان

ترتیب اوتدوین : محمد اکبر عشیق کابلی ؛ مخونه : ٨٥ + ٩٠ = ١٧٥ ؛ کچه : ١/٢-٢٢ X ١٤ سانتی ؛ د چاپ کال : ١٣٧٠ هـ ش ؛ د چاپ او خپریدو ځای : پیښور ؛ مطبعه : نامعلوم .

موضوع : د بخارا د وروستي پاچا امیر سیدعالم خان خاطرات دي ، چی د ښاغلی عشیق کابلي له اوږدې مقدمې او تعلیقاتو سره یوځای چاپ شوي دي .

« ٤٩ »

پلچرخي د افغانانو وژنځای

ليکوال : محمد صديق پتمن ؛ مخونه : ٤ + ١٢٨ = ١٣٢ ؛ کچه : ١/٢-٢١ X ١٤ سانتی ؛ د چاپ کال : ١٣٧٠ هـ ش ؛ د چاپ او خپريدو ځای : پيښور ؛ مطبعه : نامعلوم .

موضوع : ليکوال د خپل بند په دوران کې د پلچرخي له زندانه خپل ليدلي کتلي ليکلي دي .

« ٥٠ »

افکار عامه وتبليغات

ليکوال : پوهاند حبيب الرحمن هاله ؛ مخونه : ١١ + ٣٦٢ = ٣٧٣ ؛ کچه : ٢٢ X ١٥ سانتی ؛ د چاپ کال : ١٣٧١ هـ ش ؛ د چاپ او خپريدو ځای : پيښور ؛ مطبعه : ټاپ پرنټرز .

موضوع : د تبليغاتو او عامه افکارو په باب مسلکی کتاب دی ، چې ښاغلي مؤلف په دوو برخو کې تأليف کړی دی . لومړۍ برخه يې اته فصله ، دوهمه برخه يې څلور فصله ده ، ضمايم او اصطلاحات هم ورسره مله دي .

« ٥١ »

له ماښامه تر ماښامه

ويونکی : پير محمد کاروان ؛ مخونه : ٤ + ١٨٠ = ١٨٤ ؛ کچه: ١/٢-٢١ X ١٤ سانتی ؛ د چاپ کال : ١٣٧١ هـ ش ؛ د چاپ او خپريدو ځای : پيښور ؛ مطبعه : ټاپ پرنټرز .

موضوع : د ځوان شاعر پیر محمد کاروان د خوندورو او ښکلو شعرونو مجموعه ده .

«۵۲»

د ثور په تراژیدي کې فرهنگ ، ادبیات او آزادي

لیکوال : زرین انځور ؛ مخونه : ۱۲ + ۱۱۲ = ۱۲٤ ؛ کچه: ۲/۱-۲۱ X ۱٤ سانتی ، د چاپ کال : ۱۳۷۲ هـ ش ؛ د چاپ او خپریدو ځای : پیښور ؛ مطبعه : ټاپ پرنټرز .
موضوع : د ثور له کودتا وروسته د فرهنگ او له فرهنگي مسایلو سره د رژیم د برخورد مسأله پکې څیړل شوې ده او په ضمیمه کې یې د روانو اوسنیو حالاتو په رڼا کې له علمي او کلتوري میراثونو سره چلند ته هم اشارې کړې دي .

«۵۳»

نشې او نشه یی مواد

لیکوال : عبدالهادی خلیل زی ؛ مخونه : ٦ + ۷۳ = ۷۹ ؛ کچه : ۲/۱-۲۱ X ۱٤ سانتی ؛ د چاپ کال : ۱۳۷۲ هـ ش ؛ د چاپ او خپریدو ځای : پیښور ؛ مطبعه : ټاپ پرنټرز .
موضوع : د نشه یی موادو په باب ځینې معلومات پکې راغونډ شوي دي .

«۵٤»

بُحران سیاسی ومهاجرین

لیکوال : د عفوی بین المللی سازمان ؛ مترجمان : پوهاند هاله او پیر- محمد کاروان ؛ مخـونه : ۷۷ + ٤۱ = ۱۱۸ ؛ د چاپ کال : ۱۳۷۲هـش

د چاپ او خپریدو ځای : پیښور ؛ مطبعه : تاپ پرنټرز .
موضوع : د افغانستان د وروستۍ تراژیدی په باب د عفوی د بین المللی سازمان یو گزارش دی چې له انگریزی نه پوهاند هاله په دري او له دري نه ښاغلي کاروان په پښتو اړولی دی . دواړې ترجمې له انگریزی متن سره یوځای په دې مجموعه کې چاپ شوې دي .

« ۵۵ »

حقوق بشری زن در اسلام ودگر قوانین

لیکوال : حجة الاسلام سید محمد خامنه یی ؛ مترجم : پوهاند حبیب ـ الرحمن هاله ؛ مخونه : ۱۰ + ۱۱۰ = ۱۲۰ ؛ کچه : ۲۱-۱/۲ X ۱٤ سانتی ؛ د چاپ کال : ۱۳۷۳ هـ ش ؛ د چاپ او خپریدو ځای : پیښور مطبعه : تاپ پرنټرز .
موضوع : په دې اثر کې د اسلام له نظره د بشري حقوقو مسایل څیړل شوي دي .

« ۵٦ »

په اسلامی قانون کې د اعدام شرایط

لیکوال : عبدالهادی خلیل زی ؛ مخونه : ۸ + ۷۰ = ۷۸ ؛ کچه ؛ ۲۱-۱/۲ X ۱٤ سانتی ، د چاپ کال : ۱۳۷۳ هـ ش ؛ د چاپ او خپریدو ځای : پیښور ؛ مطبعه : تاپ پرنټرز .
موضوع : په دې اثر کې مؤلف له حقوقي نظره د اعدام پر مسأله بحثونه کړي دي .

« ۵۷ »

لویه جرگه ها مظهر دموکراسی در افغانستان

مؤلف : پوهنواله محبوبه ؛ مخونه : ٦ + ۸٤ = ۹۰ ؛ کچه : ۲۱ X

۱٤ سانتی ؛ د چاپ کال : ۱۳۷۳ هـ ش ؛ د چاپ او خپرېدو ځای : پېښور ؛ مطبعه : تاپ پرنټرز .

موضوع : په افغانستان کې د ثور تر کودتا د مخه د جوړو شویو لویو جرګو لنډ تاریخ څېړي .

« ۵۸ »

حقوق بشر در اسلام

لیکوال : پوهاند حبیب الرحمن هاله ؛ مخونه : ٦ + ۸٤ = ۹۰ ؛ کچه : ۲۲ X ۱٤ سانتی ؛ د چاپ کال : ۱۳۷۳ هـ ش ؛ د چاپ ځای : تاپ پرنټرز ، پېښور .

موضوع : مؤلف د بشر د حقوقو موضوع د اسلام د مقدس دین د احکامو له نظره څېړلې ده .

« ۵۹ »

یک دهه دموکراسی در افغانستان

لیکوال : ساهی ؛ مخونه : ٤٤ + ٤ = ٤۸ ؛ کچه : ۲۲ X ۱٤ سانتی د چاپ کال : ۱۳۷۳ هـ ش ؛ د چاپ ځای : تاپ پرنټرز ، پېښور .

موضوع : لیکوال په دې اثر کې د اعلیحضرت محمد ظاهرشاه د سلطنت د دوران په وروستیو لسو کلونو کې د افغاني دموکراسۍ په مسألی بحث کړی دی ؛ د دموکراسي ګټې او د ناکامۍ عوامل یې ښوولي دي .

« ٦۰ »

په افغاني ټولنه کې د ښځو حقوق

لیکوال : محمد ګلاب بشار ؛ مخونه : ۸ + ۱۲٦ = ۱۳٤ ؛ کچه ؛ ۲۲

کسانو په مجموعي ډول د دې ټولنې په جوړولو او د هغې په پرمختیا او پراختیا کې نه ستړي کېدونکي خدمتونه کړي دي .ځینو ته په هماغه وخت کې په دې مؤسسه کې کارونه سپارل شوي او ځینو نورو ته یکې بالفعل کار نه دی پیدا شوی ، خو د دې مؤسسې له کارونو سره یې ځان مل ښوولی دی ، ځینو بیا اتحادیه پرېښې ده او ځینې په هرحالت کې ورسره وو او تراوسه یې هم چارې سمبالوي .

(۳) جوړښت :

د آزاد افغانستان د لیکوالو اتحادیې د اساسنامې په دریمه ماده کی راغلي دي چې دا اتحادیه به د یوې کتونکې ډلی Editorial Board یا زموږ د بیوروکراسۍ په اصطلاح د رئیسه هیئت یا رهبري هیئت له خوا اداره کېږي . په دې ډله کې :

- د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې مشر (رئیس) ؛
- د ټولنی مرستیال ؛
- د WUFA د درې میاشتنۍ خپرونې چلوونکی ؛
- د خپلواکی د دوه میاشتنۍ مجلې چلوونکی ؛
- د وفا اخبار چلوونکی ؛
- د تألیف او ترجمی د دیپارټمنټ چلوونکی ؛

شامل وي .

د اساسنامې څلورمه ماده وایي چې وفا به یو مشورتي بورډ او د مؤسسې د مالي چارو د څارنې لپاره د کنټرول یوه کمیټه هم ولري .

د مؤسسې مالي امکاناتو ته په پاملرنه د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې د تأسیس په وخت کې په اساسنامه کې راغلي ټول تشکیلات فعال نه کړای شول ، هغه وخت یې عمومي تشکیل په لاندې ډول و .

X ۱٤ سانتی ؛ د چاپ کال : ۱۳۷۳ هـ ش ؛ د چاپ ځای : تاپ پرنټرز ، پېښور .
موضوع : د اسلامي نصوصو او احکامو په رڼا کې یې په ټولنه کې د ښځو د حق پرمسأله خبرې کړې دي .

یادونه : له دغو لوړو یادو شویو کتابونو سربیره د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې د ثور له کمونستي کودتا نه د رازېږېدلو پیښو په ارتباط د عکاسیو دوه البمونه هم تهیه کړي او چاپ دي چې لاندې یې در پېژنو :

« I »

AFGHANISTAN TODAY

دا البم چې ٦٨ مخونه لري ، په لومړیو دریو مخونو کې یې د پروفیسور امین انګریزي سریزه او بیا د هغو ورانیو او بربادیو تصویرونه راغلي چې د شوروي د یرغلګرو عسکرو له تاړاکه راپیښې دي . او هم د هغو ښځو ، ماشومانو ، سپین ږیرو او ځوانانو رنګه تصویرونه راوړل شوي دي ، چې د شوروي ماینونو ، بمونو او راکټونو له امله یې د بدن غړي له لاسه ورکړي دي .

دا البم د ښاغلیو حکیم تنیوال ، محمد آصف اکرام ، شفق ستانیزي او اخترمحمد په ګډه هڅه تهیه شوی دی ، عکاس یې ښاغلی ککوزی دی ، البم په ۱۹۸٦ ع کال کې چاپ شوی دی .

« II »

LIFE IN REFUGEE CAMPS

دا البم چې ټول ۸٤ مخه لري ، د ښاغلو : حکیم تنیوال ، احمد یوسف نورستانی ، محمد آصف اکرام ، عبدالکریم محب او عبدالحی ورشان په زیار تهیه شوی دی . دا البم په کمپونو کې د افغاني

مهاجرینو د ژوند بیلا بیل اړخونه په رنګه تصویرونو کې وړاندې کوي . د ژوند د هر اړخ د تصویرونو تر وړاندی کولو د مخه د تصویرونو په ارتباط توضیحات [۹] انګریزی ژبه په کتاب کې راغلي دي . د دې البم عکسونه هم ښاغلي ککوزی برابر کړي دي .

د ټولنی خپرو کړیو کتابونو ته یوه کتنه :

د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې تراوسه (د ټولنې د لسمې کالیزې په مناسبت چاپ کړیو دریو کتابونو برسیره) په پښتو ، دري او انګریزي ژبو (٦۰) عنوانه کتابونه او هم دوه د عکاسیو البمونه خپاره کړي دي . په دې شپیتو عنوانونو کې ځینې په یوه عنوان دوه درې جزوی چاپ شوې دي ، دا جزوې هم په لوړه شمیره کې حساب دي .

بله خبره چې په دې ځای کې د هیرولو نه ده ، هغه دا چې د دې ټولنې پر وروستي خپاره کړي کتاب د دې ټولنې د خپرونو پرله پسې نومره ۷۸ چاپ شوې ده . دا نومره یې ښایی ځینو کسانو ته دا شك پیدا کړي چې ګوندې دې مؤسسې به ۸۷ کتابونه چاپ کړی وي ؟ حال دا چې په دې تاریخچه کې له البمونو پرته ټول (٦۰) کتابه معرفي شوي دي . دا خبره باید داسې توضیح کړو ، چې د دې مؤسسې نشراتي کار کوونکو ځینې د حجم له نظره غټ کتابونه د دوو یا دریو کتابونو پرځای چاپ کړي دي او په دې حساب دا مسلسله نومره تر ۷۸ پورې رسیدلې ده ، که نه وي کتابونه ټول همدا دي چې ما وښوول . د ټولنې خپاره کړي کتابونه سری په عام ډول داسې ارزیابي کولای شي :

۱ - کوم کتابونه چې دې مؤسسې د خپل فعالیت په لومړیو کلونو کې چاپ کړي دي ، زیاتره تبلیغاتي جنبه لري ، چې د یو ضرورت پربنا لیکل شوي یا ترجمه شوي وو . اوس ډیر په درد نه لګي او دا په دې

چې ارزښت يې موسمي دی ، نه اساسي او دايمي . عمومي معلوماتي او تربيوي جنبه يې قوي نه ده .

۲ - داسې آثار چې د علومو په بيلا بيلو ساحو کې پراخ اطلاعات او معلومات لوستونکو ته وړاندې کړي ، دا ډول کتابونه هم ټولنې چاپ کړي دي ، خو شمير يې لږ دی ، لکه د ځينو تاريخي آثارو ترجمې يا ځينې د تاريخي ارزښت لرونکي آثار او يا هم په فرهنگي ځيړنو پورې تړلي ځينې کتابونه .

۳ - ادبي آثار چې فرهنگي او هنري ارزښت ولري ، دا کتيگوري آثار هم د ټولنې په خپرونو کې شته ، خو دا آثار هم لږ دي . په ادبي آثارو کې هم ځينې برخې موسمي دي .

٤ - کوم آثار چې په وروستيو وختونو کې ټولنې چاپ کړي دي ، په هغو کې ځو گټه ور کتابونه شته ، مگر ځينې يې د ډيرو ضعيفو منابعو او معلوماتو په بنا تهيه شوي دي ، عملي او فرهنگي ارزښتونه يې لوړ نه دي .

۵-د ټولنې د زياترو خپرو کړو کتابونو صحافي خوا ډيره ضعيفه ځه چې حتی ښکاره نيمگړتياوې لري . په اکثرو کتابونو کې مطبعه نه ده ښوول شوې ، په ځينو کی کالونه نه دي راغلي . د زياترو کتابونو پوښونه يو نواخت ډول د ډير زاړه سيستم مطابق چاپ شوی دي . کيدای شول چې په همدغو مصارفو ډير ښه پوښونه ورته چاپ شوي وای .

٦ - په لومړيو کلونو کې چې کوم کتابونه ټولنې چاپ کړي دي ځينی يې که هغه پښتو دي يا دري د ژبې په لحاظ کمزوری لري املايی گډوډۍ هم پکې شته او له نورو خاميو يې هم سترگې نشي پټيدای .

(۲) سيمينارونه او کنفرانسونه :

کله چې سړی د سيمينارونو په ارتباط د آزاد افغانستان د ليکوالو

ټولنې اسناد او هم د دې ټولنې په موقوتو خپرونو کې د دغو سیمینارونو چاپ شوي گزارشونه گوري ، نو له هغو ځخه ښکاري چې دې ټولنې له ۱۹۸۹ ع کال را په دېخوا د سیمینارونو جوړولو ته توجه کړې ده او دې لړۍ ته یې د ۱۹۹۲ ع کال ترپایه دوام ورکړی دی . په ۱۹۹۳ - ۱۹۹٤ کلونو کې دې مؤسسې سیمینارونه نه دي جوړ کړي ؛ د دې نه جوړولو علت دا بیانیږي چې په دې وروستیو کلونو کې د نورو ډیرو افغانی مؤسساتو په څیر پر دې موسسې هم مرستې په قسمي ډول بندې او یا لږې شوې . اوس به وگورو چې دې مؤسسې د خپل فعالیت په دوران کې څومره سیمینارونه او کنفرانسونه جوړ کړي دي ؟

د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې مشر پروفیسور امین د ۱۹۹٤ ع کال د اگستې په میاشت کې له امریکا غږ سره په یوه مرکه کې وویل : « زموږ ټولنې ټول ٤۰ ملی او ۳ بین‌المللی او منطقه یي سیمینارونه جوړ کړي دي » .

د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې منطقه یی او نړیوال سیمینارونه دا دي :

۱ - د افغانستان لپاره د اجتماعي او کلتوري دورځا نړیوال سیمینار :

دا سیمینار د لیکوالو ټولنې د امریکایي افغان پیژندونکي لوئي دوپرې د یادونې په مناسبت د ۱۹۹۰ ع کال د مارچ په ۲۰ - ۲۲ مه نیټه د دریو ورځو لپاره د پېښور پوهنتون په ایریا سټډي سنټر کې جوړ کړی و .

په دې سیمینار کې له افغاني او پاکستاني پوهانو سربېره د نورې نړۍ د ځینو هیوادونو پوهانو هم برخه اخیستې وه . د دې سیمینار مقالې د WUFA مجلې د پنځم کال په څلورمه گڼه (د ۱۹۹۰ ع کال اکتوبر - دسامبر) کی چاپ شوې دي . دا گڼه ۲۱۵ مخه ده .

۲ - د افغانستان د سیاسي او قــانوني مؤسساتو د بیا رغاونې نړیوال سیمینار :

دا سیمینار د ۱۹۹۱ ع کال د مارچ په ۲۱ - ۲۳ مه نیټه درې ورځې د پېښور په پیرل کانتیننتال هوټل کې دایر شوی و . په دې سیمینار کې هم ډیرو افغاني ، پاکستاني او د نورو ځینو هیوادونو پوهانو خپلې مقالې واورولې . په دې سیمینار کې د پاکستان اوسنۍ صدراعظمې میرمن بینظیر بهټو هم برخه اخیستې وه . د دې سیمینار د مقالو مجموعه د WUFA مجلې د ۱۹۹۲ ع کال د (جنوری - مارچ) په ګڼه کې چاپ شوې ده ، د دې ګڼې ټول مخونه ۲۲۸ دي .

۳ - په سیمه او مرکزي آسیا باندې د شوروي د وروستیو پیښی اغیزی:

دا سیمه ییز سیمینار د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنی د ۱۹۹۲ ع کال د اپریل په ۲۰ - ۲٤ مه نیټه جوړکړی و. دا پنځه ورځنی سیمینار په پیښور کې جوړ شوی و . په دې سیمینار کې د مرکزي آسیا د جمهوریتونو ، ترکیې ، ایران او پاکستان پوهانو خپلی مقالې ولوستلې، افغاني پوهان هم په مقاله لوستونکو کې شامل وو . د دې سیمینار د مقالو مجموعه د WUFA مجلی د ۱۹۹۲ ع کال د (اپریل - دسامبر) په ګڼه کې چاپ شوې ده . د دې ګڼې ټول مخونه ۲۳٦ دي . له دغو دریو بین المللی او سیمه ییزو سیمینارونو سربیره ، لکه چې د مخه مو هم ورته اشاره وکړه ، دې مؤسسې ٤۰ ملـي سیمینارونه هم جوړ کړي دي . په دغو ملي کنفرانسونو او سیمینارونو کې چې زیاتره یې د ټولنې په دفتر کې جوړ شوي دي ، ۷ یې په ۱۹۸۹ ع کال ، ۲۲ یې په

۱۹۹۰ ع کال کې او پاتې په نورو کلونو کې جوړ شوي دي . له دغو ملي سیمینارونو او کنفرانسونو څخه ځینې دا دي :

- د افغانستان د بیا ودانولو سیمینار :

دا سیمینار د ۱۹۸۹ ع کال د نومبر په ۹ مه نیټه د سوات په مدین کې جوړ شوی و او درې ورځې یې دوام درلود . په دې سیمینار کې افغاني پوهانو د افغانستان د سیاسي ، نظامي ، تعلیمي ، زراعتي او روغتیایی جوړښتونو د بیا رغاونې او جوړونې په باب مقالې لوستې وې او د سیمینار په پای کې یې پریکړه لیك هم صادر کړی و . د سیمینار پریکړه لیك د خپلواکي د مجلې د څلورم کال په دریمه گڼه (۱۳٦۸ ، میزان - قوس ، ۱۰۹ - ۱۱۷ مخونه) کې خپور شوی دی .

- د جدي د ٦ مې د غونډې په مناسبت غونډه :

په افغانستان باندې د پخواني شوروي اتحاد د نظامي تیري لسمه کالیزه ، د لیکوالو ټولنې د ۱۳٦۸ هـ ش کال (۱۹۸۹ دسمبر) د جدي په شپږمه نیټه د یوې غونډې په ترڅ کې وغندله . دا غونډه د پیښور په پیرل کانتیننتال هوټل کې جوړه شوې وه . غونډې ته حضرت صبغت الله مجددی ، قوماندانان ، تعلیمیافته افغانان او په گڼ شمیر کې علاقمندان راغلي وو . په دې غونډه کې د لیکوالو ټولنې د مشر پروفیسور امین افتتاحیه وینا د خپلواکي مجلې د څلورم کال په څلورمه گڼه کې چاپ شوی ده . (۱۳٦۸ جدي - حوت ، ۳ - ۷ مخونه)

- د افغانستان اوسنی سیاسي وضع کومې خواته روانه ده ؟

دا سیمینار ټولنې د ۱۹۹۰ ع کال د جون په لسمه نیټه جوړ کړی و

په دې سیمینار کې پروفیسور امین ، ښاغلیو اریوبی ، تهیوال ، عادل ، صافی ، ارباب دوست محمد ، عظمت حیات ، خالد معروف او محمود شاه پاچا خبرې کړې وې .

- د سیاسي گوندونو دورڅا :

دا یو بل کنفرانس دی ، چې د دې ټولنې له خوا د ۱۹۹۰ ع کال د جون په ۲٤ مه نیټه جوړ شوی و . ښاغلیو پروفیسور امین ، روستار تره کی ، دلاور سحری او صدیق سلجوقی پکې خبرې کړې دي .

- په ختیځه اروپا باندې د افغان جهاد اغیزې :

دا کنفرانس د لیکوالو ټولنې د ۱۹۹۰ ع کال د جولای په ۸ مه نیټه جوړ کړی و او په هغه کې ښاغلیو پروفیسور امین ، صافي ، شینواري جلال او ځینو نورو خبرې کړې دي .

- د افغانستان په هکله د ملگرو ملتونو وروستی وړاندیز د منلو وړ دی که نه ؟

په دې نامه د لیکوالو ټولنی د ۱۹۹۱ ع کال د اگست په دریمه د پیښور په گرین هوټل کې یو سیمینار جوړ کړی و . په دې سیمینار کې حضرت صبغت الله مجددی او نورو افغانی شخصیتونو ، پوهانو او ژورنالستانو برخه اخیستې وه . د دې سیمینار گزارش او د مقالو لنډیز د خپلواکي مجلې د ۱۳۷۰ هـ ش کال په څلورمه گڼه ۸۹ - ۱۲۱ مخونو کې چاپ شوی دی .

- د افغانستان په کلتور کې راغلي بدلونونه او بیا رغاونه یې :

دا کنفرانس د ۱۹۹۱ ع کال د نومبر په ۹ مه نیټه د لیکوالو ټولنې

په دفتر کې جوړ شوی و . په دې کنفرانس کې ښاغلیو : حبیب الله رفیع ، فضل الرحیم مروت او حکیم تنیوال مقالې اورولې وې .

- د افغــانستان د مسألـــې سیاسي حـــل او په راتلونکې کې د افغانستان او پاکستان اړیکې :

دا یو ورځنی سیمینار د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې د ۱۹۹۲ ع کال د فروری په ۲۳ مه نیټه د پیښور په پیرل کانتیننتال هوټل کې جوړ کړی و . په دې سیمینار کې له افغاني علماوو او اجتماعي شخصیتونو برسیره د پاکستان د ګوندونو استازیو هم برخه اخیستې وه او د هر ګوند استازي په دې ارتباط څرګندونې کړې وې (وفا جریده ، لومړی کال ۷ ګڼه)

- د افغانستان مسأله او د هغې حل :

د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې دا سیمینار د ۱۹۹۲ ع کال د اکتوبر ۲۱ مه نیټه د پیښور پوهنتون په ایریا سټډي سنټر کې جوړ کړ . دا د وفا لومړنی سیمینار و ، چې له مهاجرو افغانانو سربیره د هیواد له داخل نه رابلل شویو افغانانو هم برخه پکې اخیستې وه . په دې سیمینار کې افغاني او پاکستاني پوهانو او سیاسي ، اجتماعي شخصیتونو او ژورنالستانو مقالې واورولې . له مشهورو پاکستاني سیاستمدارانو څخه ښاغلی میجر جنرل (ریټایرډ) نصیرالله خان بابر هم په دې سیمینار کې جالبه مقاله واوروله چې افغاني مؤرخان یې له ځینو ټکو ښه استفاده کولای شي . د دې سیمینار ټول اسناد په پښتو او دري ژبو د وفا جریدې په یوه فوق العاده ۲۸ مخیزه ګڼه کې چاپ شوي دي . (لومړی کال ۲۴ مه ګڼه)

- افغانستان په څلور لارې کې
د هغه علتونه او علاجونه :

دا سیمینار د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې له خوا د ۱۹۹۲ ع کال د دسامبر په ۲۰ او ۲۱ مه نیټه د دوو ورځو لپاره د اسلام آباد ښار په اسلام آباد هوټل کې دایر شو . په دې سیمینار کې له افغاني شخصیتونو او پوهانو سربیره پاکستانی ، ایرانی او ځینو عربی لیکوالو پوهانو او ژورنالستانو هم برخه اخیستې وه . د دې سیمینار مکمل گزارش او د مقالو خلاصه د وفا جریدې د دوهم نشراتي کال په څلورمه شپاړس مخیزه گڼه کې چاپ شوې ده .

***   ***   ***

لوړ یاد شوي سیمینارونه د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنی مستقیماً خپله دایر کړي دي ؛ ټولې علمي او اداري چارې یې په‌خپله سرته رسولې دي ، اما له دې سربیره دې مؤسسې د ځینو سیمینارونو په جوړولو کې له نورو مؤسساتو سره هم مادي مرستې کړې دي ، لکه :

۱ - د آزاد افغنستان د لیکوالو ټولنې په افغانی ټولنه کې د ښځو حقوقو او په اجتماعي چارو کې د ښځو اغیزمنې او پدل ته د پاملرنې په منظور د اکبر د مؤسسې له خوا جوړ شوی د ښځو درې سیمینارونه په مادي لحاظ تمویل کړل ، هغه سیمینارونه دا دي :

الف - ښځې او جهاد : د ۱۹۹۱ ع کال د سپتمبر په ۲۶ مه ، ۲۵ تنو ښځو پکې گډون کړی و .

ب - اقتصادي سکتور او ښځې : د ۱۹۹۱ ع کال د اکتوبر ۳۱ مه ، ۳۱ تنو ښځو پکې گډون کړی و .

ج - د ښځو اجتماعي اغیز : د ۱۹۹۱ ع کال د دسامبر ۲ مه ، ۲۲

تنو ښځو پکې ګډون کړی و .

۲ - ټولنې د نارنج ګل د يوې پسرلنۍ مشاعرې په جوړولو کې د افغانستان د پوهنتونونو له اتحاديې سره مرسته کړې ده .

۳ - د آزاد افغانستان د ليکوالو ټولنې د افغانستان له کلتوري ټولنې او د استادانو له ټولنې سره يوځای د ۱۹۹۰ ع کال په اکتوبر کې د افغانستان د اوسنيو ادبياتو تحليلي او انتقادي سيمينار په جوړولو کې برخه واخيسته . دا سيمينار د سوات په مدين هوټل کې جوړ شوی و . د دې سيمينار د اسنادو مجموعه د « اوسني ادبيات » په نامه د افغانستان کلتوري ټولنې له خوا چاپ شوې ده .

٤ - ټولنې د احمد شاه بابا د سيمينار په جوړولو کې د پېښور له خليل اولسي ادبي جرګې سره مالي مرسته کړې ده او هم يې د وفا جريدې يوه خاصه ګڼه په دې مناسبت خپره کړه (د دوهم کال ۳۹ ګڼه) دا سيمينار په ۱۹۹۳ ع کال د اګست د مياشتې په ۳۰ مه نېټه د پېښور پوهنتون په ايريا سټډي سنټر کې جوړ شو او د مقالو مجموعه يې په همدې کال د اداره‌ء علم وفن پاکستان له خوا چاپ شوه .

۵ - د خليل اولسي ادبي جرګې د پښتو تذکره نګار او د پټې خزانې د ليکوال محمد هوتک د سيمينار د جوړولو تکل هم کړی دی . د آزاد افغانستان د ليکوالو ټولنې د دې سيمينار په مناسبت هم له خليل اولسي ادبي جرګې سره مالي مرسته کړې ده . په نظر کې دي چې د دې سيمينار په مناسبت هم د وفا خاصه ګڼه نشر شي .

له نورو مؤسساتو سره د سيمينارونو په جوړولو کې له برخې اخيستنې سربيره د ټولنې مشر پروفيسور عبدالرسول امين ، همدارنګه مرستيال او غړيو په ډېرو بين المللی سيمينارونو کې برخه اخيستې ده . دغه رنګه په پاکستان کې په جوړو شويو افغاني او پاکستاني

د اتحادیې مشر ، پروفیسور عبدالرسول امین چې تراوسه دا وظیفه سمبالوي او د دې مؤسسې د چلولو او فعال ساتلو په لاره کې یې ډیرې سرې تودې لیدلې دي .

مرستیال ، پروفیسور محمد حکیم تنیوال ، چې د ۱۹۹٤ ع کال د مارچ تر پایه د دې مؤسسې مرستیال و او د مؤسسې د کارونو په سمبالښت کې یې له رئیس سره پوره پوره مرسته کړې او خپله هڅه یې نه ده سپمولې .

په اساسنامه کې خپلواکي دوه میاشتنۍ مجله بنوول شوې ده، مګر دا مجله لومړۍ درې میاشتنۍ پیل شوې او د لیکوالو ټولنې د یوې ځانګړې څانګې په توګه د مؤسسې د تأسیس په کال فعاله شوې ده .

د WUFA درې میاشتنۍ انګریزي مجله چې دې خپرونې هم د اتحادیې د فعالیت په لومړي کال په خپرونو پیل کړی دی .

د تألیف او ترجمې څانګه ، چې د کتابونو د چاپ چارې یې سرته رسولې .

اداري څانګه چې مالي او اداري چارې یې سمبالولې .

څنګه چې د مخه ورته اشاره شوې ده د اتحادیې جوړوونکو د ټولنې لپاره دوه تنه مشاورین هم ټاکلي وو ، چې نومونه یې د مخه یاد شول .

د اتحادیې د اساسنامې په دریمه ماده کې توضیح شوې ده ، چې ټولنه به یو اخبار هم لري . خو مؤسسې د خپل تأسیس په وخت کې ونه کړای شول چې د وفا اخبار هم جاري کړي ؛ د اساسنامې دغه سپارښتنه د مؤسسې له تأسیسه څه زیات کم اوه کاله وروسته عملي شوه .

د اتحادیې په تشکیل او جوړښت کې د تیرو لسو کلونو په دوران کې تغییرات راغلي دي چې پر هغو به د اتحادیې د انکشافي پړاوونو په بحث کې خبرې وکړو .

سیمینارونو کې هم د دې ټولنې د مشر او غړیو ونډه د هیرولو نه ده .

د مثال په ډول یوازې پروفیسور امین له شلو نه د زیاتو بین المللی سیمینارونو ، کنفرانسونو او مشاهداتي کتنو لپاره امریکا او ځینو اروپایي او آسیایي هیوادونو ته دعوت شوی دی او په دغو سیمینارونو کنفرانسونو کې یې ګډون کړی دی او ځینې مشاهداتي سفرونه یې هم کړي دي .

د ټولنې له خوا جوړوشویو سیمینارونو ته یوه کتنه :

تاسې د مخه ولوستل چې دې ټولنی خپله هم ملي او بین المللی سیمینارونه جوړ کړي ، له نورو مؤسساتو سره یې هم د سیمینارونو په جوړولو کې برخه اخیستې ده او هم یې غړي د ځینو نورو مؤسساتو له خوا جوړو شویو سیمینارونو ته هم ورغلي دي .

که دا سیمینارونه موږ د کمیت او کیفیت له نظره ارزیابی کړو ، نو ښکاري چې د دې سیمینارونو مثبتې خواوې نسبت منفی خواوو ته ډیرې دي . په زیاترو سیمینارونو او کنفرانسونو کې د افغانستان د مسألې پرحل ، په افغانستان کې د قانونی او په خلکو متکي حکومت د جوړولو ، د نړۍ او سیمې له هیوادونو سره د افغانستان پر روابطو ، د افغانستان د اجتماعي ، سیاسي ، اقتصادي ، فوجی ، صحی ، زراعتي قانوني او فرهنګي مؤسساتو د بیا رغاونې؛ د مهاجرینو په پرابلمونو ، ایکالوجی ، جیالوجی ، ځنګلونو ، نشه یي او مخدره موادو د تولید پر مسأله او نورو موضوعاتو باندې خبری ، بحثونه او علمي تحقیقات شوي دي . په دې سیمینارونو کې د ادب خوا ډیره خواره ساتل شوې ، دې مؤسسی خپله ادبي سیمینارونه او مشاعرې نه دي جوړې کړې ، خو د ادبي سیمینارونو او مشاعرو په جوړونه کې یې له نورو مؤسسو سره مرسته کړې ده .

خو دا باید هیره نه کړو ، چې ټولنې د خپلو ملي سیمینارونو او کنفرانسونو په لړ کې ځینې داسې سیمینارونه او کنفرانسونه جوړ کړي دي چې د فرهنګ په ځینو اړخونو پورې اړه لري . له دغه ډول سیمینارونو څخه د یوه یادونه ما په تیر بحث کې وکړه ، خو د دې لړۍ ځینې نور سیمینارونه او کنفرانسونه دا دي :

د افغانستان د ښوونی او روزنې په باب سیمینار ، چې د ۱۹۸۹ ع کال د جون په ۳ - ٤ مه نیټه جوړ شوی و ، پروفیسور امین ، باطن شاه او پوهاند جلال پکې مقالی اورولې وې .

د همدې کال (۱۹۸۹ ع) په جون کې د افغانستان د مطبوعاتو ملي سیمینار یا کنفرانس چې ښاغلیو غلام حضرت کوشان ، دوکتور ظاهر صدیق او حاجی محمد داؤد پکې مقالې اورولې او ویناوې کړې وې . په ۱۹۹۰ ع کال کې په افغانستان کې د عالی تحصیلاتو د آیندې او ښوونې او روزنې ملي سیمینارونه چې پوهاند عظیمی ، ښاغلیو : تنهیوال ، عادل ، موج ، بارکزی ، پوهاند حمیدالله امین ، باطن شاه-صافی ، مقیم رحمانزی ، عادل ، پروفیسور امین او نورو برخه پکې اخیستې وه .

د ۱۹۹۰ ع کال د اکتوبر په ١٤ مه د ټولنې د لرغونپوهنی ، میوزیم او پخواني کلتور په باب یو کورنی کنفرانس جوړ کړی و چې ښاغلی شیرزاد ، نجمی او پوهاند سید سلطان شاه همام برخه پکې اخیستې وه . همدا راز د دې کال د همدې اکتوبر په ۲۱ مه ټولنی یو بل کورنی سیمینار د ژورنالیزم او مطبوعاتو تر سرلیك لاندې جوړ کړی و ، چې ښاغلو : حاجی داؤد ، شفیق وجدان ، پوهاند هاله ، عبدالحی ورشان او زرین انځور برخه پکې اخیستې وه .

که چیرې د سیمینارونو محتوی وکتل شي نوپه دې سیمینارونو کې

اوروړ شوي مقالو او بحثونو کې سرې د دې هیواد د غمځپلو خلکو د بیلا بیلو ستونزو او مسألو د حل په باب هر اړخیزې خبرې موندلای شي. څو د سیمینارونو او کنفرانسونو ټول اسناد د وفا په خپرونو کې نه دي خپاره شوي .

یوازې د دریو بین المللي سیمینارونو مقالې او اسناد د WUFA د مجلې په دریو ګڼو کې په انګریزی ژبه چاپ دي . د یوه ملي سیمینار بشپړ اسناد د وفا اخبار په یوه فوق العاده ګڼه کې چاپ شوي دي ؛ د دوو نورو کورنیو سیمینارونو د مقالو لنډیز د خپلواکي په مجله او د وفا په اخبار کې چاپ شوي دي . د ځینو سیمینارونو ګزارشونه چاپ دي ، د زیاترو حتی ګزارش هم نه دی چاپ شوی .

هغه سیمینارونه چې اسناد یې چاپ نه شي په فرهنګي وده او هم د ټولنې په اجتماعي ، اقتصادي ، سیاسي سمون کې تلپاتی ګټه نه لري ، ښایي عاجله استفاده ترې وشي ؛ مطبوعاتو او د جمعی مفاهمی نورو وسایلو ته خبرونه برابر کړي . په کار وو چې ټولنی د دغو سیمینارونو مقالې او اسناد په پښتو او دری ژبو ځانله ځانله چاپ کړي وای ، که دا کار شوی وای نو ګټه به یې خورا زیاته وه .

(۳) اجتماعي خدمات :

د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې د خپل تأسیس له لومړنیو شیبو نه بیا تراوسه پورې د افغاني تعلیمیافته وو لپاره په بیلا بیلو ساحو کې ځینې اجتماعي خدمات هم ترسره کړي دي ، چې د دې مؤسسی د کارونو په بهیر کې یې باید یادونه وشي .

۱ - د جهاد په کلونو کی چې کومو افغانانو خپل تاټوبی پریښود او پیښور ته راتلل ، نو ټولنې ته د مراجعې په صورت کې به ورسره

سربیره پردې چې د مهاجرت د رسمي اسنادو په جوړولو کې مرسته کیده ، د اتحادیې له مالي توان سره سم به د دوی د ورځنیو حوایجو د رفع کولو په منظور ځینې نورې مادي مرستې هم ورته ورکول کیدې . د لیکوالو ټولنې دا ډول مرستې له تعلیمیافته وو ، سپین ږیرو ، علماوو او قومي مشرانو ، مخورو سره وخت په وخت کړې دي .

کله چې پخواني رژیم سقوط وکړ او تنظیمي رژیم د هیواد په ځینو سیمو وزرې خورې کړې ، د افغانستان له ځینو سیمو په زیاته له کابل نه پیښور ته د مهاجرتونو نوې لړۍ پیل شوې ، د فرهنګ د ساحې کوم کار کوونکی او نور روښانفکران ، سپین ږیري او قومي مشران چې په دې موده کې پیښور ته راغلي دي . دوی ته هم د اتحادیې له لیارې له افغان ریفوجی کمشنرۍ نه د مهاجرت او دلته (پیښور) کې د اوسیدنې رسمي اسناد اخیستل شوي دي . ډیـرو دغـو نویو مهاجــرو سره یې د (راشن پاس) په جوړولو کې مرسته کړې ده .

٢ - اتحادیې له خپل تأسیس نه تراوسه پورې ډیرو تعلیمیافته ووته د کار زمینې برابرې کړې دي . په بیلا بیلو وختونو کې یې ځینې کسان خپله په اتحادیه کې جذب کړي دي او ځینو نورو ته یې په نورو مؤسساتو کې د کار شرایط برابر کړي دي او ځینې کسان یې نورو مؤسساتو ته معرفي کړي دي .

٣ - ځینې وختونه داسې هم راغلي دي چې ځینو لیکوالو او شاعرانو غوښتي چې خپل آثار په ځانګړي ډول چاپ کړي . له اتحادیې څخه یې د مرستې غوښتنه کړې ده ، اتحادیې له دغسې کسانو سره هم مرسته کړې ده . اتحادیې د خوشحال د فرهنګي ټولنې د خپرني ارګان شمشاد مجلې یوه ګڼه (دریمه ګڼه) په خپل لګښت چاپ ته آماده او چاپ کړه او ځلورمه ګڼه یې ورته کمپوز کړه .

٤ - اتحادیې د خپل پرسونل سویې د لوړولو او دوی ته د زیاتې

مطالعې د زمینو په برابرولو کې هم وخت په وخت مرسته کړې ده . ډیرو افغانانو او افغان بچو ته د ابتدایي ، متوسطو او عالی تحصیلاتو د زمینې ، په برابرولو او په تعلیمي او تحصیلي مؤسساتو کې د شمولیت لپاره هلې ځلې کړې دي .

۵ - دې اتحادیې زیاتره وخت له نورو ځایونو سره د افغاني تعلیمیافته وو د ارتباط د یوې کړۍ حیثیت هم درلودلی دی . ډیرو افغانانو له نورو مؤسساتو سره ارتباط د دې مؤسسې د وسایطو او تسهیلاتو له لارې تأمین کړي دي .

دا وو په بیلا بیلو ساحو کې د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې هغه کارونه چې دې مؤسسې د خپل لس کلن فعالیت په جریان کې سرته رسولی دي . قضاوت په آینده فرهنگی مؤرخینو او د دې رسالی په لوستونکو اړه لري .

یادونه :

د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې ټولو یادو شویو کارونو ته په برسیرن نظر باید دا خبره هیره نه کړو ، چې دا ټولنه یوه مؤسسه وه او ده .. ډیرو کسانو پکې بیلا بیل کارونه سرته رسولي دي . په دې کارونو کې به ډیر گټه ور او مفید کارونه هم وي ، د لږ ارزښت لرونکي کارونه به هم لري او ځینې به داسې وي چې اغیز او پدل یې د فرهنگ په وده کې ډیر ناځیز دي . دا کارونه به سهوې او اشتباهات هم ولري ؛ نیمگړتیاوې او کمبوتې به هم پکې وي . دا سمه خبره ده ، چې څوک کار کوي نو هرومرو به تیروتنې هم لري . د دې ټولنې کارونه هم له دې امره مستثنی نه دي ، ځینې داسې کارونه به هم زموږ د هیوادوالو په ذهنونو کې گرځي چې دې مؤسسې کولای شول اما نه یې دي کړي . په هرصورت څه چې په بیلا بیلو وختونو کې د مؤسسی د کار کوونکو او مؤسسې په وس پوره وو ، هغه یې کړي دي ، نیت یې صاف ښکاري او افغانانو ته د خدمت آرزو پکې نغښتې معلومیږي .

« ۳ »

د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنه کې څه کار کړی دی ؟

د دې تاریخچې په لومړي څپرکي کې د هغو کسانو نومونه راغلل ، چې دا ټولنه یې جوړه کړې وه . مګر په ټولنه کې له مؤسسې ډلې سربېره په دې لسو کالونو کې ، ځینو نورو کسانو هم کار کړی دی ، چې د دې تاریخچې د بشپړولو په نیامت یې لړ لړ شرح حال راوړم . د شرح حال په دې څپرکي کې لومړی هغه کسان معرفي کیږي ، چې د رهبرۍ په څانګه کې یې کارونه کړي دي او یا په ځینو علمي او مسلکي څانګو کې یې کار مصروف وو او یا دي . په دوهمه برخه کې هغه کسان راځي چې په تخنیکي او اداري څانګو کې یې کار کړی دی .

الف - علمي ، فرهنګي او مسلکي همکاران :

هغه ښاغلیو چې د اتحادیې د رهبري چارې او علمي ، مسلکي کارونه سمبال کړي ، دا دي :

امین، پروفیسور عبدالرسول :

پروفیسور عبدالرسول امین د افغانستان له اجتماعی ، سیاسي شخصیتونو او د کابل پوهنتون له پخوانیو استادانو څخه دی . تر لوړو زده کړو وروسته یې د افغانستان په علمي مراکزو کې کارونه کړي دي او کله چې پیښور ته مهاجر شوی دلته هم له دغه ډول مؤسساتو سره تړلی پاتې شوی دی .

دی د ۱۹۳۹ ع کال د مئ د میاشتی په ۱۰ مه (۱۳۱۸ هـ ش) د کونړ ولایت په مرکز پورې مربوط د وټه پور د کلی د یوې بډایې کورمې د محمد امین خان په کورنۍ کې وزوکید . دی د دریو کالو ماشوم و ، چې مور یې مړه شوه ؛ د کورنۍ ښوونکي د درس د حلقې شاګرد و ، چې د ساپو ترجګړې څه موده وروسته په ۱۳۲۶ هـ ش کال د دوی کورنۍ له کونړ نه تبعید شوه ، څه وخت په هرات کې وو ، بیا یې څه وختونه مزارشریف او د بلخ اولسوالی کې له خپلې کورنۍ سره یوځای د تبعید په حال کې تیر کړي دي ؛ بیا له کورنۍ سره د جوزجان ولایت د آقچې اولسوالۍ د فیض آباد په علاقه دارۍ کې میشت شوی دی او کورنۍ یې په ۱۳٤٤ هـ ش کال بیرته کونړ ته ستنه شوې وه .

ده ابتدایی زده کړې په افغانستان کې سرته رسولې دي او د متوسطو او لوړو زده کړو لپاره په ۱۳۳٤ هـ ش کال له افغانستان نه پیښور ته راغلی دی . یو کال یې د انګریزي او اردو ژبو زده کړې ته وقف کړ ، بیا یې د متوسطو زده کړو د پرمخ بیولو لپاره په Forword School and College کې داخله واخیسته او په ۱۹٦۰ ع کال ترې فارغ شو . د لوړو زده کړو لپاره د پیښور په اسلامیه کالج کې

شامل شو او په دې کالج کې د تحصیل په دوران کې د خیبر یونین (د محصلانو د اتحادیې) عمومي سکرتر هم ټاکل شوی دی او په ۱۹۶۱ او ۱۹۶۲ کلونو کې د دې اتحادیې عمومی سکرتر و . ده په ۱۹۶٤ کی B. A کړی ده ، په ۱۹۶۶ ع کال کې د ماسټرۍ ترحاصلولو او د تحصیل د دورې تر فراغت وروسته بیرته افغانستان ته تللی دی . په افغانستان کې د ده لومړنی ماموریت د پښتو ټولنې غړیتوب و ؛ بیا د کابل پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو په پوهنځي کې د اجتماعي علومو د استاد په توګه وګمارل شو . وروسته بیا د اجتماعی علومو د دیپارټمنت مشرۍ ته هم ورسید . د مهاجرت تروختته په کابل پوهنتون کې د وطن د ځوانانو په روزنه بوخت و .

پروفیسور امین د کمونستانو د تسلط په دوران کې له رژیم سره د مخالفت په اثر د ۱۳۵۸ هـ ش کال په ثور کې زندانی شوی و ؛ بیا د همدې کال د جدي په میاشت کې د روسانو د سرو لښکرو له راتګ سره جوخت له خپلې کورنۍ سره یوځای پیښور ته مهاجر شو .

له ۱۹۸۰ ع کال نه تر ۱۹۸۵ ع کال پورې یی له ملي اسلامی محاذ او افغان اطلاعاتی مرکز سره کار وکړ ؛ په محاذ کې د مهاجرینو د فتر مشر او هم د محاذ د مشر مشاور و . په ۱۹۸۵ ع کال کی چې د ده او نورو افغانانو په همت د آزاد افغانستان د لیکوالو اتحادیه جوړه شوه ، دې یی د رئیس په حیث وټاکل شو او تراوسه د دې مؤسسی مشر دی . او ورسره ورسره په دې موده کې د دې اتحادیی د خپرونو مشر مدیر هم پاتی شوی دی ، ده په پیښور کې د افغانستان د پوهنتونونو د استادانو د اتحادیی په جوړولو کې هم برخه درلودلې ده .

پروفیسور امین د هجرت په دوران کې د افغانستان د مسألې په ارتباط په ډیرو ملی او بین‌المللی سیمینارونو او کنفرانسونو کې برخه

اخیستې ده او د ځینو هیوادونو د کتنې په ترڅ کې یې د مظلومو افغانانو په حال د نورو هیوادونو خلك او مسؤول حلقات خبر کړي دي . ده د امریکا متحده ایالاتو ، انگلستان ، فرانسې ، آلمان ، روسیې ، مرکزي آسیا ، ډنمارك ، هالنډ ، بلجیم ، سویس ، یونان ، ایتالیا ، ناروې او مصر ته سفرونه کړي دي . ده د محصلۍ په دوران کې شعر ویلو ته هم مخه کړې وه ، خو وروسته یې د شعر ویل پریښودل . دی د پښتو ، دري او انگریزي ژبو لیکوال دی . د سیاسي ، اجتماعي او فرهنگي مسایلو په باب یې مقالې او لیکنې په افغانستان کې : په کابل مجله ، زیري جریده ، د هیواد ورځپانه او وږمې مجله کې چاپ شوې دي . په خپلواکي مجله ، WUFA مجله ، وفا جریده ، فرنټیر پُسټ او ځینو نورو اخبارونو او مجلو کې یې هم متفرق آثار نشرد ي .

د ده په ترجمه کړیو او لیکلیو آثارو کې دا لاندې آثار د یادونې وړ دي :

١ - د پروفیسور کونیگ د سوسیالوجي نومې کتاب ترجمه ، چې د دې اثر بیلا بیل فصلونه په وږمه ، کابل مجله او زیري کې چاپ شوي دي .

٢ - د پښتنو ټولنیز او اقتصادي جوړښت : دا اثر یې د ښاغلي حکیم تنیوال په همکاري د پښتو څیړنو د بین المللی مرکز لپاره لیکلی دی او په ١٣٦٢ هـ ش کال د همدې مرکز له خوا چاپ شوی دی . دا کتاب ښاغلی حکمتی په انگریزي ژباړلی دی ، خو تراوسه چاپ نه دی .

٣ - په افغاني ټولنه کې د ښځو اجتماعي موقف : دا اثر پروفیسور امین د کابل پوهنتون د ریسرچ د ادارې لپاره په ټول افغانستان کې د ریسرچ له لیارې تهیه کړی دی . یوه کاپې یې د کابل پوهنتون د څیړنو په ځانگه کې وه ، چې تراوسه نه دی چاپ شوی .

٤ - د څناورو فارم : دا د جورج ارول د مشهور اثر Animal Farm پښتو ترجمه ده ، چې په ١٩٨٥ ع کال کې د آزاد افغانستان د

ليکوالو ټولنې د لومړنی غیرموقوتي خپروني په توگه چاپ شوی دی .
پر دې اثر ده يوه اوزده تحليلي مقاله ليکلې ده ، چې دغه مقاله خپله د بحث او د خاص ارزښت وړ ده .

۵ – د مقالو مجموعه : د ده د ځينو عمده تحليلي مقالو مجموعه اوس ښاغلي شاه محمد اکبر راټوله کړې ده ، خو تراوسه چاپ نه ده . دا مقالې د افغانستان په سياسي ، اجتماعي مسايلو پورې اړه لري او د افغانستان د نن ورځې مسايل يې ښکی تحليل کړي دي ؛ په نظر کې دي چې په روان کال کې چاپ شي .

تڼيوال ، حکيم :

د کابل پوهنتون پخوانی استاد او د آزاد افغانستان د ليکوالو ټولنې د مؤسسې ډلې غړی ښاغلی حکيم تنيوال د ۱۹۴۶ ع کال د مارچ په مياشت (۱۳۲۵ هـ ش) کې د خوست د سيمې د تنيو د اولسوالی په مربوطاتو کې زوکړی دی . ابتدايي تعليم يې په سيمه او متوسط يې بيا د رحمان بابا ليسه کې په ۱۹۶۴ ع کال پای ته رسولی دی . د لوړو زده کړو لپاره د آلمان اتحادي جمهوريت ته استول شوی دی ، د B. A او M. A تحيلی دورې يې د سوسيالوجی په څانگه کی په ترتيب سره په ۱۹۷۲ او ۱۹۷۴ ع کلونو کې د آلمان د اتحادی جمهوريت د Muenster په پوهنتون کې سرته رسولې دي او په همدې ۱۹۷۴ ع کال کې افغانستان ته راستون شوی دی ؛ له ستنيدو سره سم د رحمان بابا په ليسه کې د ښوونکی په توگه مقرر شوی دی . په ۱۹۷۶ع کال په کابل پوهنتون کې د اجتماعي علومو په ډيپارټمنټ کې د

(٤) د اتحادیې هدفونه :

په دې بحث کې موږ دا ښیو چې د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنه څه دول ټولنه ده ؛ د کومو هدفونو د تحقق لپاره جوړه شوې ده ؟

د اتحادیې د اساسنامې په دوهمه مـــاده کې دا خبره تصریح شوې ده ، چې د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنه یوه آزاده او غیرحزبي ټولنه ده . نه د کوم خاص گوند ، ډلې او تنظیم په گټه فعالیت کوي او نه یې پرضد ، بلکې د کار موخه یې افغانستان او افغانانو ته خدمت دی . د دې ټولنې د منشور پراساس دا ټولنه یوازې په لیکوالو او شاعرانو اړه نه لري ، بلکې د تعلیمیافته منورو افغانانو او استادانو د ټولیدنځای حیثیت[یې] درلودلی دی او تراوسه یې خپل دغه حیثیت ساتلی دی .

د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې د جوړېدو اصلي هدف ، د تأسیس په لومړیو وختونو کې د اتحادیې له خوا په یوه خپاره شوي بیان کې داسې ښوول شوی دی :

« د دې لپاره چې د گران هیواد افغانستان په جهاد کې مو خپل مسؤولیت ترخپلې وسې پورې سرته رسولی وي او لږ ترلږه مو د روس د ډول ډول زهرجنو تبلیغاتو او خپرونو د مخنیوی او خنثی کولو لپاره یو مثبت گام اوچت کړی وي ، موږ څو تنه زده کړه وال افغانان سره راټول شوو او د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې په نامه مو یوه ټولنه جوړه کړله » . (٤)

د لوړ بیان ترڅنگه چې د مؤسسې د جوړېدو د ضرورت او د اساسي هدف اصلي روح پکې ښوولی شوی دی ، د اتحادیې د اساسنامې په دوهم فصل کې ټول هغه اهداف بیان شوي دي ، چې اتحادیه یې د تحقق لپاره په کار او فعالیت مکلفه شوې ده .

---

(٤) خپلواکي : لومړی کال ، لومړۍ گڼه ، ١٣٦٤ هـ ش ، ٨ مخ .

فهرست

عنوان	مخ
« ۱ »	
د جوړېدو پس منظر ، اهداف ، جوړښت انکشافي پړاوونه او اوسنی بنه	۱
– د جوړېدو پس منظر او تاریخچه	۶
– مؤسسین	۷
– جوړښت	۹
– د اتحادیې انکشافي پړاوونه	۱۵
– د اتحادیې اوسنی بنه	۱۶
– د تمویل منابع	۱۷

عنوان	مخ

« ۲ »

د آزاد افغانستان د ليکوالو ټولنې څه کړي دي ؟	۱۹
- خپرونې	۲۰
- موقوتې خپرونې	۲۰
- خپلواکي	۲۰
- د خپلواکي خپرونو ته يوه کتنه	۳٦
- درې مياشتنۍ WUFA	۳۸
- د WUFA خپرونو ته يوه کتنه	٤۳
The WUFA (Incidental Issue)	٤٥
- د وفا جريده	٤۷
- د وفا د خپرونو په باب يادونه	٥٥
- غير موقوت نشرات	٥٦
- د ټولنې خپرو کړيو کتابونو ته يوه کتنه	۸۱
- سيمنيارونه او کنفرانسونه	۸۲
- د ټولنې له خوا جوړو شويو سيمينارونو ته يوه کتنه	۹۰
- اجتماعي خدمات	۹۲

« ۳ »

- د آزاد افغانستان د ليکوالو ټولنه کې چا کار کړی دی ؟	۹٥

عنوان	مخ

- علمي او مسلكي همکاران	۹۵
- اداري او تخنيکي همکاران	۱۲۵
- مرستندوی غړي ، افتخاري غړي او مشاوران	۱۳۲
Summary	

ضميمه :

- اساسنامهء اتحاديهء نويسنده گان افغانستان آزاد

- د اساسنامې انګريزي متن

دآزاد افغانستان دليکوالو ټولنه
دخپل لس کلن کار په هنداره کې

سرمحقق زلمی هیواد مل

بعسمه تعالی

سریزه

د ۱۳۵۷ هـ ش کال د ثور کمونستي کودتا او د دې کودتا له امله افغانستان او افغانانو ته د ورپیښو شویو ناخوالو ، نادودو ، ورانیو او در په دریو په لړ کې زموږ ډیر هیوادوال ، د بیلا بیلو عواملو په اساس د وطن پریښوولو ته اړ کړای شول .

د دغو اجباري مهاجرتونو په لړ کې ډیر افغانان د افغانستان گاونډیو هیوادونو ته راواوښتل . په مهاجرینو کې د افغانانو بیلا بیل اقشار شامل وو .

ځینو افغاني تعلیمیافته وو ، د پوهنتونونو استادانو ، د فرهنگ کار کوونکیو او له نورو علمي او هنري څانگو سره تړلیو ډیرو کسانو ته کمونستي ناتار او بیا د روسي یرغل نادودو او ناخوالو د ژوند زمینه تنگه کړه او په زیات تعداد کې دغو خلکو خپل ټاټوبی او خپل کورونه پریښوول او له خپلو کورنیو ، ورو بچو او ښځو سره په ډیرو سختو لارو د زیاتو خطرونو په منلو گاونډیو هیوادونو ته لاړل او د بل واک رژیم او پردي حاکمیت په وړاندې یې د مبارزې په نیامت د جهاد له لیکو سره

ځانونه‌یوځای کړل.

د افغانانو د جهاد د ١٤ کلنې دورې په بیلا بیلو وختونو کې د هیواد د تعلیمیافته قشر ډیر اشخاص پیښور ته راغلل . له دغو راغلیو منورو او پوهو افغانانو سره دا هیله وه ، چې د خپل وطن د آزادۍاو له هیواد نه د پردي حاکمیت د ختمولو او خارجي پوځونو د ایستلو په لاره کې هلې ځلې وکړي ، ځکه دوی پوهیدل چې جهاد او له بل واك سره مجادله د ټول افغان اولس هیله وه او د ملت د زړه آوازونو دوی د ملت له آواز سره د خپلو آوازونو د یوځای کولو لپاره هر څه پریښي وو او د مهاجرت ډیرې ترخې او له ستونزو ډکې شپې یې قبولې کړې وې . خو ولیدل شول چې په دې خوارلس کلنه دوره کې ځینو بانفوذه ډلو او تنظیمونو افغان تعلیمیافته مهاجرو ته د شك په سترګه کتل ، نه یې په خپلو لیکو کې پریښوول او نه یې ځانګړیو فعالیتونو ته . که چا به د ځانګړیو فعالیتونو آرزو درلوده ؛ نو به له هر ډول تهمتونو ، تورونو او تهدیدونو سره مخامخ وو . ځکه نو پیښور ته راغلي په زرګونو افغان تعلیمیافته دلته تم نه شول او نورو هیوادونو ته یې پناه یووړه . د دغه قشر ځینو باعزمه او باارادہ کسانو،چې له موانعو سره یې ډغره ووهله او دلته پاتې شول ، له ټولو بندیزونو او خنډونو سره سره یې دلته سیاسي ، فرهنګي ورېې ، لویې هستې ایجاد کړې او د افغانانو د جهاد د فکري اړخ د تقویې او د جهاد د ارزښتونو د ښرګندولو او پر مظلومو افغانانو د تیریو او تجاوز د بربنډولو لپاره یې د سیاسي ، فرهنګي کار لپاره ځینې نهادونه تأسیس کړل .

دغو منورو افغانانو د بانفوذه ځینو تنظیمي قوتونو له شدیدو مخالفتونو سره سره د زړه په وینو او د ایمان په زور خپلو کارونو ته دوام ورکړ ؛ ډیرو پکې خپل ځانونه قربان کړل ، خو د تهدید له ویرې یې د

مبارزې تود میدان پرې نښود .

د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنه هم له هغو مؤسسو څخه یوه ده چې لس کاله د مخه د تعلیمیافته او منورو افغانانو د یوې ډلې له خوا جوړه شوه .

دې اتحادیې د جهاد د فکري بنسټونو د غښتلتیا ، د پردي تیري او پردي حاکمیت د مظالمو د رسوا کولو او د مظلومو افغانانو د آواز اوچتولو لپاره پراخې هلې ځلې پیل کړې . د دې مؤسسې هلې ځلې زیاتره د مؤسسې په موقوتو خپرونو ، کتابونو او سیمینارونو کې ځرګندې شوې دي .

د دې مؤسسې مشرانو د خپلو خپرونو ، سیمینارونو ، کنفرانسونو ، مصاحبو او فرهنګي ، سیاسي مبارزې له لیارې د افغانستان له ملي لوړو ګټو نه د دفاع ، د افغان اولس ترمنځ د ملي وحدت د ټینګښت ، د افغانستان د ملي حاکمیت او سالمیت د ساتنې لپاره نه ستړې کیدونکې هڅې کړې دي .

د افغان جهاد په دوره کې د دې ټولنې کارونه ځینې خاصې برجسته‌ګۍ لري . هغه څه چې دې مؤسسی د افغانستان د خلکو په ګټه سرته رسولي دي هغه د جهاد په فرهنګي تاریخ کی د خاصې توجه او یادونې وړ دي .

خو کله چې جهاد بریالی شو او بل واک رژیم له منځه ولاړ ، نو له دې تغییر سره هم په افغانستان کې حالات سم نه شول او وضع ورځ په ورځ له بد نه بدتره شوه . د قدرت غوښتنې جګړې پیل شوې ، په دې حالت کې دې مؤسسې له ډیرو زیاتو مالي ستونزو سره سره خپلو هڅو ته ادامه ورکړه او ترننه پورې د افغانستان د خلکو د هیلو د ترسره کیدو په لاره کې خپلې مبارزې ته دوام ورکوي .

د روان هجري شمسي کال په سرته رسیدو سره د دې اتحادیې د فعالیت لس کاله پوره کیږي . د نړۍ په علمي مجامعو کې دا دود دی چې د دغسې اتحادیو او ټولنو دا ډول کلیزې ځانګړې کیږي . نو په همدې بنیاد آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې د رهبرۍ هیئت هم دا فیصله وکړه ، چې د دې ټولنې د تأسیس لسمه کالیزه د یوې غونډې په ترڅ کې وځانګړل شي .

د دغې کالیزې د ښې ځانګړنې په خاطر د نورو تیاریو ترڅنګه د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې مشر پروفیسور عبدالرسول امین دا تجویز وړاندې کړ ، چې تر ټولو د مخه باید د دې اتحادیې تاریخچه ولیکل شي او په دې تاریخچه کې باید :

۱ – د مؤسسې د جوړیدو پر تاریخ رڼا واچول شي او مؤسس غړي یې وښوول شي .

۲ – د مؤسسې د انکشاف مراحل څرګند شي .

۳ – چا چې له موږ سره مرسته کړې ده ، د هغوی یادونه وشي او دا ښکاره شي چې موږ د دې مرستو په مقابل کې خپلو خلکو ته کوم کارونه کړي دي ؟

٤ – د ټولنې په سیاسي ، اجتماعي او فرهنګي کارونو باید زموږ هیوادوال خبر شي .

٥ – هغو کسانو چې په بیلا بیلو وختونو کې په دې اتحادیه کې کار کړی دی ؛ خپله انرژي یې مصرف کړې ده ، د هغوی یادونه باید وشي او لږ شرح حال یې هم باید ولیکل شي .

دغو لوړو اهدافو ته په پاملرنه دې د آزاد افغانستان د لیکوالو اتحادیې پیژندنه او تاریخچه تکمیل شي . د دې کار سرته رسول ماته راوسپارل شول ، ما له خپلې وسې سم موجودو اسنادو او مدارکو

ته په پاملرنه د دې تاریخچې په لیکلو پیل وکړ .

تاریخچه په دریو فصلونو کې مرتب شوه او دا دې د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې د تأسیس د لسم کال په جشن کې ، د دې مؤسسې د سوغات په توګه تاسې ته وړاندې کیږي . د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې د دې تقریب په ویاړ ځینې شعري مجموعې هم د وفا اخبار له خانګې خپرې کړې دي .

زه چې اوس د دې مقدمې لیکل پای ته رسوم، لازمه بولم چې د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې له ښاغلي مشر پروفیسور عبدالرسول امین او د وفا د مؤسسې جرګې د غړي ښاغلي پروفیسور حکیم تنیوال نه د زړه له کومې مننه وکړم ، چې د دې ټولنې د تاریخچې د لیکلو او د معلوماتو د بشپړولو په برخه کې یې زما هر ډول پوښتنو ته په ورین تندي ځواب راکړی دی . دغه راز د افغانستان د لیکوالو ټولنې اداري مسؤول ښاغلي شاه محمد اکبر هم د ډیرې مننې وړ دی ، چې د دې تاریخچې لپاره یې د اسنادو په برابرولو کې زما مرسته کړې ده .

د وفا اخبار ګران کار کوونکی او زما غښتلي همکاران سید-حسین پاچا ، محمد ظاهر جان بابري او ښاغلی عبدالوکیل شینواری د ډیرې مننې وړ دي ، چې د تاریخچې د چاپ ته آماده کولو پروسه یې تسریع کړې ده . دغه رنګه ګران دوکتور فضل الرحیم مروت هم د ډیرې مننې وړ دی ، چې د کتاب Summary یې له پښتو نه انګریزی ته ترجمه کړې ده نور نو زه ستاسو او کتاب ترمنځ نه خنډ کیږم ، وې لولئ او خپل قضاوت پرې وکړئ .

په درناوی

مؤلف ز . هـ

۱۳۷۳ هـ ش چونګاښ